
وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ۝

دَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لمونځ

دَ حَنفِي فِقهِي دَ تَدوِين مُطابِق





تاليف

مناظر اسلام جامع المنقول و
المعقول شيخ القرآن و الحديث
حضرت العلامة ابو ابراهيم
رحيم الله الحقاني الأفغاني
دامت بركاتهم العالية

زیر اہتمام
اَهلِ السُّنَّة وَالجَماعَة العَالَمِی
ندیم ٹریڈ سنٹر محله جنگی قصه خوانی بازار پشاور

کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ د حنفي تدوین مطابق .

لیکوال: سلطان المناظرین الشیخ رحیم الله الحقاني الافغاني حفظه الله

کمپوز: اتل شهید طالب العلم ضیاء الرحمن مدني تقبله الله .

چاپ: اول وار.

د چاپ ځای: **اهل السنة والجماعة العالمي**

مسؤل اداره: مولوي هدایت الله بدر

دتر لاسه کولو ځای: ندیم مارکیټ محله جنګي قصه خواني پېښور

یادونه:

دشیخ القران والحدیث حضرت العلامه ابو ابراهیم رحیم الله الحقاني حفظه الله تعالی ټول تصانیف داهل السنة والجماعة العالمي اداري څخه تر لاسه کولی شئ.

مسؤل

مولوي هدایت الله (بدر)

۰۳٤٨-٤٣١٩٥٤١



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين قايد الجهاد والمجاهدين وعلى اله وصحبه اجمعين.

اما بعد: د حضرت ادم عليه السلام څخه تر رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې الله تعالى د انسان د هدايت لپاره دوه شيان راليږلي دي: (۱) وحې (۲) انبياء او رسولان د رسولانو وظيفه د وحې تشريح ده، الله تعالى فرمايلي دي:

لتبين للناس ما نزل اليهم.

نو حجت صرف وحې ده، الله تعالى حقيقي شارع دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم مجازي شارع دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ځان څخه هيڅ شی ته حلال او حرام نه دي ويلي، بلکې هر څه د الله تعالى له طرفه بيانوي، الله تعالى فرمايلي دي چې:

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحٰى

الله تعالى د وحې په ذريعه باندې درې قسمه احکام راليږلي دي:

اول: اعتقاديات

دوهم: منصوصي فروع

دريم اجتهاديات

اعتقاديات او منصوصي فروع واضح مسائل دي، تشريح او دقران اودسنت څخه استنباط ته ضرورت نلري، لهذا د اعتقادياتو او دمنصوصي فروعو په اثبات کې مجتهد ته ضرورت نشته او اجتهاديات دقران او دسنت د بيخ څخه استنباط او راويستلو ته ضرورت لري او دا استنباط د مجتهد کار دی، نو مجتهد مسائل نه جوړوي بلکې ظاهره وي يې، د اصول فقه علماوو فرمايلي دي

چې القياس مظهر لا مثبت ، لکه کوهي ويستونکی، چې دزمکې د بيخ څخه اوبه را وباسي، نو کوهي ويستونکي ته د اوبو پيدا کونکی نه وايي، بلکې د اوبو ظاهره ونکی ورته وايي ، همدارنګه مجتهد ته دمسايلو راپيدا کونکی نه وايي ،بلکې د مسائلو ظاهره ونکی ورته وايي.

نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په شمول امامانو مجتهدينو چې کوم اجتهادي مسايل بيان کړي دي، دا د الله تعالى او دالله د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مسايل دي امامانو ته يې نسبت صرف ددې له وجې کيږي چې د الله تعالى او د الله تعالى د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مراد يې ښکاره کړی دی، لکه دبخاري شريف احاديث چې درسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث دي ، لکن امام بخاري رحمه الله ته يې صرف له دې وجې نسبت کيږي چې امام بخاري رحمه الله يې تدوين کړی دی.

لکن د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيشګويي مطابق چې:

لعن اخر هذه الأمة اولها، دی

ددې أمت وروستنی خلک به په مخکنيو باندې لعنت وايي.

داسې خلک پيدا شوي دي چې په امامانو خصوصاً په امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله باندې تهمت لګوي چې (معاذ الله) دقران او د حديث په خلاف يې مسايل بيان کړي دي، خصوصاً د لمانځه په باره کې د حنفي تدوين مطابق دنبوي لمونځ پورې استهزاء کوي، مونږ به د الله تعالى په توفيق سره په دې مختصره رساله کې دا ثابته کړو چې دحنفي تدوين مطابق دغه نبوي لمونځ په صحيحو احاديثو ثابت دی او ددې په مقابله کې نورې طريقې مرجوحې دي.

العبد الاحقر:

رحيم الله الحقاني الافغاني

د لمونځ اهمیت

قال الله تعالی: اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡكَرِ

بېشکه چې لمونځ منعه کوي (لمونځ کونکی) له بې حیایۍ او بد کار څخه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې:

بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ

داسلام پنځه بناوې دي:

اول: دا شاهدي ویل چې الله تعالی یو دی او محمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی رسول دی، دوهم: لمونځ سم ادا کول. دریم: ذکوة ورکول. څلورم: حج کول. پنځم: روژه نیول.

د اذان کلمات پنځلس دي:

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوسًا فِي يَدِهِ، فَقُلْتُ: يَا عَبْدَ اللَّهِ أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ؟ قَالَ: وَمَا تَصْنَعُ بِهِ؟ فَقُلْتُ: نَدْعُو بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكَ؟ فَقُلْتُ لَهُ: بَلَى، قَالَ: فَقَالَ: تَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ( )[1]

عبدالله ابن زید رضی الله عنه فرمایلي دي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ ته دخلکو د راغوندولو لپاره دناقوس دغږولو حکم وکړو، نو ما په خوب

---

[1] سنن ابی داود ج ۱ ص ۷۹، باب کیف الاذان.

کې یو سړی ولیدلو چې ناقوس ورسره وو، ما هغه ته وویل چې ای د الله بنده ایا دا ناقوس خرڅوې؟ هغه راته وویل چې په ناقوس څه کوې، ما ورته وویل چې په دې باندې د لمانځه لپاره خلک را بولم، نو هغه راته وویل چې ایا ددې څخه بهترې کلمې درته ونه ښایم؟، ما ورته وویل چې وې ښایه، نو هغه راته وویل چې داسې ووایه:

اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

نو کله چې سهار د خوب څخه را پاڅیدم، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم او څه مې چې په خوب کې لیدلي وو هغه مې ورته واورول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل چې: دا خوب حق دی، ته د بلال سره ودریږه او کومې کلمې چې دې لیدلي دي هغه ورته وښایه، بلال به هغه کلمې د اذان په طرز وایي، ځکه چې د هغه اواز ستا څخه اوچت دی، زه د حضرت بلال رضی الله عنه سره ودریدم او هغه ته مې کلمې ښودلې او هغه اذان کولو، حضرت عمر رضی الله عنه دا اواز په کور کې واوریدلو، نو څادر یې په ځان پسې راکاږلو او په منډه راغلو، عرض یې وکړو چې یا رسول الله! په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته یې په حقه رالیږلی یې ما هم په خوب کې همداسې کلمات لیدلي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: ثنا او صفت د الله تعالی لپاره دی.

داقامت کلمات اوولس دي:

اقامت د اذان په شان دی، صرف دوه ځلې قد قامت الصلوة په کې زیات دی.

(١) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى رحمة الله عليه، قَالَ: حَدَّثَنَا أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ الْأَنْصَارِيَّ رضي الله عنه جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَجُلًا قَامَ وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ عَلَى جِذْمَةِ حَائِطٍ، فَأَذَّنَ مَثْنَى، وَأَقَامَ مَثْنَى». ([1])

حضرت عبدالله ابن زید رضی الله عنه فرمایلي دي چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو ورته وې فرمایل چې یا رسول الله ما په خوب کې د دوو شنو څادرونو والا ولیدل چې په دېوال یې اذان او اقامت وفرمایلو، د دواړو کلمات یې دوه دوه ځلې ولوستل.

(٢) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى رحمة الله عليه قَالَ: أَخْبَرَنِي أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ الْأَنْصَارِيَّ رضي الله عنه رَأَى فِي الْمَنَامِ الْأَذَانَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ: «عَلِّمْهُ بِلَالًا رضي الله عنه» فَأَذَّنَ مَثْنَى مَثْنَى، وَأَقَامَ مَثْنَى مَثْنَى. ([2])

حضرت عبدالله ابن زید الانصاري رضی الله عنه په خوب کې اذان ولیدلو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او خپل خوب حال یې ورته وویل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې هغه کلمات بلال رضی الله عنه ته وښایه، نو حضرت بلال رضی الله عنه اذان وکړو او بیا یې اقامت وکړو، د اذان او اقامت کلمات یې دوه دوه ځلې ولوستل

[1] -[مصنف ابن ابي شيبة ج١/ ص٢٠٣].

[2] -[طحاوي ص٩٣].

(٣) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: «كَانَ أَذَانُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَفْعًا شَفْعًا فِي الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ»[1]

حضرت عبد الله بن زيد ﷺ فرمايي چې د رسول الله ﷺ د اذان او د اقامت کلمات دوه دوه ځله لوستل کيدل.

د اذان او اقامت طريقه:

عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالٍ: «يَا بِلَالُ، إِذَا أَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ فِي أَذَانِكَ، وَإِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ»[2]

حضرت جابر رضى الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت بلال ته وويل چې اى بلاله د اذان کلمات په ورو ورو وايه او د اقامت کلمات زر زر لوله.

يعنې د اذان کلمات په دوه دوه ساګانو او د اقامت په يوه ساه باندې لوله، د اذان کلمات داسې لوله:

الله اکبر الله اکبر	الله اکبر الله اکبر
اشهد ان لااله الاالله	اشهد ان لااله الاالله
اشهد ان محمدرسول الله	اشهد ان محمدرسول الله
حى على الصلوة	حى على الصلوة
حى على الفلاح	حى على الفلاح
الله اکبر	الله اکبر

[1] (رواه الترمذي ج ا ص ٢٧. باب ما جاء ان الاقامت مثنى مثنى)

[2] (رواه الترمذي، ج ا ص ٤٨، باب ما جاء في الترسل في الاذان)

لااله الاالله

او داقامت کلمات په یوه یوه ساه باندې داسې لوله:

الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر
اشهدان لااله الاالله اشهدان لااله الاالله
اشهد ان محمدرسول الله اشهد ان محمدرسول الله
حي علی الصلوة حي علی الصلوة
حي علی الفلاح حي علی الفلاح
الله اکبر الله اکبر
لااله الاالله

په کوم حدیث کې چې راغلي چې د اقامت کلمات یو یو ځلې وو، نو دهغو احادیثو همدا معنی ده چې د اقامت کلمات په یوه یوه ساه لوستلی کیدل

د جمعې د لمانځه لپاره دوه اذانه سنت دي

۱- عن السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ رضي الله عنه، يَقُولُ: «إِنَّ الأَذَانَ يَوْمَ الجُمُعَةِ كَانَ أَوَّلُهُ حِينَ يَجْلِسُ الإِمَامُ، يَوْمَ الجُمُعَةِ عَلَى المِنْبَرِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَلَمَّا كَانَ فِي خِلاَفَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وَكَثُرُوا، أَمَرَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَوْمَ الجُمُعَةِ بِالأَذَانِ الثَّالِثِ، فَأُذِّنَ بِهِ عَلَى الزَّوْرَاءِ، فَثَبَتَ الأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ».(۱)

حضرت سایب بن یزید رضي الله عنه فرمایي چې: د رسول الله ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه او د عمر رضي الله عنه په زمانه کې به اذان په هغه وخت کې کیدلو کله به چې امام په ممبر

۱-ابخاری ج۱/ ص۱۲۵، وابوداؤد ج۱/ ص۱۵۵، ونسائی ج۱/ ص۱۵۶.

باندې کيناستلو، بيا د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه راغله او خلک زيات شول، نو حضرت عثمان ددريم اذان (د جمعې اول اذان) حکم وکړو نو په زوراء مقام کې دا اذان وشو او بيا دا يو مستقل سنت شول.

ددې اذان مخالفت هيڅ صحابي، هيڅ تابعي، هيڅ تبع تابعي او هيڅ مجتهد نه دی کړی، بلکې د انګريزانو د دورې څخه مخکې هيڅ مسلمان نه دی کړی او درسول الله ﷺ ددې حکم په موجودګۍ کې به يې څرنګه مخالفت کوي چې عليکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين؟ ددې حديث مطابق دا اذان سنت دی، دا اذان په زوراء کې کيدلو، بيا په مسجد کې شروع شو، دعهد عثمان څخه تر ننه پورې په مکه او په مدينه کې د مسجد په داخل کې کيږي او ترننه پورې ددې غير مقلدينو د نجسې دلې څخه بغير هيچا پرې اعتراض نه دی کړی.

لامذهبان ددې صحابه وو دې سنت ته بدعت وايي لامذهبه محمد جو ناګهړ وغيره لامذهبان ليکي چې: پس هماری زمانی مين مسجد مين جودو اذانين هوتی هين وه صريح بدعت هين او کيسی طريح جايز نهين.(۱)

بعضې غير مقلدين جوابونه کوي چې ددې اذان دپاره علت داوو چې خلک ډير شول او يو آذان ورته نه کافي کيږي، اوس خو لاسپيکر شته نو دې اذان ته ضرورت نشته.

قلنا: چې که داسې علل تاسو راوباسئ نو بيا به يو کمونست پنځه وخته اذان ته هم چوټي ورکړي، ځکه چې دلته به هم علت راوباسي چې پنځه وخته اذان ددې دپاره کيدلو چې خلکو ته دمانځه وختونه معلوم شي اوس خو ساعتونه دهر چا سره شته او

۱-[فتاوی ستاريه ج۳/ص۸۵ فتاوی علماء حديث ج۲/ ص۱۷۹].

هر چا ته د مانځه وخت معلوميږي، لهذا اوس پنځه وخته اذان ته ضرورت نشته، او يا يو کمونست وايي چې روژه د اقتصادي کمزورۍ له وجې نيول کېده نو اوس اقتصادي کمزوري له مينځه تللې نو روژې ته هم ضرورت نشته. آيا دا استدلال به يې صحيح وي؟.

هر لمونځ په خپل وخت کې کول فرض دي:

په يو وخت کې د دوو لمونځونو يو ځای کول (جمع بين الصلاتين) ناجايز دي

(۱) قران: إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا (۱)

بيشکه چې لمونځ دی پر مومنانو باندې فرض کړی شوی په معلوم اوقاتو کې. کله چې لمونځ په معلوم وقت کې فرض شو او د وقت څخه مخکې فرض ندی نو اداء به يې څرنګه د وقت څخه مخکې جايزه شي؟ لکه يو سړی چې فرضي حج په خپل وخت کې نکوي، بلکې د رمضان په مياشت کې يې وکړي، نو دده حج بالکل نه کيږي، يا لکه د رمضان شريف د روژو لپاره الله ﷻ وقت مقرر کړی دی، لکن که څوک د معينې مياشتې د راتلو څخه د رې مياشتې مخکې روژې ونيسي، نو فرض يې نه اداکيږي، يا لکه يو څوک چې د جمعې د ورځې لمونځ د چهارشنبې په ورځ وکړي، نو د جمعې لمونځ يې نه اداکيږي، همدا رنګې څوک چې د مرګ څخه مخکې جنازه وکړي، همدا رنګې د وخت څخه مخکې لمونځ فرض ندی نو څرنګه به اداء شي؟ امام ابوداود فرمائي چې: (ليس في جمع التقديم حديث قايم). د وخت څخه مخکې د لمانځه د اداء کولو لپاره هيڅ صحيح حديث نشته.

۱-(النساء ايت ۱۰۳)

(۲) الله ﷻ فرمائي:

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى

ساتنه کوئ تاسې پر ټولو لمونځونو او خصوصاً په لمانځه منځني (چې مازيگر دی) يعني هر لمونځ خپل وقت کې کوئ.

(۳) الله ﷻ فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا.

پس پيدا شول پس له دوي څخه داسې بد خليفګان چې ضايع کړو دوي لمونځ او متابعت وکړو دوی د شهواتو، پس ژر به يو خای شي دوي له بد عاقبت سره.

فائده: بې وخته لمونځ کول هم د لمونځ ضايع کول دي.

(٤) الله ﷻ فرمائي:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ.

پس تباهي ده د پاره د لمونځ کونکو هغو چې دوي له لمانځه خپله غافله وي (پخپلو او قاتو او ادابو سره يې نه ادا کوي).

نو هغه څوک چې د ماسپښين د لمانځه څخه غافله وي او په مازديګر کې د ماسپښين او د مازديګر دواړو لمونځونه وکړي (جمع التاخير وکړي) او د ماښام د لمانځه څخه غافله وي او په ماخوستن کې يې وکړي (جمع التاخير وکړي) نو هغه هم د دې ايت مصداق دی.

(۱) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ؛ قَالَ: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً بِغَيْرِ مِيقَاتِهَا، إِلَّا صَلَاتَيْنِ: جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، وَصَلَّى الْفَجْرَ قَبْلَ مِيقَاتِهَا. (۱)

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائي چې ما هيڅکله رسول الله ﷺ ندی ليدلی چې بې وقته لمونځ يې کړی وي، مګر دوه لمونځونه، د ماښام او ماخوستن د حج په موقع کې او په دغه ورځ يې د سهار لمونځ د خپل معتاد وقت څخه مخکې وکړو.

(۲) وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ، إِنَّمَا التَّفْرِيطُ عَلَى مَنْ لَمْ يُصَلِّ الصَّلَاةَ حَتَّى يَجِيءَ وَقْتُ الصَّلَاةِ الْأُخْرَى (۲)

په طحاوی کې الفاظ داسې دي چې:

«لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقْظَةِ أَنْ تُؤَخِّرَ صَلَاةً حَتَّى يَدْخُلَ وَقْتُ أُخْرَى». (۳)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې په خوب کې تفريط يعني قصور نشته، تفريط په ويښه کې دی چې يو سړی لمونځ نکوي تردې چې د بل لمانځه وخت راشي.

(۳) امام محمد رحمه الله فرمائي چې ماته د ثقه راويانو په ذريعه خبر رارسيدلي دی چې حضرت عمر ﷺ ټولو اسلامي علاقو ته خطونه وليګل او خلک يې د جمع بين الصلوتين څخه منع کړه او وی ليکل چې په يو وقت کې دوه لمونځونه کول ګناه کبيره ده. (۴)

۱- متفق عليه بخاری. ج ۱ ص ۲۲۸) کتاب المناسک مسلم. ج ۱ ص ۴۱۸ کتاب الحج.
۲- مسلم شريف ج/۱ ص/۲۳۹.
۳- طحاوي باب الجمع بين الصلوتين ج/۱ ص/۱۱۴.
۴- مؤطا امام محمد ص ۱۳۲ باب الجمع بين الصلوتين.

فائدة: په کومو احاديثو کې چې دا راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماسپښين او د ماز ديګر لمونځونه يو ځای وکړل، همدا رنګه يې د ماښام او ماخوستن لمونځونه يو ځای وکړل، نو د هغې څخه حقيقي يو ځای کول مراد نه دي، بلکې صوري يو ځای کول ترې مراد دي.

(۱) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَعْجَلَهُ السَّيْرُ فِي السَّفَرِ يُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ حَتَّى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ قَالَ سَالِمٌ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَفْعَلُهُ إِذَا أَعْجَلَهُ السَّيْرُ(۱)

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ وليد لو چې کله به يې په سفر کې تلوارو، نو د ماښام لمونځ به يې وروسته کولو تر دې چې د ماخوستن د لمونځ سره به يې يو ځای کړو، حضرت سالم ﷺ فرمائي چې حضرت عبد الله بن عمر ﷺ به هم همداسې کول، چې کله به يې په سفر کې تلوارو نو اقامت به يې د ماښام وکړو بيا به يې درې رکعته لمونځ وکړو د سلام څخه وروسته به يې لږ انتظار وکړو او د ماخوستن لمونځ به يې وکړو... الخ.

په دې حديث کې تصريح شوی ده چې حضرت عبد الله بن عمر ﷺ به د ماښام د لمانځه څخه د فارغيدلو څخه وروسته لږ انتظار کولو او د هغې څخه وروسته به يې د ماخوستن لمونځ کولو او د دې انتظار بله وجه نشي کيدی سوی د دينه چې هغه د ماخوستن د وخت د داخليدو يقيني کيدل غوښتل، حافظ ابن حجر اقرار کړی دی چې دا حديث د جمع صوري دليل دی (۲).

۱- بخاری، ج ۱ ص ۱۴۹ ابواب تقصير الصلوة.

۲- (فتح الباری، ج ۲ ص ۴۶۵.

(۲) عَنْ نَافِعٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَاقِدٍ، أَنَّ مُؤَذِّنَ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: الصَّلَاةُ، قَالَ: سِرْ سِرْ، حَتَّى إِذَا كَانَ قَبْلَ غُيُوبِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ انْتَظَرَ حَتَّى غَابَ الشَّفَقُ وَصَلَّى الْعِشَاءَ، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَجِلَ بِهِ أَمْرٌ، صَنَعَ مِثْلَ الَّذِي صَنَعْتُ»(۱)

د نافع رحمه الله عن عبد الله بن واقد رحمه الله په طریقې سره روایت دی چې د عبد الله بن عمر رضی الله عنه مؤذن وفرمایل چې د ماښام د لمانځه وخت دی، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل ځه ځه (سِرسِر) تردې چې نزدې شو غروب د شفق (اخر وخت د ماښام شو) نو را کوز شو او د ماښام لمونځ یې وکړو، بیا یې انتظار وکړو تردې چې شفق زایل شو (ماخوستن داخل شو) نو د ماخوستن لمونځ یې وکړو، بیا یې وفرمایل چې د رسول الله ﷺ به کله تلوار وو نو کول به یې داسې لکه ما چې وکړل.

ابو داود شریف نه یو ائې دا چې په دې حدیث باندې سکوت کړی دی بلکې د دې یو متابع یې هم ذکر کړی دی چې الفاظ یې دا دي: (عن عبدالله بـن العلاء عن نافع قال حتي اذاكان عند ذهاب الشفق نـزل فجمع بينهمـا) او امام دار قطني دا روایت په بې شمیره طریقو ذکر کړی دی او سکوت یې پرې کړی دی.(۲)

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ بِالْمَدِينَةِ ثَمَانِيًا جَمِيعًا وَسَبْعًا جَمِيعًا أَخَّرَ الظُّهْرَ وَعَجَّلَ الْعَصْرَ وَأَخَّرَ الْمَغْرِبَ وَعَجَّلَ الْعِشَاءَ(۳)

۱-(ابو داود ج ۱ ص ۱۷۱) باب الجمع بین الصلوتین)
۲-(ج ۱ ص ۳۹۳).
۳-(سنن النسائی ۵۸۹ المواقیت باب ۴۴

دابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی فرمائي چې ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړو اته رکعته يو ځای (د ماسپښين او ماز يګر څلور څلور رکعته) او اوه رکعته يو ځای (د ماښام دري رکعته او د ماخوستن څلور رکعته) رسول الله ﷺ د ماسپښين لمونځ وروسته کړو خپل اخر وخت ته او د ماز يګر لمونځ يې رامخکې کړو خپل اول وخت ته او د ماښام لمونځ يې وروسته کړو خپل اخر وخت ته او د ماخوستن لمونځ يې رامخکې کړو خپل اول وخت ته.

د سهر دلمانځه لپاره مستحب وخت:

د سهر لمانځه لپاره مستحب وخت رڼايي ده.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَسْفِرُوا بِالفَجْرِ، فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلأَجْرِ»(۱)

حضرت رافع ابن خديج رضی الله عنه څخه روايت دی چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې د سهر لمونځ بنه په رڼا کې کوئ، ځکه چې په دې ثواب زيات دی.

عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ أَسْفِرْ بِصَلٰوةِ الصُّبْحِ حَتّٰى يَرَ الْقَوْمُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِمْ (۲)

د حضرت رافع ابن خديج رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت بلال ته وفرمايل چې د سهر لمونځ په رڼا کې کوه، په دومره رڼا کې چې خلک د خپلو غشو د لګيدلو ځايونه ويني.

۱- رواه الترمذی، ج۱ص۴۰، باب ما جاء فی الاسفار بالفجر

۲- (مسند ابی داود الطیالسی، ج۱ص۵۱۱، رقم الحدیث ۱۰۰۱)

د ماسپښين د لمانځه لپاره په ګرمۍ کې مستحب وخت:

د ماسپښين د لمانځه لپاره په ګرمۍ کې مستحب وخت د هوا تر یخیدلو پورې وروسته کول دي.

په ترمذي کې دابو ذر ﷺ روایت دی چې:

أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ وَمَعَهُ بِلَالٌ رضي الله عنه، فَأَرَادَ أَنْ يُقِيمَ، فَقَالَ: أَبْرِدْ، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبْرِدْ فِي الظُّهْرِ، قَالَ: حَتَّى رَأَيْنَا فَيْءَ التُّلُولِ، ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ، فَأَبْرِدُوا عَنِ الصَّلَاةِ.)(۱)

رسول الله ﷺ په سفر کې وو او درسول الله ﷺ سره حضرت بلال هم وو حضرت بلال اراده داقامة وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل یخني کړه (یخنۍ کې اقامة وکړه) بیا حضرت بلال ﷺ اراده داقامة وکړه، بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمایل چې په ماسپخین کې یخني کړه، راوي فرمایې تردې چې مونږ دغونډیو سوري ولیدل، بیا حضرت بلال ﷺ اقامت وکړو، بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمائل چې بیشکه شدة دګرمۍ د جهنم دېراس څخه دی نو یخني راوله دلمانځه څخه)

پدي حدیث کې دفيئ التلول ذکر دی (دغونډیو د سوري) اودعربو غونډۍ پلنې او خورې دي، دهغوی سوري دنورو شیانو دمثل اول څخه بعد ښه ناوخته ښکاره کیږي اودغونډۍ په مقدار کیږي څوک چې هلته اوسیدلی وي، هغه به مشاهده کړې وي، او دچا چې تردد وي هغه دې په مشاهده باندې خپل شک زایل کړي.

۱- ترمذي: باب ماجآء في تاخير الظهر في شدة الحر بخاري ج۱ صفحه ۷۶-۷۷.

(۴) په بخاري ص ۸۷ و ص ۸۸ کې روایت دی چې:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَأَرَادَ المُؤَذِّنُ أَنْ يُؤَذِّنَ، فَقَالَ لَهُ: «أَبْرِدْ»، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ، فَقَالَ لَهُ: «أَبْرِدْ»، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ، فَقَالَ لَهُ: «أَبْرِدْ» حَتَّى سَاوَى الظِّلُّ التُّلُولَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ شِدَّةَ الحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ»(١)

دا روایت د مخکیني روایت په نسبت ډېر ظاهر دی ځکه چې پدې روایت کې داسې راغلي دي چې کله چې دغونډیو سوري دغونډیو سره برابر شول نو نبي ﷺ بیا داذان اجازه ورکړه هلته دغونډیو سوري په هغه وخت کې دغونډیو سره برابرېږي چې داشیاؤ منتصبه وو سوري دیو مثل څخه اوښتي وي نو چې په دې وخت کې د أذان اجازت ورکړل شو نو مونځ خو لږ وروسته کیږي، نو ضرورةً دماسپښین مونځ دمثل اول دختمیدلو څخه سنةً وروسته شوي دي.

د ماسپښین د لمانځه لپاره په ژمي کې مستحب وخت:

د ماسپښین د لمانځه لپاره په ژمي کې اول وخت مستحب دی.

عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا كَانَ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ وَإِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ(٢)

حضرت انس رضی الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په اوړي کې د ماسپښین لمونځ په یخ وخت کې ادا کولو او په یخنۍ کې به یې وختي اداء کولو.

١- بخاري ص ٨٧ و ص ٨٨

٢- (سنن نسائي ج ١ ص ٨٧، باب تعجيل الظهر في البرد)

د مازدیگر د لمانځه لپاره مستحب وخت:

د مازدیگر د لمونځ وروسته کول مستحب دي، خو دومره وروسته کول یې نه دي جایز چې لمر زیړ شي.

(۱) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَعْجِيلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ، وَأَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ (۱)

ام المؤمنین ام سلمة رضي الله عنها فرمایي چې رسول الله ﷺ د ظهر لمونځ ستاسو څخه مخکې کولو او تاسو د عصر لمونځ د انحضرت ﷺ څخه مخکې کوئ.

(۲) عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَأْمُرُهُمْ بِتَأْخِيرِ الْعَصْرِ (۲)

د رافع بن خدیج رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به دوي ته امر کولو په وروسته کولو د لمانځه د ماذیگر

(۳) عَنِ الْأَعْمَشِ رضي الله عنه قَالَ: «كَانَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه يُعَجِّلُونَ الظُّهْرَ، وَيُؤَخِّرُونَ الْعَصْرَ. (۳)

د حضرت اعمش رضي الله عنه څخه روایت دی چې د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ملګرو او شاګردانو به د ظهر لمونځ مخکې کولو او د عصر لمونځ به یې وروسته کولو.

(٤) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ كَانَ يُؤَخِّرُ الْعَصْرَ حَتّٰى أَقُوْلَ: قَدِ اصْفَرَّتِ الشَّمْسُ (۴)

۱-(ترمذي صفحه ۵۱) (مسند احمد صفحه ۲۸۹ ج ۶) مشکاة ج ۱ ص ۶۲
۲-(بیهقي صفحه ۴۴۳ وهامشه الجوهر النقی صفحه ۴۴۱ ج ۱)
۳-(مصنف عبد الرازق ج ۱ صفحه ۵۴۰)
۴-(مصنف ابن ابي شیبه صفحه ۳۲۷ ج ۱)

حضرت سوار بن شیب رضي الله عنه فرمايي چې: ابو هريرة رضي الله عنه به د ماذيګر لمونځ دومره وروسته کولو چې ما به ګمان کاوه چې لمر زيړ شو (يعني زيړوالي ته نژدي شو)

(٥) عن عَلِيّ بْنِ شَيْبَانَ رضي الله عنه قَالَ: «قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَصْرَ مَادَامَتِ الشَّمْسُ بَيْضَاءَ نَقِيَّةً». (١)

علي بن شيبان رضي الله عنه فرمايي چې زه په مديني منورې کې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم نو رسول الله ﷺ به د ماذيګر لمونځ وروسته کولو تر څو به چې لمر سپين اوصاف وو (د اصفرار څخه مخکې به يې کولو).

(٦) عَنْ إِبْرَاهِيمَ رحمه الله قَالَ: «كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ أَشَدَّ تَعْجِيلًا لِلظُّهْرِ، وَأَشَدَّ تَأْخِيرًا لِلْعَصْرِ مِنْكُمْ» (٢)

ابراهيم نخعی رحمه الله فرمايي چې ستاسو څخه مخکې خلکو د ظهر لمونځ ستاسو په نسبت مخکې کولو او د عصر لمونځ به يې ستاسو په نسبت وروسته کولو نور يو څو دلايل د دوهم قسم رواياتو لاندې ليکل شوي دي.

د ماښام د لمانځه لپاره مستحب وخت:

د ماښام لمونځ د اسمان په کنارو کې د سپين والي تر غائبيدو پورې جايز دی، لکن مستحب دا دی چې په اول وخت کې ادا شي.

عَنْ سَلَمَةَ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَغْرِبَ إِذَا تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ (٣)

د حضرت سلمه رضی الله عنه څخه روايت دی چې مونږ به د لمر د ډوبيدلو سره سم د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د ماښام لمونځ کولو.

١-(ابو داؤد صفحه ٥٩ ج ١ ابن ماجه صفحه ٤٨)

٢-(مصنف عبد الرزاق ج ا صفحه ٥٤٠)

٣-(رواه البخاري، ج ا ص ٧٩، باب وقت المغرب)

د ماخوستن د لمونځ لپاره مستحب وخت:

د ماخوستن لمونځ د شپې په نيمايي يا په دريمه حصه کې اداء کول مستحب دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُؤَخِّرُوا العِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ»(۱)

د حضرت ابى هريرة رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې که زما سره د امت د مشقت ويره نه واى نو ما به دوي ته حکم کړى واى چې د ماخوستن لمونځ د شپې تر دريمې حصې پورې او يا تر نيمې شپې پورې وروسته کړئ.

وقت الجمعة هو وقت الظهر (د جمعې د مانځه وقت ماسپښين دى)

۱- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الجُمُعَةَ حِينَ تَمِيلُ الشَّمْسُ».(۲)

رسول الله ﷺ به د جمعې مونځ د زوال څخه وروسته کولو.

۲- عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه، قَالَ: «كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ نَرْجِعُ نَتَتَبَّعُ الْفَيْءَ».(۳)

حضرت سلمة بن الاكوع رضي الله عنه فرمايي چې: مونږ به د جمعې مونځ د زوال څخه وروسته کولو.

۳- عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه كَانَ رَسُوْلُ اللَّهِ ﷺ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الْجُمُعَةَ.(۴)

۱-(رواه الترمذى، ج۱ص۴۲، باب ماجاء فى تأخير العشاء الاخره)

۲-[بخارى ج۱/ ص۱۲۳].

۳-[مسلم ج۱/ ص۲۸۳].

۴-[معجم طبرانى الاوسط بحواله التلخيص الحبير ج۱/ ص۵۹].

رسول الله ﷺ به د جمعې مونځ په هغه وخت کې کولو کله به چې زوال وشو.

٤- عن مالك بن ابى عامر رضي الله عنه أنه قَالَ: «كُنْتُ أَرَى طِنْفَسَةً لِعَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه يَوْمَ الْجُمُعَةِ تُطْرَحُ إِلَى جِدَارِ الْمَسْجِدِ الْغَرْبِيِّ، فَإِذَا غَشِيَ الطِّنْفَسَةَ كُلَّهَا ظِلُّ الْجِدَارِ خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه إِلَى الصَّلَاةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ نَرْجِعُ، فَنُقِيلُ قَايِلَةَ الضَّحَاءِ». (١)

حضرت مالک بن أبی عامر فرمايي چې: د حضرت عقيل بن ابی طالب څادر به مغربي ديوال ته پروت وو نو ما به ليدل چې کله به دا څادر د ديوال په سوری کې پټ شو نو حضرت عمر رضي الله عنه به راووتلو او د جمعې مونځ به يې وکړو، بيا به مونږ د جمعې د مانځه څخه وروسته واپس کيدلو او د غرمې قيلوله به مو کوله.

٥- عَنْ أَبِي الْقَيْسِ عَمْرِو بْنِ مَرْوَانَ، عَنْ أَبِيهِ رحمهما الله، قَالَ: «كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ عَلِيٍّ رضي الله عنه، إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ». (٢)

مروان فرمايي چې: مونږ به د علي رضي الله عنه سره د جمعې مونځ د زوال په وخت کې کولو.

٦- سِمَاكٍ رحمه الله، قَالَ: «كَانَ النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ رضي الله عنه يُصَلِّي الْجُمُعَةَ بَعْدَمَا تَزُولُ الشَّمْسُ»(٣)

نعمان بن بشير رضي الله عنه به د جمعې مونځ د زوال څخه وروسته کولو.

٧- عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ الْعَيْزَارِ رحمه الله، قَالَ: «مَا رَأَيْتُ إِمَامًا كَانَ أَحْسَنَ صَلَاةً لِلْجُمُعَةِ مِنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ رضي الله عنه، كَانَ يُصَلِّيهَا إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ». (۴).

۱-[موطأ امام مالک ص۶].
۲-[مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۰۸].
۳-[مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۰۸].
۴-[مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۰۹].

وليد بن عيزار رحمة الله عليه فرمايي چې ما هيڅ امام ندی ليدلی چې بنايسته مونځ يې کړی وی د عمرو بن حريث رضي الله عنه څخه، دی رضي الله عنه، به د جمعې مونځ د زوال په وخت کې کولو.

۸- عَنِ الْحَسَنِ رحمة الله عليه، قَالَ: «وَقْتُ الْجُمُعَةِ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ». (۱)

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمايي چې: د جمعې د مانځه وقت د لمر د زايليدو وخت دی.

۹- عَنْ إِبْرَاهِيمَ رحمة الله عليه، قَالَ: «وَقْتُ الْجُمُعَةِ وَقْتُ الظُّهْرِ». (۲)

ابراهيم نخعي رحمة الله عليه فرمايي چې د جمعې د مانځه وخت د ماسپښين وخت دی.

۱۰- امام بخاری رحمة الله عليه د جمعې د وخت لپاره داسې باب لګولی دی چې: باب وقت الجمعة اذا زالت الشمس وکذلک عن عمرو رضي الله عنه وعلی رضي الله عنه والنعمان بن بشير رضي الله عنه وعمرو بن حريث رضي الله عنه. (۳)

د دې احاديثو او اثارو څخه معلومه شوه چې د زوال څخه مخکې د جمعې مونځ نه کيږي، لکن د دې ټولو احاديثو او اثارو په خلاف غيرمقلدين د دين د ښمنان ليکي چې د جمعې مونځ د زوال څخه مخکې هم صحيح دی. (۴)

۱- [مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۰۸].

۲- [مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۰۹].

۳- [بخاری ج۱/ ص۱۲۳].

۴- الروضة الندية ج۱/ ص۱۳۷] ونزل الابرار ج۱/ ص۱۵۲].

په محبسونو کې دجمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې اداکول مکروه تحريمي دي

دپلچرخې په صليبي محبس کې ځينې غيرمقلدينو دجمعې په ورځ دماسپښين لمونځ په جماعت باندې کولو په فقه باندې به يې اعتراض کولو اوپه دې کې يې هم مسلمانان دشر څخه محفوظ نه وو.

صاحب دهدايې فرمايي: ويكره ان يصلي المعذورون الظهر بجماعة يوم الجمعة في المصر وكذا اهل السجن) دبنديانو لپاره په داسې ځاى کې چې هلته دجمعې لمونځ کيږي دماسپښين لمونځ په جماعت باندې مکروه دی.(۱)

الامام الكاساني رحمه الله فرمايي: تكره صلوة الظهر يوم الجمعة بجماعة في سجن اوغير سجن.(۲) يعنې دجمعې په ورځ دماسپښين لمونځ په جماعت باندې مکروه دی بنديانو اوغير بنديانو دواړو ته او بيا فرمايي چې.

(۱) هكذا روي عن علي رضي الله عنه: يعنې دحضرت علي رضي الله عنه څخه همداسې روايت دی چې بنديانو اوغير بنديانو ته دجمعې په ورځ دماسپښين لمونځ په جماعت باندې مکروه دی.

(۲) حدثناعبدالسلام بن حرب عن القاسم بن الوليد قال: قال علي رضي الله عنه لاجماعة يوم الجمعة الامع الامام. رواه ابوبكربن ابي شيبه في مصنفه.(۳)

۱- هداية ج۱ ص ۱۸۰ باب صلوة الجمعة

۲-(بدايع الصنايع ج۱ ص ۶۰۵ مايستحب يوم الجمعة)

۳- اعلاء السنن حديث نمبر۲۰۶۱)

(۳) عن علي رضي الله عنه قال : لايجمع القوم الظهريوم الجمعة في موضع يجب عليهم فيه شهود الجمعة صاحب د کنزالعمال فرمايي چې : وقـد تاييـد بمرسـل القاسـم فحصل للمجموع قوة.(۱)

علامه کاسانی فرمايي چې:

(۴) وهکذا جري التوارث باغلاق ابواب المسـاجدفي وقـت الظهـر يـوم الجمعة .(۲)

يعنې د صحابه وو ، تابعينو ، او تبع تابعينو څخه شروع تر ننه پورې به د جمعې په ورځ دوړو مساجدو دروازې بنديدلې ، دماسپښين په وخت کې په ټول دور صديقي کې د يو صحابي نوم هم په کوم مستند کتاب کې نه شته چې هغه دې د جمعې په ورځ په محبس يا غير محبس کې د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې کړی وي، په ټول دور عمري رضي الله عنه کې د هيڅ صحابي يا تابعي نوم په کوم مستند کتاب کې نه شته چې هغه دی د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې کړی وي .

په هيڅ کوم مستند کتاب کې نه دي راغلي چې په ټول دور عثماني او دور علوي کې دې کوم بندي يا غير بندي د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې کړی وي بلکې د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې د بنديانو لپاره په محبس کې د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې مکروه دي .(۳)

۱-[کنزال مال ،ج ٤ص ٢٨٤ واعلاء السنن ،ج ٥ص ٤١٢٣ / حديث نمبر٢٠٦٢/ بدايع الصنايع ج١ص ٦٠٥].

۲-(بدايع الصنايع ج١ ٦٠٥)

۳-(بدايع الصنايع ج ١ ص ٦٠٥ باب مايستحب يوم الجمعة)

(۳) وَلِأَنَّ سَاكِنَ الْمِصْرِ مَأْمُوْرٌ فِيْ هٰذَا الْوَقْتِ بِشَيْئَيْنِ بِتَرْكِ الْجَمَاعَاتِ وَحُضُوْرُ الْجُمُعَةِ.(۱)

يعني د ښار او سيدونکي (بنديان وي او که غير بنديان وي) په دغه ورځ ورته دوه امره دي.

اول : دا چې نور جماعاتونه پريږدي .

دوهم : دا چې (فاسعوا الى ذكر الله) د جمعې لمانځه ته حاضر شي او بنديان او نور معذورين که دوهم کار نه شي کولی اول خو کولی شي، له دې وجې پر دوي واجبه ده چې د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ ځان ځان ته وکړي .(۲) (۴) وَلِأَنَّا لَوْ أَطْلَقْنَا لِلْمَعْذُوْرِ إِقَامَةَ الظُّهْرِ بِالْجَمَاعَةِ فِي الْمِصْرِ فَرُبَّمَا يَقْتَدِي بِهِ غَيْرُ الْمَعْذُوْرِ فَيُؤَدِّي إِلَى تَقْلِيلِ جَمْعِ الْجُمُعَةِ، وَهٰذَا لَا يَجُوْزُ.(۳)

نبوي لمونځ د حنفي تدوين مطابق

نيت:

قَالَ اللهُ تَعَالٰى: إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا

او ما متوجه کړو خپل مخ د هغه (الله) طرف ته چا چې جوړ کړل اسمانونه او ځمکه د ټول (مخلوق) څخه ځانته شوم او نه يم زه د شرک کونکو څخه

۲- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې:

إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ

۱-(بدايع الصنايع ج۱ ص ٦٠٥)

۲-(بدايع الصنايع ج۱ ص ٦٠٥).

۳-(بدايع الصنايع ج۱ ص ٦٠٥).

بېشکه چې د اعمالو ښه والی او بد والی په نیت سره دی.

په ژبه د نیت اظهار:

په نیت کې خو اختلاف نشته چې نیت د زړه ارادې ته وايي او په دې کې هم اختلاف نشته چې که يو سړی په زړه کې د روژې او يا د لمونځ اراده وکړي او په خوله هيڅ ونه وايي نو د ده لمونځ او روژه صحيح شوه په ژبه د نيت اظهار ضروري نه دی.

پاتې شو په ژبه د نیت اظهار، نو په دې کې به د الله تعالی په توفیق سره دوه مسئلې ذکر کړو.

اول: په ژبه د نیت اظهار د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د صحابه وو څخه ثابت دی، چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه وو په ژبه باندې د نيت اظهار کړی دی.

دوهم: چې په ژبه د نیت اظهار په هر قسم الفاظو کيدلی شي، يعنې په ژبه باندې د نيت په اظهار کې وسعت دی، وسعت دا معنی چې د خاصو الفاظو پابندي نشته ،د دې دواړو مسئلو لپاره به د الله تعالی په توفيق سره پنځه احاديث ذکر کړو.

اول: په صحیح مسلم کې حديث دی چې:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ «يَا عَائِشَةُ، هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ؟» قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَا عِنْدَنَا شَيْءٌ قَالَ: ()

۱- «فَإِنِّي صَائِمٌ» ()(الحديث رقم ۲۷۰)

حضرت عايشة رضي الله عنها فرمايي چې: يوه ورځ راته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې: يا عايشې! ايا ستاسو سره څه شته؟ حضرت عايشة رضي الله عنها فرمايي چې: ما وفرمايل چې نه، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې: زما روژه ده. انتهى

نو پدې حديث کې ذکر شو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه د نيت اظهار وکړو

دوهم: په صحيح مسلم کې د بل حديث الفاظ داسې دي چې:

دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ: «هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ؟» فَقُلْنَا: لَا، قَالَ: «فَإِنِّي إِذَنْ صَائِمٌ» (١)

دريم: په سنن ابى داود کې حديث دى، حضرت عايشة رضي الله عنها فرمايي چې:

كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ عَلَيَّ قَالَ: «هَلْ عِنْدَكُمْ طَعَامٌ؟» فَإِذَا قُلْنَا: لَا، قَالَ: «إِنِّي صَائِمٌ» (٢)

څلورم: په ابو داود الطيالسي رقم (١۴۵۵) کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې الفاظ رانقل شوي دي چې: «إِذًا أَصُومُ»

نوټ: ددې احاديثو لپاره محدثينو عنوان د نيت لګولى دى، معلوميږي چې ددې محدثينو په نيز ددې احاديثو تعلق د نيت سره دى.

١-(رقم الحديث، ٢٧٠١)

٢-(ابوداود رقم الحديث ٢٤٣٤، باب النية في الصوم، لاندى باب الرخصة فيه اى في ترک النية بالليل).

پنځم: امام بخاري صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحيح البخاري کې باب قايم کړی دی چې: باب اذا نوی بالنهار صوماً، او بيا يې د پنځو صحابه وو رضی الله عنه عمل ذکر کړی دی چې هغوي په ژبه د نيت اظهار کړی دی:

وَقَالَتْ أُمُّ الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: كَانَ أَبُو الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: «عِنْدَكُمْ طَعَامٌ؟» فَإِنْ قُلْنَا: لاَ، قَالَ: «فَإِنِّي صَائِمٌ يَوْمِي هَذَا» وَفَعَلَهُ أَبُو طَلْحَةَ، وَأَبُو هُرَيْرَةَ، وَابْنُ عَبَّاسٍ، وَحُذَيْفَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ (1)

په دې حديث کې د پنځو صحابه وو عمل ذکر شو چې هغوي په ژبه د نيت اظهار کړی دی، امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ دې حديث ته عنوان د نيت قايم کړی دی، نو د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ په نيز د دې حديث تعلق د نيت سره دی.

نو د دې احاديثو څخه دوه مسئلې ثابتې شوې، اوله دا مسئله ثابته شوه چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه کرامو په ژبه د نيت اظهار کړی دی، او دوهمه دا مسئله ثابته شوه چې په ژبه د نيت اظهار په هر قسم الفاظو کيدلی شي، ځکه چې د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه څلور قسمه الفاظ رانقل شو، (۱- فَإِنِّي صَائِمٌ، ۲- فَإِنِّي إِذَنْ صَائِمٌ، ۳- إِنِّي صَائِمٌ، ۴- إِذًا أَصُومُ). د صحابه وو څخه پنځم قسم الفاظ رانقل شو چې: فَإِنِّي صَائِمٌ يَوْمِي هَذَا.

نو په ژبه د نيت په اظهار کې وسعت دی، د وسعت معنی داده چې د خاصو الفاظو پابندي نشته، داسې هم ويلی شي چې: بصوم غد نويت من شهر رمضان،

(1) (صحيح البخاری).

داسې هم ویلی شئ چې سبا ته زما روژه ده یا سبا ته روژه نیسم وغیره ، هر قسم الفاظ جایز دي، د لمانځه لپاره د نیت هم همدا تفصیل دی.

۲ـ همدا رنګه د حج او د عمرې لپاره په ژبه د نیت اظهار ثابت دی.

[illegible]

۳ـ په ژبه باندې د نیت اظهار شرعي بدعت نه دي ، ځکه چې خپله مقصود نه دی، او نه په لمانځه کې داخل دی، بلکه د مقصود (توجه برابرولو) لپاره ذریعه ده ، او کوم شی چې صرف د ذریعې په مرتبه کې وي په هغې باندې د بدعت شرعي تعریف نه صادقیږي ، کالمدارس العربیة وما فیها من الامور المحدثة، البته د دې ضروري ګڼل بې شکه چې بدعت دی پاتې شوه دا خبره چې په ژبه باندې نیت ـ معین د احضار القلب دی او که مغفل د قلب دی؟ په دیکې راجح اول قول را معلومیږي .

او په ژبه د اظهار د نیت سره د توجه د برابریدل د حدیث نه ثابت دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: لایستقیم ایمان الرجل حتی یستقیم قلبه، ولایستقیم قلبه حتی یستقیم لسانه (رواه احمد)

ایمان تر هغه پورې نشي سیده کیدلی ترڅو چې زړه سیده نشي او زړه تر هغه پورې نه سیده کیږي ترڅو چې ژبه سیده نشي.

نو د ژبې لپاره په زړه اثر شته په ژبه د نیت د اظهار په وجه د زړه توجو برابریګی

شعر :ذکر آرد فکر را در اهتزاز ذکر را خورشید این افسرده ساز

علاوه لا دا چې د مانځه د صحت لپاره دومره استحضار کافي دی چې کـه یو څوک ناڅاپه پوښتنه وکړي نو فوراً ورته وویلي شي چې فلانکی مونځ کوم. فقط والله اعلم.(۱)

قبلې ته مخ کول:

۱-قال الله تعالی: وحیث ماکنتم فولوا وجوهکم شطره. الایة

او تاسو چې په هر ځای کې اوسیږئ نو وګرځوئ مخونه خپل په طرف د هغه (قبلې)

۲-رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې:

إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ).(۲)

چې کله لمونځ ته د دریدلو اراده وکړې، نو پوره اودس وکړه او بیا قبلې ته مخ کړه او تکبیر ووایه..

د تکبیر ویلو په وخت کې قبلې ته مخ کول:

ابو هریرة رضی الله عنه فرمایلي دي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړي ته د لمونځ د طریقې د ښودلو په وخت کې وفرمایل چې:

اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَكَبِّرْ

قبلې ته مخامخ ودریږه او تکبیر ووایه.

قیام کول:

۱ - الله تعالی فرمایلي دي چې: وقومو لله قانتین

۱- [احسن الفتاوي ج۳ص۱٤/باب صفة الصلوة وما يتعلق بها].
۲-(٤٦/٣٩٧)

او د الله تعالی په حضور کې په عاجزۍ سره ولاړ اوسئ.

۲- حضرت عمران ابن حصين رضی الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې:

صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ(۱)

په ولاړه لمونځ کوه که په ولاړه دې لمونځ نشو کولی، نو بيا په ناسته لمونځ کوه او که په ناسته دې هم نشو کولی نو بيا په اړخ لمونځ کوه.

په صفونو کې د اوږو لګول سنت دي نه د پښو او فاصله بين القدمين:

(۱) الله تعالی فرمايي: واتخذوا من مقام ابراهيم مصلی، نو اصل دا دی چې په مقام ابراهيم کې ودريږي او لمونځ وکړئ او که ازدحام وي نو بيا د مقام ابراهيم سره نږدې دا لمونځ اداکيږي او په مقام ابراهيم چې د ريږي نو د اهل سنت والجماعت په شان به دې د پښو په مابين کې څلور خورې ګوتې او زيات نه زيات يوه لويشت فاصله راځي.

(۲) عن ابن عمر رضي الله عنهما- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «أَقِيمُوا الصُّفُوفَ وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ.(۲)

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمائي چې صفونه برابر کړئ او اوږې سره برابرې کړئ.

(۳) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّلُ الصَّفَّ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَى نَاحِيَةٍ يَمْسَحُ صُدُورَنَا وَمَنَاكِبَنَا(۳)

۱-(رواه البخاري ج ۱ صـ ۱۵۰، باب اذا لم يطق قاعداً)

۲-(ه‍ ابوداود ج ۱ص ۱۰٤).

۳-(ابوداود ج۱ص ۱۰٤).

د حضرت براء بن عازب ﷛ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په صفونو کې زاننو تلو د يو طرف او بل طرف ته څخه او زمونږ سينې او اوږې به يې برابرولې.

(۴) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷛، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي، وَكَانَ أَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ، وَقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ. (۱)

حضرت انس بن مالک ﷛ فرمائي چې د لمانځه لپاره تکبير و شو، نو رسول الله ﷺ زمونږ ته متوجه شو او وی فرمايل چې صفونه مو برابر کړئ، او ننبتي ودرېږئ، بې شکه چې زه تاسو د شاله طرف ګورم او د حضرت انس ﷛ څخه په بل روايت کې دي چې مونږ به په صفونو کې اوګه داوګې د خپل ملګري سره او قدم د قدم سره لګولو.

(۵) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷛، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «رُصُّوا صُفُوفَكُمْ وَقَارِبُوا بَيْنَهَا وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ. (۲)

حضرت انس ﷛ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې صفونه ونښلوئ او خپل څټونه يو د بل سره برابر کړئ.

(۶) عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ الْجُدَلِيِّ رحمه الله عليه، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ ﷛، يَقُولُ: أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: «أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ» ثَلَاثًا، «وَاللَّهِ لَتُقِيمُنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ» قَالَ: فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ يَلْزَقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَرُكْبَتَهُ بِرُكْبَةِ صَاحِبِهِ وَكَعْبَهُ بِكَعْبِهِ. (۳)

۱-(بخاری ج۱ص ۱۰۰).

۲-(هـ ابوداود ج ۱ص ۱۰٤).

۳-(ابوداود ج ۱ص ۱۰٤).باب تسوية الصفوف.

حضرت ابو القاسم الجدلی فرمائي چې ما د نعمان بن بشیر ﷺ څخه واوریدل چې فرمایلی یې چې رسول الله ﷺ مونږ ته متوجه شو، نو درې ځلې یې وفرمایل چې خپل صفونه برابر کړئ، په الله ﷻ قسم دی چې تاسو به یا صفونه برابر وئ او یا به الله ﷻ ستاسو زړونه مخالف کړي.

حضرت نعمان بن بشیر رحمه الله فرمائي چې د دینه وروسته ما ولیدل چې خلکو به اوږه د خپل ملګري سره لګوله او د پښو سره لګوله، د ملګري د زنګون سره به یې خپل زنګون لګولو او د ملګري د خنګري سره به یې خپل خنګري لګولو.

(۷) عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا، فَخَرَجَ يَوْمًا فَرَأَى رَجُلاً خَارِجًا صَدْرُهُ عَنِ الْقَوْمِ، فَقَالَ: لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ.(۱)

د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه برابرول، یوه ورځ راووتلو نو یو سړی یې ولیدلو چې سینه یې د صف څخه وتلې وه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې خامخا به تاسو یا صفونه برابروئ او که نه الله ﷻ به ستاسو په مخونو کې مخالفت واچوي.

(۸) عَنْ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، كَانَ يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ: «إِذَا قَامَتِ الصَّلَاةُ، فَاعْدِلُوا الصُّفُوفَ، وَحَاذُوا بِالْمَنَاكِبِ(۲)

حضرت عثمان بن عفان به په خپله خطبه کې فرمایل چې کله چې د لمانځه لپاره اقامت وکړی شي، نو صفونه برابر کړئ او اوګې سره سیده کړئ.

۱-(هـ ترمذی ج ۱ ص ۵۳).

۲-(اهـ موطاء امام محمد ص ۸۸).

(۹) عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَلَّ وَعَزَّ»، قُلْنَا وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ: «يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْمُقَدَّمَةَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ»(۱)

رسول الله ﷺ مونږ ته وفرمايل چې ايا تاسو دملايکو په شان صفونه نه جوړه وئ؟

مونږ عرض وکړو چې يارسول الله ﷺ ملايکې څرنګه صفونه جوړه وي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې مخکيني صفونه ډکوي او په صفونو کې يو د بل سره نښتې دريږي.

نو په حديثونو کې دريې قسمه الفاظ استعمال شول: اول (تراص): ددې معنا نښلول. دوهم (التصاق). دريم (الزاق) ددې معنا هم نښلول او لګول دي او د څلورو شيانو نښلول ذکر شوي دي: د قدم، ښنګري، زنګون او د اوږې. او دې څلورو واړو لګول ممکن نه دي. که څوک يې د امکان دعوه کوي، نو په مشاهده دې يې وښايي. لا مذهبان صِرف د پښو يوه يوه ګوته سره نښلوي او ګوتو د نښلولو ذکر په حديث کې نشته.

هر کله چې لغوي معني ممکنه نه ده، نو د حديثو شارحان رحمهم الله ليکي چې: دلته د دې الفاظو څخه قرب او محاذات مراد دي. محمد انورشاه کشميري رحمه الله فرمائي چې:

قال الحافظ المراد بذالك المبالغة في تعديل الصف وسد خلله قلت وهو مراد عند الفقهاء الاربعة اى ان لا يترك في البين فرجة تسع فيها ثالث ()

۱-(ابوداؤد ج ۱ صـ ۱۰٤) باب تسوية الصف.

يعني د څلورو واړو فقهاؤو په نيز معني دا ده چې د دؤو کسانو په مينځ کي به دومره فاصله نه وي چې دريم کس پکي ځای شي، محمد بن صالح عثيمين فرمايي چې: ليس المراد بالمراصة، المراصة التي تشوش على الاخرين وانما المراد منه ان لايكون بينک وبينه فرجة. (٢)

فقه حنفي : وينبغي ان يكون بين قدميه اربع اصابع في قيامه .(٣)

فقه شافعي: ويسن ان يفرق بين قدميه بشبر .(٤)

فقه مالكي: يندب تفريج القدمين بان يكون المصلي بحالة متوسطة في القيام بحيث لا يضمهما ولا يفرجهما كثيراً.(٥)

فقه حنبلي: وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما لَايُفَرِّجُ بَيْنَ قَدَمَيْهِ، وَلَا يَمَسُّ إِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى، وَلَكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ، لَا يُقَارِبُ وَلَا يُبَاعِدُ.(٦)

نو د حنفي فقهې مطابق د خپو په مينځ کي کم از کم څلور ګوتې او زيات نه زيات يوه وليشت فاصله پکار ده. او د شافعي فقهې مطابق يوه وليشت فاصله پکار ده، او د فقهې مالكي او د فقه حنبلي مطابق طبعي فاصله پکار ده. په فقه حنفي کي د څلورو ګوتو د فاصلې ذکر د اقل مقدار بيان دی. اکثر يوه وليشت

١- فيض الباري ج ١ صـ ٢٣٦
٢-(شرح رياض الصالحين ج ١صـ ١٢٤٨)
٣-[فتاوي عالمكيرى ج ١ صـ ٧٣ الفصل الثالث في سنن الصلوة رد المختار ج ١ صـ ٦٣].
٤- [اعانة الطالبين ج ١ صـ ١٣٥ حاشيه الجمل ج ١ صـ ٢٤٧ تحفة المحتاج في شرح المنهاج ج ٥ صـ ٣٢١ نهاية المحتاج ج ٤ صـ ٨٥].
٥-[فقه العبادات مالكي ج ١ صـ ١٦١].شرح خليل للخرشي ج ٣صـ ٤٥٥، منح الجليل ج ٢صـ ٩٦)
٦-(المغني لابن قدامه ج ٣ صـ ١٢١ والقول الراجح مع الدليل ج ٢ صـ ٨٥].

دی. نو تقریباً د څلورو وارو فقهو مطابق د پښو په مینځ کې د فاصلې مقدار کم از کم څلور ګوتې، او زیات نه زیات یوه ولیشت شوه، د لا مذهبو فاصله بالکل دومره وي لکه د ګنج دروازه او په دې کې دا لاندې نقصانات دي.

۱) د پښو د دومره آزادولو سره د اوګو په مینځ کې فاصله زیاتیږي.

۲) غیر مقلدین په قیام کې پښې ازادوي او په سجده او تشهد کې یې راټولوي، چې دا د مونځ خشوع ته نقصان رسوي.

۳) په صفونو کې د دومره پراخه دریدلو سره د لسو کسانو ځائ په پنځو کسانو ډکیږي.

۴) دومره ازادیدل او د څنګ ملګري سره د پښو لګول د خشوع د ختمیدلو سبب دی.

۵) دومره پراخه دریدل د کبر او د بي ادبی علامه ده لا مذهبان د یو بادشاه او د افسر په مخکې داسي دریدل بي ادبي ګڼي، او د رب العالمین په مخکې دا بي ادبي کوي.

۶) په دومره پراخه دریدلو باندي خپله د لامذهبانو بعضي مشرانو هم رد کړي دي، مولوي عبد الله روپړي لیکي چې: پښې ډیرې پراخه ږدي او دریږئ چې اوږئ یې نه لریږي دوي غلطي کوي ځکه چې په دې حدیث کې لکه څرنګه چې د قدم دلګولو ذکر دی نو همدارنګه پکې د اوږو دلګولو ذکر هم دی. [وګوره فتاوي علماء حدیث. (۱)

۱- ج ۱ ص ۲۱ و ج ٤ ص ۲٦٥]

۷) محمد انور شاه رحمه الله فرمائي چې: د صحابه ؤو او د تابعينو او د جمهورو سلفو څخه هيڅ داسې روايت نشته چې په هغې کې راغلي وي. چې د جماعت په مانځه کې د پښو په مابين کې زياته فاصله راولئ. او په انفرادي مونځ کې کمه فاصله راولئ. د فاصلې په اعتبار د جماعت د مونځ او د انفرادي مونځ په مينځ کې فرق د لامذهبو ايجاد دی.(۱)

د قيام په حالت کې د سجدې ځای ته کتل:

۱-رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت انس رضی الله عنه ته وفرمايل چې:

إِجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ (۲)

خپل نظر د سجدې په ځای ساته.

۲-وَيَشْخَصُ بِبَصَرِهِ الى مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ (۳)

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله لمونځ کولو نو سترګې مبارکې به يې د سجدې په ځای ښخې کړې وې.

تکبير تحريمه ويل:

۱-الله تعالیٰ فرمايلي دي چې: وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى

او د خپل رب نوم يې واخيستو پس بيا يې لمونځ وکړو.

۲-رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې:

مِفْتَاحُ الصَّلٰوةِ الطُّهُوْرُ وَتَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ (۱)

۱- فيض الباري ج ۲ صـــ ۲۳۷

۲-(السنن الكبرى للبيهقي ج ۲ صــ ۲۸٤، باب لا يجاوز بصره موضع السجود)

۳-(الترغيب والترهيب ج ۲صــ ٤۲۱، فصل فی الترهيب من الالتفات فی الصلوة)

دلمونځ کونجي اودس دی او دلمونځ تحریم الله اکبر ویل دي.

د امام لپاره په زوره (جهر) تکبیر ویل:

۱- عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ: اِشْتَكَى أَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَوْغَابَ فَصَلَّى أَبُوْسَعِيْدِنِ الْخُدْرِيّ فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيْرِ حِيْنَ افْتَتَحَ وَحِيْنَ رَكَعَ(۲)

حضرت سعید بن الحارث رضی الله عنه فرمایلي دي چې: یو ځلې ابو هریرة رضی الله عنه مریض شوی وو نو ابو سیعد خدري رضی الله عنه امامتي وکړه، نو تکبیریې په واچت (لوړ) اواز وویلو چې کله یې لمونځ شروع کړو او چې کله یې رکوع وکړه.

دمقتدي لپاره په پټه (خفیه) تکبیر ویل:

حضرت عایشه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات دواقعې په بیان کې فرمایلي دي چې:

وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَخُطُّ بِرِجْلَيْهِ الْأَرْضَ فَلَمَّا رَآهُ أَبُوبَكْرٍ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَشَارَ إِلَيْهِ أَنْ صَلِّ فَتَأَخَّرَ أَبُوبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَعَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَنْبِهِ وَأَبُوبَكْرٍ يُسْمِعُ النَّاسَ التَّكْبِيرَ(۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوه کسانو لاسونه اچولي وو او بهر را ووتلو، لکه زه چې اوس هم ورته ګورم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پښې [مبارکې] په زمکه را ښکلې، کله چې ابو بکر صدیق رضی الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم احساس وشو، نو وروسته کیدل یې شروع کړل، رسول الله صلی الله

۱-(سنن ابی داود، ج ۱، صـ ۹۸، باب فی تحریم الصلوة)

۲-(السنن الکبری للبیهقی، ج۲ صـ ۱۸، باب جهر الامام بالتکبیر)

۳- (صحیح البخاري، ج ۱صـ ۹۸، باب من أسمع الناس تکبیر الامام)

عليه وسلم د ابوبکر صديق رضی الله عنه څنګ ته کيناستلو او خلکو ته به يې (د رسول الله صلی الله عليه وسلم) تکبير ور اورولو.

فائده: ددې څخه معلوميږي چې په بل وخت کې مقتدي په اوچت اواز سره تکبير نه دی ويلی، بلکې د عذر په وخت کې ابوبکر صديق رضی الله عنه په اوچت اواز سره خلکو ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تکبير ور اورولو.

د اول تکبير سره تر غوږونو پورې د لاسونو اوچتول:

(۱) عَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه، قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى سَاوٰى بِهِمَا أُذُنَيْهِ ثُمَّ لَمْ يَعُدْ.(۱)

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائي چې ما وليدلو رسول الله ﷺ چې صرف د تکبير تحريمه سره ئې لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړل.

(۲) عَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ لِافْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، رَفَعَ يَدَيْهِ، حَتّٰى يَكُونَ إِبْهَامَاهُ قَرِيبًا مِنْ شَحْمَتَيْ أُذُنَيْهِ».(۲)

يعنې رسول الله ﷺ به د اول تکبير سره لاسونه د غوږونو تر نرميو پورې اوچتول.

(۳) وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رضي الله عنه: أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ وَحَاذٰى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ.(۳)

حضرت وائل رضی الله عنه فرمائي چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې د تکبير تحريمه په وخت کې يې لاسونه د اوږو او غوږونو پورې دغوږونو پورې پورته کړې.

۱-(دارقطنی: ج ۱/ص۲۹٤ وطحاوی: ج ۱/ص۱۳۵)

۲-(طحاوی: ج ۱/ص۱۳۲ وص۱۱۰ دارقطنی: ج ۱/ص۳۰۰ وابوداود: ج ۱/ص۱۰۹ باب من لم يذكر الرفع)

۳-(مشكوة باب صفة الصلوة الفصل الثانى: ج ۱/ص۷٦/ ابوداود/ رقم / ۷۲٤).

(۴) عن عبد الجبار بن وائل، عن أبيه رضي الله عنه أنه، «رأى النبي صلى الله عليه وسلم إذا افتتح الصلاة رفع يديه حتى تكاد إبهاماه تحاذي شحمة أذنيه (۱)

يعنې رسول الله ﷺ د اول تکبير سره لاسونه د غوږونو تر نرميو پورې پورته کړل.

(۵) عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال: ... فقال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: «يا وائل بن حجر! إذا صليت فاجعل يديك حذاء أذنيك، والمرأة تجعل يديها حذاء ثدييها. (۲)

رسول الله ﷺ و فرمايل چې سړی به د غوږونو پورې او ښځه به د تيونو پورې لاسونه پورته کوي.

(۶) عن وائل بن حجر رضي الله عنه: أنه "رأى النبي صلى الله عليه وسلم رفع يديه حين دخل في الصلاة كبر - وصف همام رضي الله عنه حيال أذنيه. (۳)

حضرت وايل رضي الله عنه فرمائي چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې د اول تکبير سره ئې لاسونه اوچت کړل او الله اکبر ئې وويلو. د حديث راوي همام بيان دی چې رسول الله ﷺ تر غوږونو پورې لاسونه اوچت کړل.

(۷) عن عامر بن عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما، عن أبيه رضي الله عنه، قال: «رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم افتتح الصلاة، فرفع يديه حتى جاوز بهما أذنيه. (۴)

۱-(نسائي: ج ۱/ص۱٤۱/ رقم ۸۷۹).

۲- (معجم طبراني: ج ۱/ص۱۸)

۳-(مسلم: ج ۱/ص۱۷۳)

٤-(مسند احمد / رقم ۱٥٦٦۷).

د حضرت عبد الله بن زبير رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دي چې دده رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدلو چې: د لمانځه د شروع کولو په وخت کې يې لاسونه له غوږونو څخه واړول.

(٨) عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رضي الله عنه: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ، وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ. (١)

مالک بن حويرث رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ به د الله اکبر په وخت کې لاسونه د غوږونو سره برابر ول او په يو روايت کې راځي چې تر او چتې حصې د غوږونو پورې به يې او چتول.

(٩) عَنْ قَتَادَةَ رحمه الله، بِهَذَا الْإِسْنَادِ أَنَّهُ رَأَى نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ. (٢)

يعني رسول الله ﷺ لاسونه د غوږونو تر پاسنی حصې پورې او چت کړل.

(١٠) حضرت انس رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ به د غوږونو پورې لاسونه پورته کول. (٣)

(١١) امام بخاري/ په جزء رفع اليدين کې روايت راوړی دی فرمائي چې: عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ رحمه الله قَالَ: «كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّوْا كَأَنَّ أَيْدِيَهُمْ حِيَالَ آذَانِهِمْ. (٤)

١-(بخاری /ج ١/ص ١٠٢، ومسلم: ج ١/ص ١٦٧)

٢-(مسلم: ج ١/ص ١٦٨)

٣-(بيهقي: ج ٢ص/ ٩٩ ودارقطني ج ١/ص ٣٤٥)

٤ (ص: ٣٢)

حميد بن هلال فرمائي رحمه الله چې د رسول الله ﷺ صحابه وو رضی الله تعالی عنهم به په مانځه کی لاسونه تر غوږونو پورې او چتول.

(١٢) عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ حَكِيمٍ رحمه الله، قَالَ: «رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنه يَرْفَعُ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ فِي أَوَّلِ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، وَلَمْ يَرْفَعْهُمَا فِيمَا سِوَى ذَلِكَ.(١)

يعنى عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما به صرف د اول تکبیر سره لاسونه د غوږونو پورې او چتول.

(١٣) أَنَّ وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ رضي الله عنه، أَخْبَرَهُ قَالَ: قُلْتُ: لَأَنْظُرَنَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي قَالَ: فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ "قَامَ وَكَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا بِأُذُنَيْهِ.

وايل بن حجر رضی الله تعالی عنه فرمايي چې: ما وويل چې زه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ګورم چې دی څرنګه لمونځ کوي؟ نو ما ورته وکتل چې ودريدلو او الله اکبر يې وويل او لاسونه يې تر غوږونو پورې او چت کړل. (٢)

(١٤) وَذَكَرَ الطِّيبِيُّ رحمه الله أَنَّ الشَّافِعِيَّ رحمه الله حِينَ دَخَلَ مِصْرَ سُئِلَ عَنْ كَيْفِيَّةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ التَّكْبِيرِ؟ قَالَ: يَرْفَعُ الْمُصَلِّي يَدَيْهِ بِحَيْثُ يَكُونُ كَفَّاهُ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِبْهَامُهُ حِذَاءَ شَحْمَتَيْ أُذُنَيْهِ، وَأَطْرَافُ أَصَابِعِهِ حِذَاءَ فَرْعِ أُذُنَيْهِ، لِأَنَّهُ جَاءَ فِي رِوَايَةٍ: يَرْفَعُ الْيَدَيْنِ إِلَى الْمَنْكِبَيْنِ، وَفِي رِوَايَةٍ إِلَى الْأُذُنَيْنِ، وَفِي رِوَايَةٍ إِلَى فُرُوعِ الْأُذُنَيْنِ، فَعَمِلَ الشَّافِعِيُّ رحمه الله بِمَا ذَكَرْنَا فِي رَفْعِ الْيَدَيْنِ جَمْعًا بَيْنَ الرِّوَايَاتِ الثَّلَاثِ.(٣)

١-(موطا امام محمد: ص٩)

٢-[السنن الکبری للبیهقی/ کتاب الصلاة/ باب وضع الید الیمنی علی الیسری فی الصلاة و صحیح ابن حبان حدیث: ١٨٦٠]

٣- (مرقات المفاتیح: ج٢/ص٢٥٤)

علامه طیبی رحمه الله فرمائی چی کله چی امام شافعي رحمه الله مصرته راغلو، نو دده څخه پوښتنه وشوه چی د تکبیرپه وخت کې به لاسونه ترکوم ځای پورې او چتیږي؟

هغه رحمه الله ورته جواب ورکړو چې: ورغوي به ترا وږو او غټې ګوتې به ترنرميو د غوږونو او د ګوتو سرونه به ترپاسنی حصې د غوږونو پورې پورته کوئ! ځکه چې په بعضې احاديثو کې د لاسونو اوچتول تر اوږو پورې راغلي دي او په بعضو کې تر نرميو د غوږونو پورې راغلي دي او په بعضو کې تر پاسنيو حصو د غوږونو پورې راغلي دي. نو امام شافعي رحمه الله په دريو واړو روايتونو عمل وکړو، چې ورغوي تر اوږو پورې، غټې ګوتې تر نرميو دغوږونو پورې او د ګوتو سرونه تر پاسنی حصې د غوږونو پورې اوچتې شي، نو په درې واړو احاديثو عمل راځي.

(۱۵) امام نووی الشافعی رحمه الله فرمايي چې:

وَأَمَّا صِفَةُ الرَّفْعِ فَالْمَشْهُورُ مِنْ مَذْهَبِنَا وَمَذْهَبِ الْجَمَاهِيرِ أَنَّهُ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ بِحَيْثُ تُحَاذِي أَطْرَافُ أَصَابِعِهِ فُرُوعَ أُذُنَيْهِ أَيْ أَعْلَى أُذُنَيْهِ وَإِبْهَامَاهُ شَحْمَتَيْ أُذُنَيْهِ وَرَاحَتَاهُ مَنْكِبَيْهِ فَهَذَا مَعْنَى قَوْلِهِمْ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَبِهَذَا جَمَعَ الشَّافِعِيُّ رحمه الله تعالى بَيْنَ رِوَايَاتِ الْأَحَادِيثِ فَاسْتَحْسَنَ النَّاسُ ذَلِكَ مِنْهُ.(۱)

يعنی زمونږ او د جمهورو طريقه د لاسونو د اوچتولو داده، چې تر اوګو پورې يې پداسې طريقه اوچت کړئ چې د ګوتو سرونه د غوږونو د پاسنی حصی سره برابر شي او غټې ګوتې د غوږونو له نرميو سره برابری شي او ورغوي د اوګو سره

۱- (المجموع: ج۳/ص۳۰۷، نووی شرح مسلم: ج ۱/ص۱۶۸)

برابرشي او همدغه مطلب د هغو خلکو دی چی هغوي وايي چی لاسونه به
او وروسره برابروئ او په دې طريقه امام شافعي رحمه الله د احاديثو په مابين کې
تطبيق راوستلو او ټولو خلکو خوښ کړ.

د لاسونو د اوچتولو په وخت کې د لاسونو د ورغوو قبلې ته مخامخ کول:

عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَفْتَحَ أَحَدُكُمْ (الصَّلوٰة) فَلْيَرْفَعْ يَدَيْهِ وَالْيَسْتَقْبِلْ بِبَاطِنِهِمَا الْقِبْلَةَ فَإِنَّ اللهَ أَمَامَهُ (١)

عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم
فرمايلي دي چې کله په تاسو کې لمونځ شروع کوي، نو دواړه لاسونه دې پورته کوي
ورغوي دې قبلې ته مخامخ کوي، ځکه چې الله تعالی د هغه مخې ته دی.

ښی لاس دچپ (ګس) لاس د ورغوي په شا، په مړوند او په ليچي کېښودل:

اَنَّ وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ الْحَضْرَمِيَّ رضي الله عنه أَخْبَرَهُ، قَالَ: قُلْتُ: لَأَنْظُرَنَّ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي، فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ حِيْنَ قَامَ، فَكَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى حَاذَتَا أُذُنَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرٰى، وَالرُّسْغِ، وَالسَّاعِدِ (٢)

وايل بن حجر رضي الله عنه فرمايي چې: ما قصد وکړ چې زه به ګورم چې رسول الله
ﷺ څرنګه مونځ کوي؟ نو ما چې د رسول الله ﷺ طرفته وکتل کله چې ودريد
نو الله اکبر يې وويلو او لاسونه يې تر غوږونو پورې اوچت کړل بيا يې خپل ښی
لاس د چپ لاس د ورغوي په شا او په مړوند او په مټ باندې کېښودلو.

همدا سې الفاظ په صحيح ابن خزيمه کې هم دي [باب وضع بطن الكف اليمنى
على الكف اليسرى والرسغ والساعد جميعاً حديث نمبر ۴۶۴].

١-(المعجم الأوسط للطبرانی، ج٦ صــ ٩، باب رفع اليدين فی الصلوة).
٢- [صحيح ابن حبان حديث نمبر: ١٨٦٠].

په دې حديث د عمل طريقه داده چې د ښي لاس ورغوی دې د چپ (ګس) لاس د ورغوي په شا کېښودلی شي او دوه ګوتې دې د مړوند څخه تاو شي او درې ګوتې دې سيده په ليچي کېښودلی شي.

د نارينه وو لپاره دنوم څخه لاندې لاسونه کېښودل:

(١) ذَكَرَ الْأَثْرَمُ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ عَاصِمٍ الْجَحْدَرِيِّ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ صُهْبَانَ سَمِعَ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ قَالَ وَضْعُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى تَحْتَ السُّرَّةِ.. (١)

حضرت عقبه بن صهبان رحمه الله فرمائي چې ما د حضرت علي رضي الله عنه څخه اوريدلي دي د (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) په تشريح کې، چې ښي لاس په چپ لاس دنوم څخه لاندې کيږدئ.

(٢) عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ تَحْتَ السُّرَّةِ(٢)

وائل بن حجر رضي الله عنه فرمائي چې ما نبی عليه السلام وليدلو چې خپل ښي لاس يې په چپ لاس باندې دنوم څخه لاندې کيښودلو.

(٣) وَبِهِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ زَيْدٍ السُّوَائِيِّ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «مِنْ سُنَّةِ الصَّلَاةِ وَضْعُ الْأَيْدِي عَلَى الْأَيْدِي تَحْتَ السُّرَرِ». (٣)

٢- (استاذالبخاری مصنف ابن ابي شيبه . ادارة القرآن دارالعلوم الاسلاميه كراچی حديث نمبر٣٩٠٩، باب نمبر ١٦٧] (معارف السنن ،ج ٢ص ٤٣٧) (اعلاء السنن ،ج ٢ص ١٤٣)باب وضع اليدين . (اثارالسنن ،ج ١ص ٧٧) باب وضع اليدين تحت السرة) بذل المجهود ج٢ص ٢٣].

٣-(مصنف ابن ابي شيبه الشافعي استاذالبخاري ، ج ١ ص٣٩١) وضع اليمين علي الشمال رقم ١٣.

د حضرت علی ﷺ څخه روايت دی چې د لمانځه سنت دادي چې لاسونه د نوم څخه لاندې کيږدئ.

(۴) وَبِهِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «مِنَ السُّنَّةِ وَضْعُ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ» (۱)

بې شکه چې يو ورغوي په بل ورغوی باندې د نوم څخه لاندې کيښودل د سنتو څخه دي.

(۵) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: ثَلَاثٌ مِنْ أَخْلَاقِ النُّبُوَّةِ: تَعْجِيلُ الْإِفْطَارِ وَتَأْخِيرُ السَّحُورِ وَوَضْعُ الْيَدِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. (۲)

دا حديث په مسند زيد باب تعجيل الافطار کې د سند سره ذکر شوی دی.

حضرت انس ﷺ فرمائي چې درې شيان د ټولو پيغمبرانو اخلاق دي، په روژه ماتي کې مخکې والې کول په پيشمني کې وروسته والې کول، او ښي لاس باندې په چپ لاس کيښودل د نوم څخه لاندې.

(۶) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: أَخْذُ الْأَكُفِّ عَلَى الْأَكُفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ (۳)

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمائي چې يو ورغوي په بل ورغوي کيښودل په لمانځه کې د نوم څخه لاندې دي.

۱-(ابوداودنسخه ابن اعرابي ص ۷۶، حديث نمبر ۶۴۵]. (اعلاء السنن ص ۱۶۹(معارف السنن ج ۲ص ۴۴۱/بذل المجهود ج۲ ص۲۳).

۲-[بذل المجهود ج۲/ ص۲۴، باب وضع اليمنى على اليسرى في الصلوة]. (الجوهرالنقى على السنن الكبرى للبيهقى . ج ۲،ص ۳۱ _ ۳۲) ابن حزم ج ٤ ص ۱۱۳)

۳- الجوهرالنقي، باب وضع اليدين على الصدر) [والبيهقي حديث نمبر: ۲۴۳۶، باب وضع اليدين على الصدر في الصلوة من السنة].

(٧) وَبِهِ قَالَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ هَارُونَ، قَالَ: ثنا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، قَالَ: ثنا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَيَّارٍ أَبِي الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: «مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى تَحْتَ السُّرَّةِ فِي الصَّلَاةِ» وَبِهِ قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَإِسْحَاقُ رَحِمَهُمَا اللَّهُ، وَقَالَ إِسْحَاقُ رحمه الله: تَحْتَ السُّرَّةِ أَقْوَى فِي الْحَدِيثِ، وَأَقْرَبُ إِلَى التَّوَاضُعِ... الخ(١)

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې: سنت طريقه داده چې لاسونه يو دبل د پاسه د نوم څخه لاندې كيدى، او همدا د سفيان ثوري او د اسحاق مذهب هم دى، او اسحاق فرمايي چې: د نوم څخه د لاندې كيښودلو احاديث قوي دي او دا طريقه عاجزۍ ته ډېره نژدې ده.

(٨) وبه قَالَ: حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ أَبِي يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُمُ اللَّهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَمِدُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ، يَتَوَاضَعُ بِذَلِكَ لِلَّهِ تَعَالَى»»(٢)

يعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تواضع لپاره ښى لاس په چپ لاس باندې كيښودلو. او پدې كې شک نشته چې تواضع په تحت السرة كې ده لكه څرنګه چې د ابراهيم نخعي رحمه الله همدا مذهب وو لكه راتلونكى روايت وګوره.

(٩) وبِهِ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ رَبِيعٍ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ رَحِمَهُمُ اللَّهُ قَالَ: «يَضَعُ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ»(٣)

١-[الأوسط لابن المنذر تحت حديث رقم ١٢٤٣].

٢-[كتاب الآثار لأبي يوسف رحمه الله رواية نمبر: ٣٣٢].

٣- [ابن ابى شيبه: باب وضع اليمين علي الشمال].

ابراهیم نخعي رحمه الله فرمائي چې ږدئ، به ښی لاس په چپ لاس باندې د نوم څخه لاندې، ددې راوي ربيع صدوق دی. [الذهبی ،ج ۱ص ۳۴۷ رقم ۲۰۹۶] والجرح والتعديل لابن أبي حاتم ج۳ / ص ٤٦٤] و سير اعلام النبلاء ج۱۳/ ص۳۲۸].

(۱۰) وَبِهِ قَالَ: أَخْبَرَنَا الرَّبِيعُ بْنُ صُبَيْحٍ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ رَحِمَهُمُ اللَّهُ أَنَّهُ كَانَ يَضَعُ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى تَحْتَ السُّرَّةِ، قَالَ مُحَمَّدٌ رحمه الله: وَبِهِ نَأْخُذُ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.(۱)

يعنې امام نخعي رحمه الله به ښی لاس په چپ لاس د نوم څخه لاندې کېښودلو او امام محمد فرمايي چې په همدې مونږ عمل کوو او همدا قول د امام صاحب دی.

(۱۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ: أَخْبَرَنَا حَجَّاجُ بْنُ حَسَّانَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مِجْلَزٍ رَحِمَهُمُ اللَّهُ أَوْ سَأَلْتُهُ قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ يَصْنَعُ؟ قَالَ: «يَضَعُ بَاطِنَ كَفِّ يَمِينِهِ عَلَى ظَاهِرِ كَفِّ شِمَالِهِ وَيَجْعَلُهَا أَسْفَلَ مِنَ السُّرَّةِ».(۲)

يعنې ږدې به باطن د ښي لاس په ظاهر د چپ لاس، او دواړه لاسونه به د نوم څخه لاندې کړي، په ټولو صحابه وو او تابعينو کې د يو څخه هم نده ثابته چې په سينه باندې يې لاسونه اينبي وي، او تر قيامته به يې څوک ثابت نکړي بلکې په فتاوی علماء حديث ،ج ۳ص ۹۳/ کې په دې خبره اعتراف شوی دی چې صحابه وو رضي الله عنهم او تابعينو د اسې عمل ندی کړی.

۱-[کتاب الآثار ص ۲۱ حدیث نمبر ۱۲۱].

۲-(ابن ابی شیبه ،ج ۱ص ۳۹۰/۳۹۱ وضع الیمین علی الشمال).

د نارينه وو لپاره په سينه باندې لاسونه کېښودل دمسلمانانو په مذهبونو کې نشته:

په لمانځه کې په سينه باندې لاسونه ايښودل په ايمه يې اربعه وو کې د هيڅا مسلک هم ندی. (١) وعبارته هكذا قال الترمذی لم يأخذ أحد من الأربعة بالوضع على الصدر...الخ أو صاحب د بذل الجهود فرمايي چې:

فانحصر مذاهب المسلمين فی ثلاثة أحدها الوضع تحت السرة، وثانيها فوق السرة تحت الصدر وثالثها الارسال، بل انحصر الوضع فی هيئتين، تحت الصدر وتحت السرة ولم يوجد على ما قال الشوكانی مذهب من مذاهب المسلمين أن يكون الوضع على الصدر فقول الوضع على الصدر قول خارج من مذاهب المسلمين وخارق لاجماعهم المركب. (٢)

باب وضع اليمين على اليسرى في الصلوة. يعنې د مسلمانانو پدې مسئله کې دري مذهبه دي اول د نوم ښخه لاندې کېښودل. دوهم د سينې ښخه لاندې کېښودل، او دريم زړوند نيول، بلکې څوک چې د لاسونو په کېښودلو قايل دي د هغوی ښخه صرف دوه قوله رانقل شوي دي، يو دا چې د نوم ښخه به يې لاندې ږدي، او دوهم دا چې د سينې ښخه به يې لاندې ږدي او په سينه باندې د لاسونو کېښودل د هيڅ مسلمان مذهب هم ندی نو په سينه باندې د لاسونو کېښودل د ټولو مسلمانانو د مذهبونو ښخه ځان ايستل دي او د مسلمانانو د مرکبې اجماع ښخه مخالفت دی.

قلت ان رواية على الصدر عن الشافعي رواية النادرة كما سيأتي في عبارة السنن].

١-[معارف السنن باب ماجاء في وضع اليمين في الصلوة ج ٢/ ص ٤٣٦.

٢-(بذل المجهود ج٢/ ص٢٥)

امام نووي فرمايي چې د امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چې لاسونه
د سینې څخه لاندې ږدئ، او د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب به لاسونه د نوم څخه
لاندې ږدئ، او د امام احمد رحمه الله څخه درې روایته دي، یو د امام ابو حنیفه رحمه الله
په شان، یو د امام شافعي رحمه الله په شان، او دریم دا چې اختیار دی، خو مختار
روایت یې دادی چې: د نوم څخه به یې لاندې کیږدئ. او د امام مالک رحمه الله په نیز
ارسال دی. (۱)

امام ترمذی رحمه الله چې د دې اختلافاتو ذکر کوي نو هغوئ هم په سینه
باندې لاسونه کیښودل هیڅ امام ته ندی منسوب کړی هغه فرمايي چې:

(وَالعَمَلُ عَلٰى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّابِعِينَ، وَمَنْ بَعْدَهُمْ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ، يَرَوْنَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ يَمِينَهُ عَلٰى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ وَرَأَى بَعْضُهُمْ أَنْ يَضَعَهُمَا فَوْقَ السُّرَّةِ. وَرَأَى بَعْضُهُمْ: أَنْ يَضَعَهُمَا تَحْتَ السُّرَّةِ، وَكُلُّ ذٰلِكَ وَاسِعٌ عِنْدَهُمْ. (۲)

د زنانه وو لپاره په سینه باندې دلاسونو کېښودل:

مولانا عبد الحی لکهنوی فرمائي:

اما في حق النساء فاتفقوا على ان السنة لهن وضع اليدين على الصدر لانها ما استرها. (۳)

د علماء و په دې اتفاق دی چې د ښځو په باره کې سنت طریقه په سینه باندې
دلاسونو کیښودل دي په یو مقطوع حدیث کې راځي چې:

۱-(نووی الشافعی شرح مسلم ،ج ۱ص ۱۷۳) باب وضع یده الیمنی علی الیسری ...الخ)
۲-(ترمذی ج۱ ص ۵۹ باب ماجاء في وضع اليمين علي الشمال)
۳-(السعایه ،جلد ۳ص ۱۵۶)

(عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ قَالَ: تَجْتَمِعُ الْمَرْأَةُ إِذَا رَكَعَتْ تَرْفَعُ يَدَيْهَا إِلَى بَطْنِهَا، وَتَجْتَمِعُ مَا اسْتَطَاعَتْ)).(١)

ښځه دې په قيام کې تر خپل طاقت پورې لاسونه راټول نيسي او چې لاسونه پورې راټول ونيسي نو په سينه راځي.

ثناء(سبحانک اللهم) ويل:

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ قَالَ: سُبْحٰنَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ.(٢)

حضرت ابو سعيد رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله مونځ شروع کړو نو سبحانک أللهم به ئې (تر اخره) لوستله.

(٢) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ قَالَ: «سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ»(٣)

حضرت ابو سعيد رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله مونځ شروع کړو نو سبحانک اللهم الخ به ئې لوستله.

(٣) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ قَالَ: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ.(٤)

١-(مصنف عبدالرزاق، ج ٣ صـ ٤٩، باب تكبير المرءة بيديها وقيام المرءة وركوعها وسجودها.

٢-(نسائي: ج ١/ص ١٤٣)

٣-(نسائي: ج ١/ص ١٤٣)

٤-(مستدرك حاكم: ج ١/ص ٢٣٥، ابوداود: ج ٢/ص ١٢٠)

حضرت عایشه رضي الله عنها فرمائی چی رسول الله ﷺ به چی کله مونځ شروع کولو نو سبحنک اللهم الخ به يې لوستله.

(٤) عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا كَبَّرَ الصَّلٰوةَ، قَالَ: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ(١)

حضرت عمر رضي الله عنه به چی الله اکبر وویلو، نو سبحنک اللهم الخ به يې لوستلو.

(٥) عَنْ عَبْدَةَ رحمة الله عليه، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ، كَانَ يَجْهَرُ بِهٰؤُلَآءِ الْكَلِمَاتِ يَقُولُ: «سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، تَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالٰى جَدُّكَ، وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ.(٢)

حضرت عمر رضي الله عنه به په اوچت اواز سبحانک اللهم الخ لوستله.

(٦) عَنْ أَبِي وَائِلٍ رحمة الله عليه قَالَ: كَانَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ يَقُوْلُ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ الخ.(٣)

حضرت ابو وائل رضي الله عنه فرمائی چی حضرت عثمان رضي الله عنه به چی کله مونځ شروع کړو نو سبحانک اللهم به ئی لوستله.

ثناء (سبحانک اللهم په پټه(خفیه) لوستل:

عن ابراهیم قال خمس یخفیهن الامام سبحنك اللهم وبحمدك والتعوذ وبسم الله الرحمن الرحیم وامین وربنالك الحمد.(٤)

د حضرت ابراهیم نخعی رضي الله عنه څخه روایت دی چی امام به پنځه شیان پټ وائي:

(١) سبحنك اللهم الخ.(٢) اعوذ بالله الخ.(٣) بسم الله الخ.(٣) امین).(٥) ربنالك الحمد.

١-(داقطنی:ج ١/ص٢٩٩)

٢-(مسلم:ج ١/ص١٧٢)

٣-(دارقطنی:ج ١/ص٣٠٢)

٤- رواه عبدالرزاق/ رقم:٢٥٩٧ واسناده صحیح اثارالسنن، ص:١٠٧ باب ترک الجهر بالتامین.

عن ابراهيم قال اربع يخافت بهن الامام سبحانك اللهم وبحمدك، والتعوذ من الشيطن، وبسم الله الرحمن الرحيم، وآمين.(۱)

ابراهيم نخعی رحمه الله فرمايي چې امام به دا څلور شيان په پټه وايي: ۱- سبحانک اللهم ۲- اعوذ بالله ۳- او آمين.

اعوذبالله من الشيطن الرجيم لوستل:

۱- الله تعالی فرمايلي دي چې:

فاذاقرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطن الرجيم (الاية)

نو کله چې دې د قرآن د لوستلو اراده وکړه، نو د شيطان رټل شوي څخه الله تعالی ته پناه ونيسه (اعوذبالله من الشيطن الرجيم) ووايه.

۲- عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ نِ الْخُدْرِيْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ قَبْلَ الْقِرَائَةِ أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ (۲)

د ابي سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د قراءة څخه مخکې اعوذ بالله من الشيطن الرجيم لوستله.

بسم الله الرحمن الرحيم لوستل:

عَنْ إِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتِحُ صَلَاتَهُ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۳)

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما فرمايلي دي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه په شروع کې بسم الله الرحمن الرحيم لوستله.

اعوذبالله او بسم الله پټ (خفيه) لوستل:

۱- [کتاب الآثار للامام محمد رقم ۸۳ کتاب الآثار لابی يوسف رقم ۱۰۶]

۲-(مصنف عبدالرزاق، ج۲ص۵۶، باب متى يستعيذ)

۳-(جامع الترمذی، ج۱ص۵۷، باب من رأى الجهر ببسم الله)

عن ابراهيم قال اربع يخافت بهن الامام سبحانك اللهم وبحمدك، والتعوذ من الشيطن، وبسم الله الرحمن الرحيم، وآمين.(۱)

ابراهیم نخعی رحمه الله فرمايي چې امام به دا څلور شيان په پټه وايي: ۱- سبحانک اللهم ۲- اعوذ بالله ۳- او آمین.

اعوذبالله من الشيطن الرجيم لوستل:

۱- الله تعالی فرمايلي دي چې:

فاذاقرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطن الرجيم (الاية)

نو کله چې دې د قرآن د لوستلو اراده وکړه، نو د شيطان رټل شوي څخه الله تعالی ته پناه ونيسه (اعوذبالله من الشيطن الرجيم) ووايه.

۲- عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ نِ الْخُدْرِيْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ قَبْلَ الْقِرَائَةِ أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ (۲)

د ابي سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د قراءة څخه مخکې اعوذبالله من الشيطن الرجيم لوستله.

بسم الله الرحمن الرحيم لوستل:

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۳)

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما فرمايلي دي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به دلمانځه په شروع کې بسم الله الرحمن الرحيم لوستله.

اعوذبالله او بسم الله پټ (خفيه) لوستل:

۱- [کتاب الآثار للامام محمد رقم ۸۳ کتاب الآثار لابی یوسف رقم ۱۰۶]

۲-(مصنف عبدالرزاق، ج۲ص۵۶، باب متی یستعیذ)

۳-(جامع الترمذی، ج۱ص۵۷، باب من رأی الجهر ببسم الله)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ فَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا مِنْهُمْ يَقْرَأُ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.(۱)

حضرت انس رضی الله عنه فرمايلي دي چې: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم، حضرت ابوبکرصديق، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم پسې لمونځ کړی دی او په دوي کې ما دهيچا څخه نه دي اوريدلي چې بسم الله الرحمن الرحيم يې (په زوره) (جهر) لوستلی وي.

أن عمر بن الخطاب قال: يخفى الامام أربعاً: التعوذ، وبسم الله الرحمن الرحيم، وآمين، وربنا لك الحمد.(۲)

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې امام به دا مذکور څلور شيان په پټه وايي ۱- اعوذ بالله ۲- بسم الله ۳- آمين ۴- ربنا لک الحمد

عن ابراهيم قال: قال عمر: أَرْبَعٌ يُخْفِيهِنَّ عَنِ الْإِمَامِ: أَلتَّعَوُّذُ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، وآمين، واللهم رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ.(۳)

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې امام به دا څلور شيان په پټه وايي ۱- اعوذ بالله من الشيطن الرجيم ۲- بسم الله الرحمن الرحيم ۳- آمين ۴- او ربنا لک الحمد.

د امام او منفرد (يواځې لمونځ کونکي) لپاره د الحمدلله او ورپسې سورة لوستل

په صحيحينو کې مرفوع روايت دی چې:

أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَءْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَصَاعِدًا، قَالَ سُفْيَانُ لِمَنْ يُصَلِّيْ وَحْدَهُ(۱)

۱-(۵۰/۳۹۹)

۲- [محلی ابن حزم ج۳/ ص۱۴۸ طبع دار الاحياء التراث العربي بيروت سنة ۱۴۲۲هـ].

۳-[رواه ابن جرير] [کنز العمال ج۴/ ص۲۴۹ کتاب الصلوة].

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: دهغه چا لمونځ نه کيږي چې الحمدلله سره سورة ونه لولي، سفيان ابن عيينه رحمه الله فرمايلي دي چې دا د (منفرد) يوائې لمونځ کونکي لپاره دی.

د قرائت په وخت کې د مقتديانو چپ اوسيدل:

(۱) الله ﷻ فرمائي: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَه وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ (۲)

اوکله چې ولوستلې شي قران، نو غوږ کيږدئ تاسې هغه ته او چُپ اوسئ له پاره ددې چې رحم درباندې وشي.

د جمهور سلفو او خلفو اتفاقي فيصله ده چې په دې ايت کريمه کې د قراءة خلف الامام مسئله پوره واضحه شوې ده، او په دې باره کې يې صاف او ناطق حکم صادر کړې دی، يعنې د امام او مقتدي کارونه او وظيفې يې جدا جدا معينې کړي دي.

دامام وظيفه: (قراءت کول دي) او دمقتدي وظيفه: (چپ دريدل او توجه کول دي.

امام بخاري رحمه الله د لا تحرک به لسانک معنی داسې رانقلوي چې: فاستمع له وانصت ج ۱ صـ ۳ـ نو شونډې خوزول د استماع او د انصات سره منافي دي، همدارنګه امام بيهقي فرمايي چې لافرق بين السكوت والانصات

۱- [بخاري ج ۱ ص ۱۰۴/ مسلم ج ۱ ص ۱٦۹، ابوداود، ج ۱ صـ ۱۱۹].

۲-[پ ۹ سورة اعراف].

(۱) حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چې عبدالله بن عباس رضی الله عنه د قران کر...
بهترین مفسر او شارح دی.

دومره لوی مفسر ددې ایت کریمه په باره کې داسې فرمائي چې:

(۲) ان رسول الله ﷺ قرء فی الصلوٰة فقرأ اصحابه ورائه فخلطوا علي...
فنزل: وَ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ) فهذه مكتوبة...
ثم قال ابن عباس رضی الله عنهما: وان كنا لانستمع لمن يقرأ انا اذا لاجفى من الحمير.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه کې قراءت کړ ... صحابه وو...
وروسته قراءت کولو، نو په رسول الله صلی الله علیه وسلم قراءت ګډوډ شو نو الله
تعالی دا ایت نازل کړو چې (وَ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُوْنَ) بیا عبدالله بن عباس رضی الله عنه وفرمایل چې که مونږ قرآن ته غوږ
کېنږدو نو مونږ به د خره ښخه هم ډیر ظالمان یو اسناده حسن(۲)

(۳) صلی ابن مسعود رضی الله عنه فسمع ناسا یقرءون مع الامام قال اما ان لكم ا...
تفهموا اما آن لكم ان تعقلوا! (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُوْنَ)(۳)

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یوه ورځ لمونځ کولو او یو څو کسانو په اما...
پسې قرائت لوستلو، کله چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ددوی قرائت
واوریدو (نو د لمانځه څخه وروسته یې) ورته وفرمایل چې ایا په تاسو هغه وخت...

۱- (کتاب القراءت صـ ۸۴)

۲- (کتاب القراءت للبیهقی رقم ۲۲۳)

۳- [تفسیر ابن جریر، ج ۹ ص ۱۰۳].

نه دی راغلی چې دپوهې او دعقل څخه کار واخلئ! کله چې قران لوستلی شي نوتاسې هغه ته غوږ کیږدئ او چپ اوسئ !.

(٤) عن محمدبن كعب القرضى قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قرء فى الصلوة أجابه من ورائه، اذا قال بسم الله الرحمن الرحيم قالوا مثل مايقول حتى تنقضى الفاتحة والسورة فلبث ماشاء الله ان يلبث ثم نزلت واذا قرء القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلكم ترحمون فقرأ وانصتوا.(١)

صحابه وو به د نبي کريم صلى الله عليه وسلم پسې سورة فاتحه او ورپسې سورة لوستل بيا دا ايت نازل شو چې واذا قرء القرآن فاستمعوا له، نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قراءت کولو او صحابه چپ وو.

(٥) عَنْ أَبِي مُوسَى الاشعرى ﷺ قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَنَا فَبَيَّنَ لَنَا سُنَّتَنَا، وَعَلَّمَنَا صَلَاتَنَا، فَقَالَ: "إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ الْإِمَامُ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ { غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ } [الفاتحة:٧] فَقُولُوا: آمِينَ.(٢)

د حضرت ابی موسی اشعری ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ مونږ (صحابه کرامو) ته خطاب وفرمايلو، نو مونږته يې د سنتو تعليم راکړو، او دلمانځه داداء کولو طريقه يې راته وښودله، نو وی فرمايل چې اول (دلمانځه دشروع کولو څخه مخکې) صفونه برابر کړئ، بيا دې يو شخص امامتي درکړي، نو کله چې هغه امام تکبير ووائي نو تاسو تکبير ووائي، او کله چې امام قراءت

١-(اسناده صحيح على شرط مسلم، تفسير ابى بن حام الرازى ج ٤صـ صـ ٢٥٩، رقم ٩٤٩٣)
٢-(صحيح مسلم ص ١٧٤ ج ١)

کولو، نو تاسو چپ اوسئ، او چې کله امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين ووائي نو تاسو امين ووائې.

(۶) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رضي الله عنه: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا، وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ (۱)

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې امام ددې لپاره جوړ شوی دی چې دده پسې اقتداء وکړې شي، پس کله چې هغه (امام) الله اکبر ووائي نو تاسو الله اکبر ووائي، او کله چې هغه قراءة کوي، نو تاسو چپ ودريږئ، او کله چې هغه سمع الله لمن حمده ووائي نو تاسو ربنالک الحمد ووائي.

په دې حديث کې هم رسول الله ﷺ په واضحه طريقه بيان کړی دی، چې د امام وظيفه قراءة کول دي. او د مقتدی وظيفه چپ ودريدل دي.

(۷) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ: «هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟» قَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «إِنِّي أَقُولُ مَا لِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ» قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ فِيمَا جَهَرَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَاةِ حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ مِن رسول الله ﷺ (۲)

۱- (نسائی شريف جلد ۱ص ۱۰۷ _ ابن ماجه شريف ص ٦١) (طحاوی شريف ص ۱۲۸ مشکوة شريف ص ۸۱) ابوداود ،ج۱ ص : ۸۹ ، مسند احمد،ج۱٤ ص : ٤١٥ ،جزء القراءة ، ص: ٥٦ ، کتاب القراءة ، ص: ۹۱ ، مسلم ،ج۱ ص: ۱۷٤)

۲-(ترمذی ، ج ۱ص ٦٥) باب ماجاء في ترک القراءة خلف الامام اذا جهر بالقراءة).

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د يو جهري لمونځ څخه فارغ شو نو پوښتنه يې وکړه چې ايا په تاسو کې چا زما پسې قراءة کړې دی؟ (سړه ددينه چې ټول صحابه موجود وو) په دوی کې صرف يو سړي وويل چې هو يا رسول الله ما ستاسو پسې قراءت کړی دی.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې ما په زړه کې ويل چې ولې زما سره د قرآن په قرائت کې جګړه روانه ده؟ دا منازعت او کشمکش ولې کيږي؟ ددی ارشاد څخه وروسته صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين منعه شول د قراءة څخه د رسول الله ﷺ سره په جهری لمونځونو کې، کله يې چې دا خبره د رسول الله ﷺ څخه واوريدله (انازع ای اداخل فی وأشارک وأغالب عليه) د بل چا په حق کې مخاصمه کول، دا د سهار د لمانځه واقعه وه.(۱)

چې تمام صحابه کرام په کې موجود وو، ليکن د نبی ﷺ پسې قرائت کونکې صرف يو سړی وو، چې هغه هم د دې قراءت په وجه د رسول الله ﷺ له طرفه تهديد شو.

(۸) عَنْ جَابِرِ بن عبد الله رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ».(۲)

د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې هغه څوک چې د امام په اقتداء کې لمونځ کوي نو دده لپاره د امام قرءة کافي دی.

۱-(سنن كبرى للبيهقى ج ۲ص ۱۵۷ سنن ابی داود، ج ۱ص ۱۳۰)
۲-(اللفظ لابن ماجه ص۱٦) (اخرجه محمد في الموطاص۹۸ _ ۹۹)

يعني کوم سرى چې د امام پسې لمونځ کوي نو د ده لپاره د مستقل قرائت ضرورت نشته، بلکې د امام قرائت د مقتدي قرائت دی، او د امام لوستل د مقتدي لوستل دي، په دې حديث شريف کې هم د سري او د جهري قيد نشته، لهذا احديث کريمه د خپل عموم په بناء باندې هر لمانځه ته شامل دی.

(۹) په ابن ماجه (ص: ۸۸، طحاوی ج۱\ص: ۲۳۵ مشکل الاثار ج۲\ص: ۲۷، طبقات ابن سعد ج۳\ص: ۱۳۰ نصب الرايه ج۲\ص: ۵۱، درايه ص: ۱۰۰، فتح الباری ج۲ ص: ۱۴۵) وغيره کتابونو کې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه يو اوږد حديث دی، د هغې خلاصه داده چې کله رسول الله ﷺ په مرض الوفات باندې مبتلي شو نو د امامتي فرايض يې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ته حواله کړل ابوبکر صديق رضی الله عنه امامتي کوله.

يوه ورځ د رسول الله ﷺ په مرض کې يو څه تخفيف راغلو، نو رسول الله ﷺ په دوو کسانو باندې لاسونه اچولي وو، او ورو ورو مسجد ته راغی، د رسول الله ﷺ د راتلو څخه مخکې ابوبکر صديق رضی الله عنه لمونځ شروع کړی وو کله يې چې د رسول الله ﷺ راتلل محسوس کړل، نو وروسته کيده، رسول الله ﷺ ورته اشاره وکړه چې پخپل ځای ودريږه ابوبکر صديق رضی الله عنه د جايئنماز څخه وروسته شو او رسول الله ﷺ په جايئنماز کيناستلو او امامتي يې شروع کړه او ابوبکر صديق رضی الله عنه مکبر شو، د رسول الله ﷺ آواز به يې په زوره ويلو او وروسته صفونو ته به يې رسولو، را روان الفاظ د توجه قابل دي.

وَأَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنَ الْقِرَاءَةِ مِنْ حَيْثُ كَانَ بَلَغَ أَبُوْبَكْرٍ رضی الله عنه

رسول الله ﷺ قراءة د هغه ځایه شروع کړو تر کومه ځایه چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه لوستلې وو. (١)

په یو بل روایت کې الفاظ داسې دي چې: (فاستفتح النبي ﷺ من حيث انتهي ابوبكر رضي الله عنه من القرءان) (٢)

پس رسول الله ﷺ قراءة د هغه ځایه شروع کړو، تر کومه ځایه چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه لوستلي وو. (٣)

په یو دریم روایت کې الفاظ داسې دي (فاستتم رسول الله ﷺ من حيث انتهي ابوبكر من القرءاة) رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه قراءة پوره کړو، په کوم ځای چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه اودرولې وو (٤)

د دې حدیث څخه معلومیږي چې د رسول الله ﷺ څخه ټوله سورة فاتحه تیره شوې وه، او یا ترینه د سورة فاتحې اکثره حصه تیره شوې وه، ځکه چې رسول الله ﷺ سخت مریض و، په دوو کسانو یې لاسونه اچولې وو، او په قلاره قلاره مسجد ته روان وو، او ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د راتللو څخه مخکې لمونځ شروع کړی وو، نو د دې حالاتو څخه صفا معلومیږي چې که سورة فاتحه مکمله نوې لوستل شوې نو اکثره حصه خو به یې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له راتللو نه مخکې ضرور لوستل شوې وه، مګر د دې باوجود رسول الله ﷺ د لمونځ اعاده ونه

١-(ابن ماجه شريف ص ٨٨، مسند احمد ج١|ص:٢٣٢)
٢- سنن الكبرى ج٣ | ص: ٨١، مسند احمد ج١| ص: ٢٣٢].
٣-(سنن كبرى للبيهقي، ج ٣ص ٨١)
٤-(طحاوي شريف جلداول ص ١٩٨)

فرمایله، دې لمونځ ته یې بیکاره او باطل ونه ویلو، بلکې صحیح یې وګڼلو کی
چیرته دا امام پسې د فاتحې لوستل فرض وی، رسول الله ﷺ به دا لمونځ صحیح نه
ګڼلو، بلکې باطل به یې ورته ویلې وو او ددې لمونځ اعاده به یې کړې وه.

دا حدیث بالکل صحیح دی، دده ټول راویان ثقه ثبت او حجت دي .(۱)

(۱۰) سورة فاتحه د دي امت خصوصیت دي . (۲)

الله پاک فرمائي چې:

ولقد اتينك سبعا من المثاني والقران العظيم

او رسول عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ چې معراج ته تللو نو په بیت المقدس کښې ئې ټولو پیغمبرانو ته امامتي ورکړه. او رسول علیه السلام الله انبیاؤ ته دا ونه ویل چې تاسو اول سورة فاتحه زده کړئ چې بیائي زما پسي ولولئ، ځکه چې زما په شریعت کښي بغیر د لوستلو د فاتحي څخه مونځ نه کیږي .نو محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امام دي. او یو لک څلیرشت زره کم او زیات پیغمبران مقتدیان دي. او دې مقتدیانو پیغمبرانو پخپله فاتحه نه ده لوستلي، بلکه د امام فاتحه ورته کافي وه. د غیر مقلدینو د فتوي مطابق د دې یو لک څلیریشت زره څه کم او زیاتو پیغمبرانو مونځ نه دي شوي، نو که د قیامت په ورځ دا پیغمبران راپاڅیږي، او غیر مقلدین د مری څخه ونیسي چې تاسو زمونږ مونځ ته ولې باطل ویلي دي؟ نو لا مذهبه به څه جواب ورکوي؟

۱-(فتح الباری ،ج۵ ا ص : ٦۲۹).

۲- نسائي صــ ١٤٥].

په جماعت باندي مونځ په دري قسمه دي

اول اعلیٰ : چې امام هم پیغمبر او مقتدیان هم پیغمبران وي لکه د معراج د شپې مونځ چې امام محمد وو او مقتدیان زیات او کم یو لک او څلیرشت زره پیغمبران وو.

دوهم متوسط : چې امام پیغمبر وي او مقتدیان امتیان وي. لکه نبي عَلَیۡہِ السَّلَامُ به چې صحابه کرامو ته امامتي کوله :

دریم أدنیٰ : چې امام هم امتي وي او مقتدیان هم امتیان وي. لکه زمونږ د زماني د جماعت لمونځونه .نو چې په اعلي مونځ کښي د امام (محمد عَلَیۡہِ السَّلَامُ) سورة فاتحه د مقتدیانو لپاره کافي ده، نو په متوسط او په ادني مونځ کښي په طریق اولي سره کافي ده.

(١١) د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ دبلې فتوی الفاظ داسې دي چې :
«لَيْتَ الَّذِي يَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ مُلِئَ فُوهُ تُرَابًا»(١)

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي چې هغه سړی چې د امام پسې الحمد لله لولي کاشکې چې دده خوله د خاورو څخه ډکه شوې وی.

(١٢) د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ د يو اثر الفاظ داسې دي چې:
«لَأَنْ أَعَضَّ عَلَى جَمْرَةِ العضا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقْرَأَ خَلْفَ الْإِمَامِ»(٢)

چې په انکار باندې خوله لګول د قرائت خلف الامام څخه راته ډېر خوښ دي.

(١٣) أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَالَ: لَيْتَ فِي فَمِ الَّذِي يَقْرَأُ خَلْفَ الإِمَامِ حَجَرًا(١)

١- (طحاوی شریف ص ١٠٧)

٢-[کتاب القرائة / ١١٦].

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائي چې کاشکې د هغه چا په خوله کې تيږه وي چې د امام پسې قرائت کوي.

(۱۴) عَنْ سَعْدِبنِ وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «وَدِدْتُ أَنَّ الَّذِی يَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ فِی فِيهِ جَمْرَةٌ».(٢)

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائي چې زما تمنا او خواهش دی چې د امام پسې د قراءة کونکي په خوله کې انګار وي.

(۱۵) عبدالرزاق فرمايي چې:

وَأَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ، كَانُوا يَنْهَوْنَ عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ».(٣)

امام عبدالرزاق فرمايي : چې ماته موسی بن عقبه خبر راکړو چې ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه به صحابه منعه کول د امام پسې د قرائت څخه.

(١٦) قال الشعبي ادركت سبعين بدريا كلهم يمنعون المقتدي عن القرائة خلف الامام .(٤)

حضرت امام شعبی رَحِمَهُ اللَّهُ چې لوی تابعي دی فرمائي چې ما اویا (٧٠) بدري صحابه کرام ليدلي دي چې هغوی به خلک د امام شاته د قرائت څخه منعه کول.

١-(موطاامام محمد ص٩٨/)

٢-[موطأ امام محمد ص ٩٨/)

٣-[مصنف عبدالرزاق ،ج ٢ص ١٣٩)

٤- (روح المعانی ج٩ ص١٥٢)

دامام د ولاالضالين ويلو په وخت کې د مقتديانو په پټه (خفيه) آمين لوستل

(١) عن وائل رضي الله عنه قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا قَرَأَ: {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: ٧] قَالَ: «آمِينَ» وَأَخْفَى بِهَا صَوْتَهُ، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى، وَسَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ ".(١)

حضرت وايل بن حجر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته مونځ راکړو، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم (غير المغضوب عليهم ولاالضالين) ولوستلو نو آمين يې وويل او اوازيې ورباندې پټ کړو، يعنې په پټه يې ولوستلو، او ښي لاس يې په چپ لاس باندې کېښودلو، او ښي او چپ طرف ته يې سلام وګرځولو.

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا قَالَ الإِمَامُ: {غَيْرِ المَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ} [الفاتحة: ٧] فَقُولُوا: آمِينَ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ المَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ". (٢)

دحضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله امام (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ) ووائي نو تاسو امين ووائي (په دغه وقت کې ملايکې هم امين وائي) نو دچا امين چې د ملايکو د امين سره موافق شو دده تيرګناهونه به معاف شي.

دملايکو امين : د فکر کولو څخه وروسته د ملايکو په امين کې درې شيان رامعلوميږي.

١- مسند أحمد ج٤/٣٣٦ رقم ١٩٠٥٩] ترمذي رقم ٢٤٨،٢٤ صـ ١٢٧.
٢-[صحيح بخاری، ج١ص ١٠٨ / رقم: ٧٨٢/ ٤٤٧٥)

اول دملايکو امين په مونځ کې هيڅ ځکله هم ندی اوريدلي ، نو ظاهره ده چې هغوی په پټه امين وائي .

دوهم ملايکی بغير دلوستلو دالحمد لله څخه امين وائي .

دريم ددوي دامين لپاره خاص وقت دی، يعنې چې کله امام ولاالضالين ووائي نو دوي امين وائي .

اهل سنت والجماعت احنافو ته زيرى

مونږ اهل سنت والجماعت احناف دالله ﷻ په فضل او کرم سره ددې زيرې پوره پوره مستحق يو ، چې دوقت او وصف په هر اعتبار سره زمونږه امين د ملايکو دامين سره موافق دی .

(۱) لکه څرنګه چې ملايکې په پټه امين وائي مونږه يې هم په پټه وايو .

(۲) ملايکې بغير دلوستلو دالحمد لله څخه امين وائي، مونږ احناف مقتديان هم بغير دلوستلو دالحمد لله څخه امين وايو .

(۳) ملايکې په هغه وخت کې امين وائي چې کله امام (ولا الضالين) ووائي، يعنی دفاتحې دختميدلو څخه وروسته امين وائي ، مونږ هم په هغه وخت کې امين وايو چې کله دامام فاتحه ختمه شي .

(۳) عَنِ الْحَسَنِ رحمه الله، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رضي الله عنه، "أَنَّهُ كَانَ إِذَا صَلَّى بِهِمْ سَكَتَ سَكْتَتَيْنِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ، وَإِذَا قَالَ: {وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة:۷] سَكَتَ أَيْضًا هُنَيَّةً"، فَأَنْكَرُوا ذَلِكَ عَلَيْهِ، فَكَتَبَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ أُبَيٌّ أَنَّ الْأَمْرَ كَمَا صَنَعَ سَمُرَةُ.(۱)

۱-(رواه احمد/ مسند احمد / رقم: ۲۰۵۳۰)

حضرت حسن د حضرت سمرة ﷺ څخه روایت کوي چې ده به کله لمونځ کولو نو دوه سکتې به یې کولې یوه د لمانځه د شروع په وخت کې او دوهمه به یې د(ولاالضالین) څخه وروسته لږه سکته کوله.

خلکو ددې څخه انکار وکړو، بیا دوی په دې باره کې حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ته ولیکل، نو حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه جواب ورکړو چې بې شکه حکم همداسې دی لکه څرنګه چې حضرت سمرة ﷺ کړی دی.

ددې احادیثو څخه معلومیږي چې رسول الله ﷺ به همیشه دوه سکتې کولې.

اوله : د اول الله اکبر څخه وروسته یعنې د(سبحنک اللهم) لپاره وه، دا اوږده سکته وه، چې په دې باندې د دواړو صحابه وو کرامو اتفاق وو.

دوهمه : د ولاالضالین څخه وروسته دومره باریکه سکته وه چې حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه ورته بالکل متوجه نه شو او مختصره سکته د مختصر عمل له پاره وي. اودا وخت د آمین وخت دی، نو چې د آمین په وخت کې سکته وه نو معلومیږی چې د آمین عمل جهراً نه و. همدارنګه په احادیثو کې په ډیر تکرار سره راغلي دي چې دولاالضالین څخه وروسته امین دی، نو دوهمه سکته د امین لپاره ده، په دې احادیثو کې د سبحنک اللهم او امین دواړو لپاره د سکتې لفظ استعمال شوی دی، او سبحنک اللهم خو اتفاقاً په پټه لوستلې شي نو همدارنګې به امین هم په پټه لوستلې شي.

(۴) عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ وَعَبْدُ اللهِ لَا يَجْهَرَانِ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَلَا بِالتَّعَوُّذِ وَلَا بِالتَّامِيْنِ.(١)

١- [رواه الطبراني في الكبير/ ج ٤ / ص ٥٦٦)

دابو وایل ﷺ څخه روایت دی چې خلیفه راشد حضرت علی ﷺ او حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په لمانځه کې بسم الله الرحمن الرحیم او امین په زوره نه لوستلو.

د تکبیر ویلو سره رکوع کول:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلوٰةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ(١)

د ابي هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله لمونځ ته ودریدلو نو د قیام په حالت کې به یې تکبیر ویلو، بیا به چې رکوع ته تللو نو تکبیر به یې وویلو.

د رکوع په حالت کې په ورغوو زنګنونه نیول او ګوتې فراخه نیول او څنګلې دا ړخونو څخه جدا ساتل

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې:

يَا بُنَيَّ إِذَا رَكَعْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَفَرِّجْ بَيْنَ أَصَابِعِكَ وَارْفَعْ يَدَيْكَ عَنْ جَنْبَيْكَ(٢)

ای بچیه! چې کله رکوع کوې نو دواړه ورغوي په زنګنونو کیږده او د ګوتو په منځ کې جدا والی راوله او څنګلې دا ړخونو څخه جدا وساته.

١-(صحيح البخاري، ج١صـ١٠٩، باب التكبير اذا قام من السجود)

٢-(المعجم الاوسط للطبراني، ج٤صـ١٨١، رقم ٥٩٩١)

په رکوع کې سبحان ربی العظیم ویل:

عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ يَقُوْلُ: فِيْ رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ وَفِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى (١)

د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دی چې: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لمونځ وکړو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په رکوع کې سبحان ربی العظیم او په سجدو کې سبحان ربی الاعلی لوستلو.

د سبحان ربی العظیم درې ځلې لوستل:

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَقَالَ فِيْ رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ رُكُوْعُهُ وَذَالِكَ أَدْنَاهُ (٢)

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې: نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې په تاسو کې چې څوک په رکوع کې درې ځلې سبحان ربی العظیم ولولي، نو دهغه رکوع پوره شوه او دا کمه مرتبه د (کاملې) تسبيح ده.

د امام لپاره سمع الله لمن حمده او د مقتدي لپاره دربنا لک الحمدويل:

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. (٣)

١-(سنن ابی داود، ج١صـ ١٣٤، باب ما يقول الرجل فی رکوعه وسجوده)

٢-(جامع الترمذی، ج ١صـ ٦٠، باب ماجاء فی التسبيح فی الرکوع والسجود)

٣-(صحيح مسلم ج١صـ ١٧٦، باب التسميع والتحميد والتأمين)

د ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله امام سمع الله لمن حمده ووايي، نو تاسو اللهم ربنا لک الحمد ووايئ.

د منفرد (يواځې لمونځ کونکي لپاره دسمع الله لمن حمده او ربنا لک الحمد دواړو ويل

عن ابي هريرة رضی الله عنه كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ(١)

د حضرت ابي هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله لمونځ ته ودريدلو نو په ولاړه به يې تکبير ويلو، بيا به چې رکوع ته تللو نو تکبير به يې وويلو، او چې د رکوع څخه به پورته شو نو سمع الله لمن حمده به يې وويل او بيا به يې په ولاړه ربنا لک الحمد وويلې.

د رکوع څخه وروسته قومه کول:

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم يو کس ته لمونځ ښودلو نو ورته وې فرمايل چې:

ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِماً(٢)

بيا رکوع وکړه تر دې چې په اطمنان سره رکوع وکړې او بيا د رکوع څخه پورته شه تر دې چې ښه په اطمنان سره ودريږې.

١- (صحيح البخاری، ج١صـ١٠٩، باب التکبير اذا قام من الرکوع)

٢-(صحيح البخاري ج١صـ١٠٩، باب امر النبي صلى الله عليه وسلم، الذی لايتم رکوعه بالاعاده)

رکوع ته د تللو او درکوع څخه د راپورته کيدلو په وخت کې رفع اليدين نه کول

(۱) الله جل جلاله فرمايي:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (۱)

په تحقيق سره هغه مؤمنان کامياب دي چې په لمانځه کې خشوع کونکي وي.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د (خاشعون) په تشريح کې فرمايي چې:

مخبتون متواضعون لا يلتفتون يمينا ولا شمالا ولا يرفعون ايديهم في الصلوة.

(تفسير ابن عباس رضی الله عنه ص۲۱۲ طبع مردان ص ۳۵۹ قديمي کتب خانه) ويريدونکي عاجزي کونکي دي او ښي او چپ طرف ته نه ګوري او په لمانځه کې رفع اليدين نه کوي.

(۲) عن جابر رضی الله عنه قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا لِي أَرَاكُمْ رَافِعِي أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمُسٍ؟ اسْكُنُوا فِي الصَّلَاةِ». (۲)

دحضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ زمونږ خواته تشريف راوړو. (په داسې حال کې چې مونږ لمونځ کولو او په لمانځه مو رفع اليدين کول نو رسول الله ﷺ د ډيري ناراضګۍ په حالت وفرمايل) چې زه ولې تاسو د رفع اليدين په کولو باندې ګورم لکه د شريرو اسونو دلکيو په شان؟ دلمانځه په داخل کې ساکن او سيږئ. (يعني رفع اليدين مه کوئ).

۱-(سورة المؤمنون ۲-۱.

۲-(صحيح مسلم ،ج ۱ ص ۱۸۱

ظاهره دي وي چې دلمانځه په داخل کې چې څومره تېتیدل او جيګيدل دي، ددې ټولولپاره درفع اليدين څخه منع راغله ، دتکبير تحريمه رفع اليدين دلمانځه دداخل رفع اليدين نه دی بلکې دلمانځه دشروع کولو رفع اليدين دی لدې وجهې دهغې څخه په دی حديث کې منع نه ده راغلې .

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِي إِلَّا فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ: حِينَ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ، وَحِينَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ فَيَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ، وَحِينَ يَقُومُ عَلَى الصَّفَا، وَحِينَ يَقُومُ عَلَى الْمَرْوَةِ، وَحِينَ يَقِفُ مَعَ النَّاسِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ وَبِجَمْعٍ وَالْمَقَامَيْنِ، وَحِينَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ».(۱)

د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې رفع اليدين صرف په اوو ځايونو کې کيږي ۱- د لمانځه په شروع کې ۲- د بيت الله شريف د ملا قات په وخت کې ۳- په صفا باندې ۴- په مروه باندې ۵- دعرفات ۶- د مزدلفې د وقوف په وخت کې ۷- او د رمی د جمراتو په وخت کې .

(۴) قَالَ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَصَلَّى، فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ.(۲)

حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه يوه ورځ اعلان وکړ چې ايا زه تاسو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمونځ خبر نکړم ؟ راوي وايي چې پس پاڅيدو او صرف په اول کې يې رفع اليدين وکړل او دوباره يې ونکړل .

۱-(نصب الرايه ج۱ ص ٤٦٩ بمجمع الزوائد رقم ٥٤٦١).

۲-(ترمذی باب ماجاء ان النبی صلی الله عليه وسلم لم يرفع الا فی اول مرة عندالركوع، وفی لسخة الشيخ صالح بن عبدالعزيز باب ماجاء أن النبي صلى الله عليه وسلم لم يرفع الا فی اول مرة رقم ٢٥٧). باب رفع اليدين اول مرة رقم (٢٥٧).

(٥) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ وَمَعَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَلَمْ يَرْفَعُوا أَيْدِيَهُمْ إِلَّا عِنْدَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى فِي افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ". قَالَ إِسْحَاقُ رحمه الله: بِهِ نَأْخُذُ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا. (١)

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي چې ما د رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ او د حضرت عمر فاروق ﷺ پسې لمونځونه کړي دي.

نو دې ټولو حضراتو د لمانځه د شروع څخه وروسته په بل هيڅ ځای کې لاسونه نه دي پورته کړي.

امام اسحق فرمائي چې مونږ په ټولو لمونځونو کې په همدي حديث عمل کوو او رفع اليدين نه کوو.

(٦) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ لِافْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَكُونَ إِبْهَامَاهُ قَرِيبًا مِنْ شَحْمَتَيْ أُذُنَيْهِ، ثُمَّ لَا يَعُودُ (٢)

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ به چې کله د لمانځه د شروع کولو لپاره الله اکبر کړو، نو د غوږونو تر نرميو پورې به يې لاسونه جيګ کړل او بيا به يې په نور لمونځ کې نه جيګول.

(٧) عَنْ ابن عمر رضي الله عنهما قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا» وَقَالَ بَعْضُهُمْ: حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ وَبَعْدَ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَا يَرْفَعُهُمَا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: وَلَا يَرْفَعُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ، وَالْمَعْنٰى وَاحِدٌ. (٣)

١-(دارقطني، ج ١ص ٣٩٩/ رقم ١١٢٠/)

٢-[طحاوي رقم ١٣١٣].

٣-[مسند ابي عوانة رقم الحديث ١٥٧٢ دارالمعرفه بيروت لبنات] بيانُ رفع اليدين في افتتاح الصلوة قبل التكبير بحذاء منكبيه وللركوع ولرفع رأسه من الركوع وأنه لايرفع بين السجدتين.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمايي چې: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم وليدلو چې كله يې لمونځ شروع كړونو لاسونه يې اوچت كړل او فرمايلي دي بعضو چې تر اوګو رپورې يې اوچت كړل، او چې كله يې دركوع اراده وكړه او دركوع څخه يې سر را اوچتولو نو رفع اليدين يې ونه كړل او بعضو ويلي دي چې دسجدو په مابين كې يې هم لاسونه نه اوچتول د(والمعنى واحد)مطلب دادى چې په ركوع او بين السجدتين دواړو ځايونو كې راويانو دترک درفع اليدين روايت كړى دى.

(۸) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ نَرْفَعُ أَيْدِيَنَا فِيْ بَدْءِ الصَّلٰوةِ وَفِيْ دَاخِلِ الصَّلٰوةِ عِنْدَ الرُّكُوْعِ - فَلَمَّا هَاجَرَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ تَرَكَ رَفْعَ الْيَدَيْنِ فِيْ دَاخِلِ الصَّلٰوةِ عِنْدَ الرُّكُوْعِ وَثَبَتَ عَلٰى رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِيْ بَدْءِ الصَّلٰوةِ()

دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دى مونږ به درسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مكه مكرمه كې دتكبير تحريمه او ركوع ته دتللو او دركوع څخه دراجيګيدلو په وخت كې رفع اليدين كول، كله چې نبى عليه السلام مديني منورې ته تشريف راوړو نو دركوع رفع اليدين يې پريښودل او دتكبير په رفع اليدين باندې ثابت پاتې شو.

فائده : په دې صحيح حديث كې دمكې او دمدينې په عمل باندې تصريح ده، يعنې رفع اليدين دمكې څخه شروع وو او تر هغه وخته پورې جاري وه څومره چې دالله جل جلاله اراده وه، بيا په مدينه منوره كې په اخرو ورځو كې متروک او منسوخ شول او دتكبير تحريمه رفع اليدين په خپل حال باندې پاتې شول.

- توفى اخبار الفقهاء والمحدثين صفحه ٢١٤ رقم ٣٧٨ واسناده صحيح.

(٩) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ الصَّلَاةِ ثُمَّ لَا يَعُودُ.(١)

حضرت على رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به صرف د لمانځه د شروع كولو په وخت كې رفع اليدين كول او بيا به يې نه كول.

فائده: په بعضو رواياتو كې ركوع ته دتللو او دركوع څخه درا پورته كيدلو په وخت كې د رفع اليدين دكولو ذكر هم راغلى دى، لكن هغه روايات منسوخ اومتروک دي.

د الله اكبر د ويلو سره سجده كول:

عن أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ(٢)

ابو هريرة رضى الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې كله لمانځه ته ودريدلو، نو الله اكبر به يې وويلو، بيا به يې الله اكبر وويلو او ركوع به يې وكړه، بيا به چې د ركوع څخه را وچتيدو نو سمع الله لمن حمده به يې وويله، بيا به يې په ولاړه ربنا لک الحمد وويلې، بيا به د الله اكبر د ويلو سره سجدې ته لاړو، بيا به د الله اكبر د ويلو سره د سجدې څخه را پورته شو، بيا به د الله اكبر ويلو سره سجدې ته لاړو، بيا به د الله اكبر د ويلو سره د سجدې څخه راپورته شو.

١-(العلل الواردة فى الاحاديث النبويّه للدار قطنى ج٤ ص ١٠٦ سوال نمبر ٤٥٧ قلت انفرد برفعه عبد الرحيم بن سليمان وهو ثقة).

٢-(صحيح مسلم ج١ صـ ١٦٩، باب اثبات التكبير فى كل خفض ورفع فى الصلوة)

سجدې ته د تللو په وخت کې اول زنگنونه، بيا لاسونه، بيا تندی په زمکه کېښودل

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضَعُ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ إِذَا سَجَدَ(۱)

د وائل ابن حجر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به سجدې ته د تللو لپاره اول زنگنونه کېښودل، بيا به يې لاسونه کېښودل.

سجده په اووه اندامونو کول:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أُمِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْضَاءٍ وَلَا يَكُفَّ شَعَرًا وَلَا ثَوْبًا الْجَبْهَةِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ(۲)

دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوو اندامونو باندې دسجدې حکم کړی دی (او دا حکم يې کړی چې) خپل ويښته او جامې دې نه راغونډوي(هغه اووه اندامونه دادي) تندی، دواړه لاسونه، دواړه زنگنونه او دواړه پښې.

په سجده کې درې ځله سبحان ربّی الاعلی ويل:

عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ، فَقَالَ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ رُكُوعُهُ، وَذَلِكَ أَدْنَاهُ، وَإِذَا سَجَدَ، فَقَالَ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ سُجُودُهُ، وَذَلِكَ أَدْنَاهُ(۳)

۱-(صحيح ابن خزيمه، ج۱صـ ۳۴۲، باب البدء بوضع الركبتين على الارض قبل اليدين)
۲-(صحيح البخاري، ج۱صـ ۱۱۲، باب السجود على سبعة اعظم)
۳-(جامع الترمذی ج۱صـ ۶۰، باب ما جاء فی التسبيح فی الركوع والسجود)

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې: چاچې په رکوع کې درې ځلې سبحان ربّی العظیم او په سجده کې درې ځلې سبحان ربّی الاعلی وویلې، نو دده رکوع او سجده پوره شوه او دا کمه مرتبه د (کاملې) رکوع او سجدې ده.

د سجدو په منځ کې جلسه کول:

ابی هریرة رضی الله عنه فرمایلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کس ته چې لمونځ یې په اطمنان سره اداء کړی نه وو دا هم وفرمایل:

ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا(١)

بیا بنه په اطمنان سره سجده وکړه بیا د سجدې څخه راپورته شه او بنه په اطمنان سره جلسه وکړه.

په سجده کې مخ د لاسونو په منځ کې کېښودل:

عَنْ وَائِلِ ابْنِ حَجَرٍ قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ(٢)

وائل ابن حجر رضی الله عنه فرمایلي دي چې: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اقتداء کې لمونځ وکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې سجده کوله، نو مخ مبارک به یې د ورغوو په منځ کې کېښودلو.

په سجده کې د لاسونو دګوتو یوځای کول:

عَنْ وَائِلِ ابْنِ حَجَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَجَدَ ضَمَّ أَصَابِعَهُ(٣)

١-(مشکوة، ج١صـ٧٩، باب صفة الصلوة)
٢-(شرح معانی الاثار، ج١صـ١٨٢، باب وضع الیدین فی السجود این ینبغی أن یکون)
٣-(صحیح ابن خزیمه، ج١صـ٣٤٧، باب الضم اصابع الیدین فی السجود)

وائل ابن حجر رضی الله عنه فرمايلي دي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې سجده کوله نو ګوتې به يې يو ځای کولې

په سجده کې د لاسونو د ګوتو قبلې ته مخامخ کول:

حضرت حفص ابن عاصم رضی الله عنه څخه روايت دی چې: يوه ورځ مې د عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما په څنګ کې لمونځ وکړو، کله مې چې سجده کوله نو ګوتې به فراخه(کولاو) نيولې، نو عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما راته وفرمايل چې: ای وراره!

أُضْمُمْ أَصَابِعَكَ إِذَا سَجَدْتَ وَاسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَاسْتَقْبِلْ بِالْكَفَّيْنِ الْقِبْلَةَ فَإِنَّهُمَا يَسْجُدَانِ مَعَ الْوَجْهِ(۱)

کله چې سجده کوې نو ګوتې را غونډې نيسه او د قبلې ته يې مخامخ کوه، او خپل ورغوي هم قبلې ته مخامخ کوه، ځکه چې دا هم د مخ سره سجده کوي.

په سجده کې د پښو ګوتې قبلې ته مخامخ کول:

د ابو حُميد الساعدي رضی الله عنه د حديث په اخر کې راځي چې:

وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ(۲)

رسول الله صلی الله عليه وسلم به په سجده کې د پښو ګوتې قبلې ته مخامخ کړې.

څنګلې د اړخ څخه جدا ساتل:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ الْأَسْدِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى نَرَى إِبْطَيْهِ قَالَ وَقَالَ ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا بَكْرٌ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ(۳)

۱-(مصنف عبدالرزاق، باب السجود، رقم ۲۹۳۸)

۲-(صحيح البخاري، ج۱ص ۱۱٤، باب سنة الجلوس فی التشهد)

۳-(صحيح البخاري، ج۱ص ۱۱۲، باب يبدی ضبعيه ويجافی فی السجود)

د حضرت عبد الله ابن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله سجده کوله، نو لاسونه به یې د ازخونو څخه دومره لرې ساتل چې د تخرګونو سپین والی به یې ښکاریدو.

د سجدې په حال کې څنګلې په زمکه نه لګول:

عن البراء رضی الله عنه قال: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ(١)

د حضرت براء رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کله چې تاسو سجده کوئ نو ورغوي په زمکه کیږدئ او څنګلې پورته وساتئ.

غیر معذور ته دوهم رکعت ته د پورته کیدلو په وخت کې (تیغ ودریدل) جلسه استراحت نه کول

(١) په بخاري شریف کې د مسئ الصلوة مشهور حدیث دی، د ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ خلاد بن رافع ته د لمانځه صحیح طریقه ښودله، نو د سجدې د خودنې څخه روسته یې ورته وفرمایل: (ثم ارفع حتی تستوی قائماً ثم افعل ذلک فی صلوتک کلها) یعنې بیا د دوهمې سجدې څخه وروسته نیغ ودریږه، نو دلته رسول الله ﷺ د سیده دریدو حکم کړی دی، او د ناستې ذکر یې ندی کړی (بخاري ج٢ صفحه ٩٢٤ و ٩٨٦)

امام بخاري رحمه الله دا حدیث په بله طریقه هم روایت کړی دی په هغې کې د(حتی تستوي قایماً) پر ځای (حتی تطمئن جالساً) دی(١)

---

(١) صحیح مسلم ج١ صـ ١٩٤، باب الاعتدال فی السجود الخ)

مګر حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې دا د کوم راوي وهم دی او صحيح روايت (حتى تستوي قايما) دی. (۱)

(۲) د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه په حديث کې دي، چې په څلور رکعته لمونځ کې دوه ويشت تکبيره سنت دي. (۲)

محدث کبير امام طحاوي فرمايي چې: لمونځ د قولي او بدني عبادت مجموعه ده پدې کې چې ديو حالت څخه د بل حالت ته طرفته انتقال کيږي، نو د (اقم الصلوة لذکري) مطابق ذکر ورسره کيږي، مثلاً د قيام څخه چې رکوع ته ځي الله اکبر ورسره ويل کيږي، د رکوع څخه چې قومې ته ځي سمع الله لمن حمده ورسره ويل کيږي دا رنګه سجدو ته د تللو او د سجدو څخه د جګيدلو په وخت کې الله اکبر ويل کيږي، لکن د دې جلسې لپاره شريعت هيڅ ذکر نه دی مقرر کړی، کنه بيا به تکبيرات دوه ويشت نه بلکه څلور ويشت شي، نو داسې فعل چې د ذکر څخه خالي وي، لکه جلسه د استراحت، په عبادت او په افعالو د لمانځه کې نه شي شمارل کيدې ځکه چې د دې قول د الله ﷻ مخالفت لازميږي چې (اقم الصلوة لذکري) (۴)

(۳) حضرت ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي چې: (کان النبي ﷺ ينهض على صدور قدميه) (ترمذي باب کيف النهوض من السجود) يعنې رسول الله ﷺ به په خپلو

۱-(بخاري ج ۲ ص: ۹۲٤) کتا ب الاستيذان باب من رد فقال عليک السلام.
۲-(فتح الباري ج ص۲۳۱).
۳-(بخاري ج ۱ صفحه ۱۰۸)
٤- طحاوي ج ۲ص ٤٤٤].

بن اياس ضعيف دی ،لکن پدې باندې د اهل علمو عمل دی،يعني د مؤيد بالعمل پنو مبارکو سيده ودريدلو، امام ترمذي فرمايي چې ددې حديث يو راوي خالد ضعف مضر ندی.
کيدو له وجې دا

(۴) غير مقلدين د رفع اليدين په مسئله کې دابو حميد الساعدي ﷺ حديث دلسو صحابه وو دتائيد سره په ډير زور او شور سره پيش کوي، لکن په همدغې حديث کې دجلسي داستراحت په باره کې ورته دا الفاظ په نظر ښخه ورځي چې رسول الله ﷺ ددوهمي سجدې ښخه سيده جګ شوی دی او ناست ندی، يعني (جلسه داستراحت يې نده کړې(١)

(۵) حضرت ابو مالک اشعری ﷺ چې کله خپل ټول قوم ته د رسول الله ﷺ دلمونځ طريقه ورخودله نو په هغې کې يې داول تکبير ښخه ما سوی په بل هيڅ ځای کې رفع الدين ونکړل او نه يې پکې جلسه داستراحت وکړه. (٢)

(۶) امام شعبی چې دپنځو سوو صحابه وو زيارت يې په نصيب شوی وو، فرمايي چې حضرت عمر ﷺ حضرت علي ﷺ او د رسول الله ﷺ نور صحابه کرام رضوان الله عليهم به په خپلو قدمونو سيده جګيدل (جلسه داستراحت به يې نکوله)(٣)

(۷) حضرت نعمان بن ابي عياش ﷺ فرمايي چې: (ادرکت غير واحد من اصحاب النبي ﷺ کانوا ينهضون فی الصلوة علی صدور اقدامهم). يعني ما ډيرو

١-(طحاوي ج صفحه ٤٤٤)
٢-(مسند احمد صفحه ٣٤٣ ج ٥)
٣- مصنف ابن ابی شيبه صفحه ٣٩٤ ج ١ ، نصب الرايه ج ١ صفحه ٣٨٩]

صحابه وو سره ملاقات کړی دی، پدوی کې هیڅا جلسه د استراحت نکوله، بلکې پخپلو پښو به سیده دریدل (۱)

(۸) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ حضرت عبدالله عمر ﷺ حضرت عبدالرحمن بن ابي لیلی رحمه الله حضرت ابن عمر ﷺ حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله یو هم جلسه د استراحت نه کوله(۲)

(۹) د ایوب سختیاني رحمه الله د کلام حاصل دادی، چې ما دیو بوډا (عمرو بن سلمة ﷺ څخه ما سوی نور هیڅوک په جلسه د استراحت ندي لیدلي (۳)

(۱۱) حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ په لمانځه کې جلسه داستراحت نده کړی. (۴)

(۱۰) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ هم دا جلسه نکوله. [معجم طبراني کبیر (۵)

امام عبد البر رحمه الله وغیره رحمهم الله فرمایي چې امام مالک رحمه الله امام محمد رحمه الله امام اوزاعي رحمه الله او امام ثوری رحمه الله هم د جلسې د استراحت قایل نه وو. (۱)

(۱۱) حضرت ابو سعید خدري ﷺ هم جلسه د استراحت نه کوله (۲)

۱-(مصنف ابن ابي شيبه صفحه ۳۹٤ ج۱) وفي الرواية قام كما هو ولم يجلس ص۳۹۵].

۲-(مصنف عبد الرازق ج ۲ صفحه ۱۷۸)

۳- (بخاري صفحه ۱۱۳ ج۱)

٤- مصنف ابن ابي شيبة ج۱/ ص۳۹٤].

۵- ج۱/ ص۲٦٦]. بيهقي ج۲/ ص۱۲۵].

٦-(تمهيد، كتاب الحجه صفحه ۳۱۷ ج ۱] الجوهر النقي ج۲/ ص۱۲۵].

۷- (بيهقي ج۲/ ص۱۲۵نصب الرايه ج ۱ صفحه ۳۸۹)

دعذر یا د بوډاوالي له وجې نه جلسه د استراحت کول:

دبخاري په کوم حدیث کې چې دجلسې داستراحت ذکر دی، نو خپله ددې حدیث یو راوي ایوب سختیاني رحمة الله علیه فرمایي چې یو بوډا به په لمانځه کې جلسه داستراحت کوله یعني (عمرو بن سلمه رضي الله عنه) (۱)

په دوهم رکعت کې د الحمدلله څخه مخکې بسم الله لوستل:

عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ لَا يَضَعُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَبْلَ السُّوْرَةِ وَبَعْدَهَا إِذَا قَرَأَ بِسُوْرَةٍ أُخْرٰى فِي الصَّلوٰةِ (۲)

عبدالله ابن عمر رضی الله عنه به د سورة فاتحې څخه مخکې بسم الله الرحمن الرحیم لوستله او ددې څخه وروسته دبل سورة څخه مخکې به یې هم لوستله.

اول رکعت اوږد او دوهم رکعت لنډ کول:

ابو قتادة رضی الله عنه فرمایلي دي چې:

كَانَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَيُقَصِّرُ فِي الثَّانِيَةِ (۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سحر دلمانځه اول رکعت اوږد او دوهم رکعت لنډ کولو.

د هر دوه رکعتونو څخه وروسته قعده کول:

ام المومنین حضرت عایشه صدیقه رضی الله عنها فرمائي چې:

(كَانَ يَقُوْلُ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ).

رسول الله ﷺ به فرمایل چې په هر دوو رکعتونو کې التحیات ده. (۱)

۱-(بخاري ج۱ صفحه ۱۱۳) رقم الحديث ۸۲٤].

۲-(شرح معان الاثار، ج۱ص ۱٤٦، باب قراءة بسم الله الرحمن الرحيم فى الصلوة)

۳-(صحيح البخاري، ج۱ص ۱۰۵، باب القراءة فى الظهر)

په قعده کې د چپې پښې خملول او دښي پښې ودرول او په چپه (کسه) پښه کېناستل

عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنَ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا وَقَالَ: اِنَّمَا سُنَّةُ الصَّلٰوةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنٰى وَتَثْنِىَ الْيُسْرٰى (١)

عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمایلي دي چې: دلمانځه سنت دادي چې په تشهد کې ښی پښه ولاړه وساتې او چپه(کسه) پښه خملوې.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلٰوةَ بِالتَّكْبِيْرِ وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى (٢)

حضرت عائشې رضی الله عنها فرمایلي دي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تکبير سره لمونځ شروع کول او (په تشهد کې به یې) چپه(کسه) پښه خملوله او ښی پښه به یې ودروله.

د تشهد الفاظ:

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (٣)

په تشهدکې دګوتې سره اشاره کول او بیا بیا د ګوتې نه خوزول :

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُشِيْرُ بِإِصْبَعِهٖ إِذَا دَعَا وَلَا يُحَرِّكُهَا (٤)

١- (مسلم ج ١ص ١٩٤) باب مايجمع صفة الصلوة ... الخ

٢- (صحيح البخاري، ج١صـ ١١٤، باب سنة الجلوس فى التشهد)

٣-(صحيح مسلم، ج١صـ ١٩٥، باب ما يجمع صفة الصلوة)

٤-(صحيح البخاري ،كتاب الادب باب أخذ باليدين)

رسول الله صلى الله عليه و سلم به په گوته اشاره كوله او بيا بيا به يې نه خوزوله.

په تشهدکې گوته اوچتول او بيا ښکته کول:

وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَأَشَارَ بِأُصْبُعِهِ وَأَتْبَعَهَا بَصَرَهُ ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيدِ» يَعْنِي السبابَة. (٢)

عبدالله ابن عمر رضى الله عنهما به چې كله په لمانځه کې (په تشهد) کېناستلو لاسونه به يې په زنگنونو کېښودل او په گوته به يې اشاره وکړه او نظر به يې د گوتې د اشارې ځخه مخکې کولو نه ، بيا به يې فرمايل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې خامخا دگوتې اشاره په شيطان باندې د اوسپنې دگزار ځخه سخته لگيږي.

فائدة: ددې ځخه معلوميږي چې په گوته باندې داشارې کيفيت دادی چې اوچته به کړی شي او بيا به ټيټه کړی شي، ځکه چې د اوسپنې گزار وچتولی شي او بيا ټيټولي شي.

په اوله قعده کې صرف تشهد لوستل:

عَنِ الْحَسَنِ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: لَا يَزِيدُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ عَلَى التَّشَهُّدِ. (٣)

حسن بصري رحمه الله فرمايلي دي چې: لمونځ گزار دې په اولو داوړو رکعتونو کې د تشهد ځخه زيات ځه نه وايي.

١-(سنن النسائي، ج١صـ١٨٧، باب بسط اليسرى على الركبة)

٢- رَوَاهُ أَحْمد

٣-(مصنف ابن ابي شيبه،ج٣صـ٤٧، قدر كم يقعد في الركعتين الأولين، رقم ٣٠٣٨)

تشهد (التحيات) پټ لوستل:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يُخْفِيَ التَّشَهُّدَ(١)

عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایلي دي چې: سنت طریقه دادی چې تشهد پټ ولوستلی شي.

دریم رکعت ته د تکبیر سره اوچتیدل:

عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللّهِ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنَا وَعِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ فَكَانَ إِذَا سَجَدَ كَبَّرَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ كَبَّرَ وَإِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ(٢)

د مطرف بن عبد الله رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما او عمران بن الحصین د حضرت علي رضی الله عنه پسې لمونځ وکړو، نو هغه به د الله اکبر سره سجده کوله او د الله اکبر سره به د سجدې څخه را وچتیدلو او چې کله به دریم رکعت ته اوچتیدلو نو الله اکبر به یې ویل.

دلمانځه په اخری رکعتونو کې د سورة فاتحې لوستل، چپ ودریدل اود تسبیح لوستل درې واړه جایز دي

عَنْ عُبَيْدِ اللّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ رحمه الله، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَقُرْآنٍ، وَفِي الْعَصْرِ مِثْلَ ذٰلِكَ، وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنْهُمَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَفِي الْمَغْرِبِ فِي الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَقُرْآنٍ، وَفِي الثَّالِثَةِ بِأُمِّ الْقُرْآنِ" قَالَ عُبَيْدُ اللّهِ رحمه الله: وَأُرَاهُ قَدْ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ(٣)

١-(سنن ابی داود باب اخفاء التشهد، ج١ص ١٤٩)

٢-(صحيح البخاري، ج١ص ١١٤)

٣- (طحاوی ص١٤٢/ ج١).

د حضرت عبد الله بن ابی رافع رحمه الله څخه روايت دی چې حضرت علی ﷺ به په اولنيو دوو رکعاتونو د ماسپښين کې سورة فاتحه او يو بل سورة د قران لوستلو، هم دارنګه به يې د مازيګر د لمانځه په اولنيو دوه رکعتونو کې کول او په وروستيو دوو رکعتونو کې به يې سورة فاتحه لوستله او د ماښام په لمانځه کې به يې هم په اولنيو دوه رکعتونو کې سورة فاتحة او ورسره يو سورة د قران لوستلو او په اخري رکعت کې به يې صرف سورة فاتحه لوستله، حضرت عبد الله رحمه الله فرمايي چې زما خيال دی چې حضرت علی ﷺ دا عمل د رسول الله ﷺ څخه نقل کړی دی.

(۲) عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: شَكَا أَهْلُ الكُوفَةِ سَعْدًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَعَزَلَهُ، وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ عَمَّارًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَشَكَوْا حَتَّى ذَكَرُوا أَنَّهُ لاَ يُحْسِنُ يُصَلِّي، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا أَبَا إِسْحَاقَ! إِنَّ هَؤُلاَءِ يَزْعُمُونَ أَنَّكَ لاَ تُحْسِنُ تُصَلِّي، قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ رَحِمَهُ اللهُ: أَمَّا أَنَا وَاللَّهِ «فَإِنِّي كُنْتُ أُصَلِّي بِهِمْ صَلاَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَخْرِمُ عَنْهَا، أُصَلِّي صَلاَةَ العِشَاءِ، فَأَرْكُدُ فِي الأُولَيَيْنِ وَأُخِفُّ فِي الأُخْرَيَيْنِ»، قَالَ: ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ يَا أَبَا إِسْحَاقَ! الحديث. (۱)

د جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چې اهل الکوفه وو د سعد ﷺ څخه حضرت عمر ﷺ ته شکاية وکړو هغه حضرت سعد ﷺ معزول کړو او د هغه پر ځای عمار بن ياسر ﷺ مقرر کړو او د دوي شکايت تر دې پورې وو چې دا يې هم ياده کړه چې هغه مونږ ته ښه لمونځ هم نه راکوي. حضرت عمر ﷺ حضرت سعد ﷺ ته پيغام ورولېږلو او ورته يې وفرمايل چې: دا خلق په تا دا ګمان کوي چې ته دوي ته ښه لمونځ نه ورکوي! هغه ووېل چې قسم په الله چې زه دوی ته هغسې لمونځ کوم لکه

۱-[بخاری، ج۱ ص۱۰٤]

د رسول الله ﷺ او هيڅ کمی او نقصان پکې نه کوم، زه ورته د ماسخوتن دوه اولني رکعتونه اوږدوم او وروستي رکعتونه ورته مختصر کوم، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل چې: ای ابا اسحاقه زما هم په تا همدا ګمان و.

(۳) عَنْ أَبِي عَوْنٍ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لِسَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: لَقَدْ شَكَوْكَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى الصَّلَاةِ، قَالَ: «أَمَّا أَنَا، فَأَمُدُّ فِي الْأُولَيَيْنِ وَأَحْذِفُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ، وَلَا آلُو مَا اقْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» قَالَ: صَدَقْتَ ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ أَوْ ظَنِّي بِكَ(۱)

د ابو عون رحمه الله څخه روايت دی، فرمائي ما اوريدلي د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه، هغه به فرمايل چې حضرت عمر ﷺ حضرت سعد ﷺ ته وفرمايل چې دغه خلک ستا څخه شکايت کوي، په هر شي کې، تر دې چې په لمونځ کې هم شکايت کوي. سعد ﷺ وفرمايل چې زه په اولنيو دوه رکعاتونو کې اوږد قرائت کوم او په وروستنيو رکعتونو کې مختصر قرائت کوم. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وفرمايل چې رشتيا دې وويل! هم داسې ګمان مې په تا باندې دی

(٤) عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ رَحِمَهُ اللَّهُ قَالَ: «كَانَ - يَعْنِي عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - يَقْرَأُ فِي الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَسُورَةٍ، وَلَا يَقْرَأُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ(۲)

حضرت عبد الله بن ابی رافع رحمه الله فرمائي چې: حضرت علی ﷺ به د ماسپښين او مازيګر په اولنيو دوه رکعاتونو کې سورة فاتحه او يو بل سورة د قران لوستلو او په دوه وروستيو رکعاتونو کې يې قرائت نه کولو.

۱- (بخاری ج ۱ص ۱۰۶).

۲- (مصنف عبدالرزاق ج۲ص ۱۰۰).

(٥) عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ رحمه الله، عَنْ عَلِيٍّ وَعَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنهما، أَنَّهُمَا قَالَا: «اقْرَأْ فِي الْأُولَيَيْنِ، وَسَبِّحْ فِي الْأُخْرَيَيْنِ» (١)

د حضرت ابو اسحاق رحمه الله څخه روايت دی چې حضرت علي رضي الله عنه او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دواړو به فرمايل چې په اولنيو دوه رکعتونو کې قرائت وکړئ او په وروستيو کې تسبيحات ولولئ!

(٦) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ: «يُسَبِّحُ وَيُكَبِّرُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ. (٢)

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې په وروستيو دوه رکعتونو کې به تسبيحات او تکبيرات لوستلی شي.

(٧) عَنْ إِبْرَاهِيمَ رحمه الله قَالَ: «مَا قَرَأَ عَلْقَمَةُ رحمه الله فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ حَرْفًا قَطُّ». (٣)

حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله فرمائي چې حضرت علقمه رحمه الله په وروستيو رکعاتونو کې يو حرف قرائت هم ندی کړی.

(٨) عَنْ إِبْرَاهِيمَ رحمه الله قَالَ: «اقْرَأْ فِي الْأُولَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ، وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ سَبِّحْ» (٤)

حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله فرمائي چې په اولنيو دوه رکعتونو کې سورة فاتحه او يو بل سورة ولوله او په وروستيو دوه رکعتونو کې تسبيحات کوه!

١- (مصنف ابن ابی شیبه ج ١ص ٤٠٨).
٢- (مصنف ابن ابی شیبه ج ١ص ٤٠٩)
٣- (مصنف عبدالرزاق ج ٢ص ١٠١)
٤- (مصنف عبدالرزاق ج ٢ص ١٠١).

اخره قعده کول:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلتَّشَهُّدَ فِيْ وَسَطِ الصَّلٰوةِ وَفِيْ اٰخِرِهَا(١)

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایلي دي چې: ماته به رسول الله صلی الله علیه وسلم تشهد رابښودلو دلمانځه په منځ کې هم او دلمانځه په اخر کې هم.

د تشهد څخه وروسته درودشریف لوستل:

عَنْ فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ يَقُوْلُ سَمِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً يَدْعُوْ فِيْ صَلاَتِهِ لَمْ يُمَجِّدِ اللّٰهَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ «عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي». ثُمَّ عَلَّمَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم وَسَمِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَجُلاً يُصَلِّي فَمَجَّدَ اللّٰهَ وَحَمِدَهُ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ «اُدْعُ تُجَبْ وَسَلْ تُعْطَ(٢)

حضرت فضالة بن عبید رضی الله عنه فرمایلي دي چې: یو سړي په لمانځه کې نه د الله تعالی حمدوویلې اونه یې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود وویلې، نورسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې: ای لمونځ کونکیه! تا تلوار(جلتي) وکړه، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته طریقه وښودله (چې اول حمد او ثناء او بیا په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووایئ)بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یو بل سړی ولیدلو چې لمونځ کوي، او د الله تعالی دحمد او لویې یې بیان کړه او په نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې درود شریف

١- (مسند احمد رقم٤١٣٨)

٢-(سنن النسائي، ج١صـ ١٨٩،باب التحميد والصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم فى الصلوة)

وویلې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چې دعا وکړه ستا دعا

قبلیږي او د الله تعالی څخه یې غواړه، تاته درکولی کیږي.

د درود شریف الفاظ:

کعب ابن عجره رضی الله عنه فرمایلي دي چې:

سَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكُمْ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ(١)

مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په تاسو او اهل بیتو څنګه درود ووایو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل چې داسې ووایئ:

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

د درود شریف څخه وروسته دعاء:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا إِذَا كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ قُلْنَا السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ مِنْ عِبَادِهِ السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ وَفُلَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُولُوا السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلَامُ وَلَكِنْ قُولُوا التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمْ أَصَابَ كُلَّ

١-(صحيح البخاري، ج١صـ ٤٧٧).

عَبْدٍ فِي السَّمَاءِ أَوْ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو(۱)

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايلي دي چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې لمونځ کولو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې السلام على الله مه وايئ، ځکه چې صرف الله تعالى د سلامتيا ورکونکى دى، کله چې په تاسو کې څوک لمونځ کوي نو هغه ته پکار دي چې داسې ووايي: التحيات لله الخ نو بيا هغه ته اختيار دى چې کومه دعاء يې خوښه وي هغه دې وغواړي.

د لمونځ ختمول په سلام سره:

حضرت عايشې رضی الله عنها فرمايلي دي چې:

كَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ(۲)

رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ په سلام سره ختمولو.

د سلام الفاظ:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ يَسَارِهِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ(۳)

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ښي او چپ(کس) طرف ته سلام اړولو (او داسې به يې ويل): السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ

۱- (صحيح البخاري، ج۱صـ ۱۱۵، باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد وليس بواجب)

۲-(صحيح مسلم ج ۱صـ ۱۹۵، باب ما يجمع صفة الصلوة)

۳- (جامع الترمذي ،ج۱ صـ۶۵، باب ما جاء في التسليم في الصلوة)

د سلام کيفيت:

عَنْ سَعْدٍ قَالَ: كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ(١)

حضرت سعد رضی الله عنه فرمايلي دي چې ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ليدلو چې ښي او چپ(گس) طرف ته يې سلام واړولو، تر دې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اننگو سپين والی ليدلو.

د سلام څخه وروسته د امام مقتديانو ته مخ گرزول:

عَنْ سَمُرَةَ ابْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ(٢)

حضرت سمرة ابن جندب رضی الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د لمانځه څخه فارغ شو نو مونږ ته به يې مخ را واړه ولو او کېناستلو

لمانځه څخه وروسته اذکار:

د سلام اړه ولو څخه وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په مختلفو وختونو کې مختلف اذکار روايت شوي دي مثلا: (۳۳) ځله سبحان الله(۳۳) ځله الحمد لله(۳۴) ځله الله اکبر (٣)

د حضرت ثوبان رضی الله عنه په حديث کې ددې سره اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت ذا الجلال والاکرام هم راغلی دی (٤)

١-(صحيح مسلم، ج١ص-٢١٦، نسائي ج١ص-١٩٤ باب كيف السلام على اليمين)
٢-(صحيح البخاري، ج١ص-١١٧، باب يستقبل الامام الناس اذا سلم)
٣- (صحيح البخاري، ج١ص-٢١٩، باب استحباب الذكر بعد الصلوة)
٤-(صحيح مسلم، ج١ص-٢١٨، باب استحباب الذكر بعد الصلوة)

دلمانځه څخه وروسته په اجتماعي طريقه باندې دعا اود لاسونو اوچتول مستحب دي

(۱) أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ؟ قَالَ: جَوْفَ اللَّيْلِ الآخِرِ، وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ. (۱)

د حضرت ابو امامة رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمائي چې: يو چا له رسول الله ﷺ څخه سوال وکړو چې الله جل جلاله کومه دعا ښه قبلوي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل چې دشپې په اخره حصه کې او د فرض لمانځه څخه وروسته.

(۲) عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مِنَ الصَّلَاةِ، قَالَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ». (۲)

دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به چې دلمانځه څخه فارغ شونو دا دعا به يې کوله چې اللّٰهُمَّ اغفرلي... الي اخر الحديث.

(۳) وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يمسح بهما وجهه. (۲)

رسول الله ﷺ به چې په دعاء کې لاسونه اوچت کړل، نو بيرته به يې ترهغې پورې نه راواپس کول ترڅو به يې چې په مخ نه وو راکاږلي.

۱-(ترمذی ج ۲ص ۱۸۷).

۲- (ابوداودج ۱ص ۲۱۹).

۳- (ترمذی ج۲ص ۱۷٦).

(۴) امام البخاري په صحيح البخاري ج ۲ص ۷۲) کې باب قائم کړی دی په نوم د(باب الدعاء بعد الصلوة) ددې په تشريح کې حافظ ابن حجر فرمايي : قَوْلُهُ بَابُ الدُّعَآءِ بَعْدَ الصَّلَاةِ) أَيِ الْمَكْتُوبَةِ وَفِي هٰذِهِ التَّرْجَمَةِ رَدٌّ عَلٰى مَنْ زَعَمَ أَنَّ الدُّعَآءَ بَعْدَ الصَّلَاةِ لَايُشْرَعُ. (١)

(۵) امام نسائي په خپل کتاب السنن الکبری کې باب قائم کړی دی په نوم د(مايستحب من الدعاء دبر الصلوة المكتوبات (٢)

(٦) امام عبدالرزاق په خپل مصنف کې باب قائم کړی دی په نوم د(باب مسح الرجل وجهه بيده اذا دعا (٣)

د وترو د مسئلې اجمال:

د وترو په باره کې (۱۰) مسئلې دي : (۱) وتر واجب دي. (۲) وتر درې رکعته دي (۳) پوره کال درې رکعته دي.(۴) صرف په اخر کې سلام(يعني درې رکعته په يو سلام دي) (۵) دوه قعدې لري (۶) په هر رکعت کې يو سورة ، يعني درې سورتونه لوستل کيږي.(۷) د دعا قنوت الفاظ (۸)د عاء قنوت قبل الركوع دی (۹)رفع اليدين عند القنوت (۱۰)يو وضاحت

اوله مسئله: وتر واجب دي : د ابو ايوب انصاري رضی الله عنه په حديث کې د رسول الله ﷺ صريحي فرمان دادی چې وتر واجب دي رسول الله ﷺ فرمائي (الوترحق واجب علي كل مسلم) (١)

١-(فتح الباري ج١١ص ١٣٣، كتاب الدعوات ، دارالمعرفة ، بيرت)
٢- (السنن الكبرى للنسائي ج ٩ص ٤٧، كتاب عمل اليوم والليلة ، مؤسسة الرسالة، بيروت)
٣- (مصنف عبدالرزاق ج ٢ص ٢٥٢ ، كتاب الصلوة، المكتبة الاسلامی بيروت)

دحضرت بريدة ؓ څخه روايت دی چې مادرسول الله ﷺ څخه واوريدل چې فرمايل يې. الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا! الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا! الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا. (١)

يعنې وتر ثابت اولازم دي چاچې وتر ونکړل هغه زمونږ څخه نه دی، وتر ثابت اولازم دي چاچې وترونکړل هغه زمونږ څخه نه دی، وترثابت اولازم دی چاچې وترونکړل هغه زمونږ څخه نه دی. (حاکم او ذهبی ورته صحيح ويلي دي) (٢)

دوهم مسئله: وتر درې رکعته دي:

دريمه مسئله: پوره کال درې رکعته دي:

ددواړو مسئلو لپاره دليل: حضرت عايشه رضی الله عنه فرمايي چې:

مَاكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا، فَلَا تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا، فَلَا تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا (٢)

رسول الله صلی الله عليه وسلم به ټول کال د اتور رکعاتو تهجدو څخه وروسته درې رکعته وتر کول.

نو په دې حديث کې درې رکعته راغلل او ټول کال درې رکعته شوي دي.

١- اخرجه احمد وابن حبان واصحاب السنن الا الترمذی واخرجه ابو داود الطيالسي موقوفاً رقم الحديث ٥٩٣.

٢-(مشکوة باب الوتر، فصل ثالث)

٣- (ج ١ ص ٣٠٦).

٤-(صحيح البخاري ج ٥ص ١٥٤، باب قيام النبي بالليل وصحيح مسلم ج ١ص ٢٥٤)وعدد رکعات النبي صلى الله عليه وسلم)

څلورمه مسئله: صرف په اخر کې سلام يعنې درې رکعته په يو سلام دي، امام حاکم اول په دوو سندونو باندې د حضرت سعيد بن ابی عروبه عن قتادة عن زرارة بن ابی اوفی عن سعد بن هشام عن عايشة رضی الله عنها څخه دا حديث را نقل کړی دی.

كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ لَا يُسَلِّمُ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ.

چې رسول الله ﷺ دوتر دا اولو دوا ړو رکعتونو څخه وروسته سلام نه دی ګرځولی اوليکلي يې دي چې دا حديث د بخاري او د مسلم په شرط صحيح دی. (۱)

پنځمه مسئله: دوه قعدې: ام المومنين حضرت عايشه صديقه رضی الله عنها فرمائي چې: (كَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ). رسول الله ﷺ به فرمايل چې په هرو دوو رکعتونو کې التحيات ده. (۲)

شپږمه مسئله: په هر رکعت کې يو سورة: امام ترمذي رحمه الله د باب ما يقرأ فی الوتر، لاندې د عبد العزيز بن جريج روايت را نقل کړی دی چې:

كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى: بِ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى}، وَفِي الثَّانِيَةِ بِ {قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ}، وَفِي الثَّالِثَةِ بِ {قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ}، وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ.

د حضرت ابن عباس رضی الله څخه روايت دی چې:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْوِتْرِ: بِ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى} وَ {قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ}، وَ {قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ}، (۳)

۱-(مستدرک حاکم، ج ۱ ص ۳۰٤، کتاب الوتر)
۲-(مسلم ج ۱ ص ۱۹٤) باب مايجمع صفة الصلوة ... الخ
۳-(نسائي، ترمذي، تقريباً).

د څوارلسو صحابه وو څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ په درې رکعتو وترو کې درې سورتونه لوستل . هغه څوارلس صحابه کرام (رضی الله عنهم) دادي :

حضرت بي بي عايشه رضی الله عنها، حضرت عبدالله بن مسعودؓ، حضرت عبدالله بن عباسؓ، حضرت عبدالرحمن بن عوفؓ، حضرت أبي بن کعبؓ، حضرت علیؓ، حضرت عبدالله بن ابی اوفیؓ، حضرت نعمان بن بشيرؓ، حضرت ابوهريرةؓ، حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما حضرت عمران بن حصينؓ حضرت معاوية بن خديجؓ حضرت جابرؓ او حضرت ابوامامهؓ (۱)

اوومه مسئله: د دعاء قنوت الفاظ: دلته دوه حديثونه واورئ!

اول: په يو روايت کې راځي چې حضرت ابو عبدالرحمن فرمايي چې: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مونږ ته دا الفاظ راوښودل :

اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي، وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ، وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ الْجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ (۲)

دوهم: د حضرت حسن څخه روايت دی چې هغه به په قنوت کې دا الفاظ لوستل:

اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَلَا نَكْفُرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ، اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي، وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ، وَنَخْشَى عَذَابَكَ الْجِدَّ، إِنَّ عَذَابَكَ الْجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ (۲)

۱-(ابن عبدالبر في الاستيعاب ج ٤ص ۷۱ اترمذی ص ۱۰۶ انسائي ص ۲۵۱ا ابن ماجه ص۸۳ .دارقطنی ،ج۲ص۳۵۵ طحاوي ،ج۱ص ۱۷۲ مستدرک حاکم ۲۰۵وابوداود،ج۱ص ۲۰۸)

۲- (مصنف ابن أبي شيبه ، باب مايدعو به في قنوت الفجر)

۳- (مصنف عبدالرزاق)

علماء کرامو دا دواړه جمع کړي دي او مشترک الفاظ یې دا ښودلي دي چې:

اللهم انا نستعينك ونستغفرك ونؤمن بك ونتوكل عليك ونثني عليك الخير ونشكرك ولانكفرك ونخلع ونترك من يفجرك ،اللهم اياك نعبد ولك نصلي ونسجد واليك نسعى ونحفد، ونرجوا رحمتك ونخشى عذابك ان عذابك بالكفار ملحق.

علامه سيوطي په الاتقان کې په النوع السابع والاربعين من الجزء الثاني کې فرمايي چې: دا دقران دوه سورتونه وو، سورة الخلع او سورة الحفد، اوس يې تلاوت منسوخ شوی دی: و أمر بهما انس بن مالک حين سئل عن القنوت فی الوتر (۱)

اتمه مسئله: دعاء قنوت به په دريم رکعت کې د رکوع څخه مخکې لولئ، په دريم رکعت کې اول سورة فاتحه ده بيا سورة دی ،بيا د الله اکبر سره رفع اليدين ، بيا قنوت او بيا رکوع ده.

وَعَن عَاصِم الْأَحول رضي الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رضي الله عنه عَنِ الْقُنُوتِ فِي الصَّلَاةِ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَهُ؟ قَالَ: قَبْلَهُ (۲)

همدارنګه د حضرت أبی بن كعب رضی الله عنه څخه روايت دی چې:

أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «كَانَ يُوتِرُ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ» (۳)

د اکثرو صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل همدا وو چې دعاء قنوت به يې قبل الركوع لوستله (۴)

۱-(كذا فی معارف السنن ج ٤صـ ٢٤١)

٢- (مشكوة باب الوتر ، الفصل الاول)

٣- (ابن ماجه ، باب ماجاء فی القنوت قبل الركوع، وبعده صـ ٧٣، والنسائی ، باب كيف الوتر بثلاث)

٤-(التعليق الصبيح ج ٢صـ ١٠٢)

په کومو روایاتو کې چې قنوت بعدالرکوع راغلي دي هغه د قنوت نازله په باره کې دی.

نهمه مسئله: رفع اليدين عند القنوت سنت دی:

عَنْ الْأَسْوَدِ رحمه الله، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنه، أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي آخِرِ رَكْعَةٍ مِنَ الْوِتْرِ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ. (۱)

حضرت اسود د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کوي چې هغه رضي الله عنه به دوترو په اخر رکعت کې قل هو الله احد ولوستلو، بيا به يې لاسونه اوچت کړل، بيا به يې د رکوع څخه مخکې دعاء قنوت ولوستله.

(۲) عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ رحمه الله قَالَ: "تُرْفَعُ الْأَيْدِي فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ: فِي افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، وَفِي التَّكْبِيرِ لِلْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ، وَفِي الْعِيدَيْنِ، وَعِنْدَ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ، وَعَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَبِجَمْعٍ وَعَرَفَاتٍ، وَعِنْدَ الْمَقَامَيْنِ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ. (۲)

ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي چې رفع اليدين په اوو ځايونو کې دی، چې د هغوي څخه يو دوترو په لمونځ کې د دعاء قنوت لپاره دی

لسمه مسئله: قنوت په درې قسمه دی:

۱- قنوت نازله چې د مصيبت په وخت کې جايز دی.

۲- قنوت في الفجر بدون النازلة، نه سنت دی او نه مستحب، په مشکوة باب الوتر، د فصل ثاني اخيرنی حديث دی.

۱-(رواه البخاری فی جزء رفع اليدين واسناده صحيح، (اثار السنن ص: ۱۷٤) باب رفع اليدين عندالقنوت.
۲-(رواه الطحاوی واسناده صحيح، اثارالسنن ص: ۱۷٤)

وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِي رحمة الله عليه قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي: يَا أَبَتِ إِنَّكَ قَدْ صليت خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بكر وَعمر وَعُثْمَان وَعلى رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ هَهُنَا بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ أَكَانُوا يَقْنُتُونَ؟ قَالَ: أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ.

۲- قنوت فى الوتر:

تراويح شل ركعته دي:

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يُصَلِّيْ بِهِمْ فِيْ رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ(۱)

عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائی چې په رمضان کې به رسول الله ﷺ شل رکعته تراويح او وتر کول.

دحديث صحت ددې حديث متن اول نمبر صحيح دی، حتی چې متواتر دی، ځکه چې د محدثينو دا اصول دي چې د حديث په سند کې اګرچې کوم راوی ضعيف وي، لکن چې کله د حديث په مضمون باندې صحابه وو تابعينو، تبع تابعينو او مذاهب اربعه وو عمل کړی وي نو هغې حديث ته متواتر عملی ويلی شي او ددوي عمل ته اجماع عملي ويلی شي، محدثين حضرات ددې څخه په تلقی بالقبول باندې تعبير کوي، دداسې حديث سند بحث ته محتاج نه وي، لکه څرنګه چې داولی ورځې سپوږمۍ شاهدانو ته محتاجه وي لکن د څوارلسمې سپوږمۍ شاهدانو ته نه وي محتاجه.

۱- (مصنف ابن ابى شيبه باب كم يصلى فى رمضان من ركعة، السنن الكبرى للبيهقى ج۲\۴۹٦ مسند عبد بن حميد ص۲۱۸) اتحاف الخيرة المهرة ج۲\۴۲٤ تاريخ بغداد ج۱۵\۳٤ ذيل تاريخ بغداد ج۱۸\۱۸۹ والكامل لابن عدى ج۱\۲٤۰ والمعجم الكبير ج۵\٤۳۳].

(۲) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رضي الله عنهما قَالَ: خَرَجَ النبي صلى الله عليه وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ رَمَضَانَ فَصَلَّى النَّاسُ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ رَكْعَةً وَأَوْتَرَ بِثَلَاثَةٍ. (۱)

يعنې نبي عليه السلام يوه شپه راووتلو او خلکو ته يې ۲۴ رکعته لمونځ ورکړو (۴ فرض او ۲۰ تراويح) او درې رکعته وتريې وکړل، ددې حديث په سند کې محمد بن حميد الرازي ضعيف دی لکن د عبد الله بن عباس رضي الله عنه متواتر عملي حديث ددې حيث تاييد کوي.

لدې وجې دا حديث د حسن لغيره په مرتبه کې دی، او که د تائيد لحاظ په کې ونکړو نو بيا هم دا حديث د حضرت عايشې رضي الله عنها د حضرت ابوذر رضي الله عنه او د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د حديثونو لپاره چې مجمل او مبهم دی قرينه او تشريح کيدلی شي، نو په هرصورت ددې حديث څخه دا ثابته شوه چې نبي عليه السلام په هغو دريو شپو کې په جماعت باندې شل رکعته تراويح ادا کړي وي.

(۳) عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ رحمه الله قَالَ كَانُوا يَقُوْمُوْنَ عَلٰى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً (۲)

سايب بن يزيد فرمايي چې خلکو به د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې شل رکعته کول.

(٤) عَنْ يَزِيْدَ بْنِ رومان رحمه الله قَالَ كَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ فِيْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فِيْ رَمَضَانَ بِثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ رَكْعَةً.

يزيد بن رومان فرمايي چې خلکو به د حضرت عمر په زمانه کې ۲۳ رکعته کول. (۱)

(٥) عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ رحمه الله أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه أَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِهِمْ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً.

۱-(تاريخ جرجان ج۱۱ ص۱٤۲ والعناية شرح الهداية على هامش فتح القدير ج۱ ص٤۰۸).
۲- بيهقي ج۲ ص٤۹٦).

يحيى بن سعيد فرمايي چې عمر بن الخطاب يو سړي ته امر وکړو چې خلکو ته د شلو رکعتو امامتي وركړي. (۲)

(٦) عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ قَالَ كَانَ أُبَيّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ بِالْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ

عبدالعزيز بن رفيع فرمايي چې ابى بن كعب رضي الله عنه خلكو ته د شلو ركعتونو امامتې وركوله. (حواله بالا)

(۷) قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ الْقُرْظِيُّ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ كَانَ النَّاسُ يُصَلُّوْنَ فِيْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيْ رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً.

محمد بن كعب القرظى فرمايي چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه كې به خلكو شل ركعته تراويح كولې. (۳)

(۸) وَعَنْ أُبَيّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَمَرَ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنْ يُصَلِّيَ بِاللَّيْلِ فِيْ رَمَضَانَ. فَقَالَ: إِنَّ النَّاسَ يصومون النهار ولا يحسنون أن يقرءوا، فَلَوْ قَرَأْتَ الْقُرْآنَ عَلَيْهِمْ بِاللَّيْلِ. فَقَالَ: يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! هَذَا شَيْءٌ لَمْ يَكُنْ. فَقَالَ: قَدْ عَلِمْتُ وَلَكِنَّهُ أَحْسَنُ. فَصَلَّى بِهِمْ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً" (۴)

ابى بن كعب رضي الله عنه ته حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چې خلك دورځې روژه وي او قرآن سم نه لولي، نو كه ته ورته د شپې قرآن ولولې، حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه ورته وفرمايل چې دا خو يو نوى شى دى، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل چې ماته

۱- بيهقى ج۲ ص۴۹٦
۲- (مصنف ابن ابى شيبه باب كم يصلى فى رمضان من ركعة)
۳- قيام رمضان للمروزى ص ۱۵۷].
۴- [اتحاف الخيرة المهرة ج۲ ص ۴۲۵ والمختاره للمقدسي ج۳ ص۳٦۷].

معلومات دي، لکن دا طريقه بنه ده، نو حضرت ابی بن کعب ﷺ نه دوي ته د شلو رکعتو تراويحو مونځ ورکړو.

(۹) عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: "دَعَا الْقُرَّاءَ فِي رَمَضَانَ فَأَمَرَ مِنْهُمْ رَجُلًا يُصَلِّي بِالنَّاسِ عِشْرِينَ رَكْعَةً" قَالَ: وَكَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُوتِرُ بِهِمْ. (۱)

حضرت علی ﷺ قاريان راوو غوښتل او يو ته يې پکې امر وکړو چې خلکو ته شل رکعته تراويح اداکړي او حضرت علی رضي الله عنه ورته د وترو امامت کولو.

(۱۰) عَنْ أَبِي الْحَسْنَاءِ رحمه الله أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه "أَمَرَ رَجُلًا أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ عِشْرِينَ رَكْعَةً" (۲)

ابو الحسناء فرمايي چې حضرت علی ﷺ يو سړي ته امر وکړو چې خلکو ته پنځه ترويحات شل رکعته تراويح اداکړي.

(۱۱) كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُصَلِّي بِنَا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فَيَنْصَرِفُ وَعَلَيْهِ لَيْلٌ" قَالَ الْأَعْمَشُ رحمه الله: «كَانَ يُصَلِّي عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ (۳)

عبد الله بن مسعود ﷺ به خلکو ته شل رکعته تراويح او درې رکعته وتر اداکول.

(۱۲) عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: «أَدْرَكْتُ النَّاسَ وَهُمْ يُصَلُّونَ ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ» (۴)

ما صحابه او تابعين وموندل چې شل رکعته تراويح او درې رکعته وتر به يې کول.

۱- بهيقى ج ۲ص۴۹۶].

۲-(بهيقى ج۲ ص۴۹۶].

۳- قيام رمضان للمروزى ص۱۵۷.

۴-(مصنف ابن ابى شيبه باب كم يصلى فى رمضان من ركعته.

(۱۳) قال عطاء ارئتهم يصلون فى رمضان عشرين ركعت ويوترون بهاوثلاث (۱)

ماچې خلک ليدلي دي نو همدا نهه ديرش رکعته کوي (شل تراويح او ۱۶ رکعته نفل، او درې رکعته وتر).

(۱۴) داود بن قيس فرمايي چې د عمر بن عبد العزيز رحمه الله او د عثمان بن ابان رحمه الله په زمانو کې د مدينې خلکو نهه ديرش رکعته لمونځ کولو. (۲)

نورې حوالې د شپږم سوال د جواب لاندې راروانې دي.

(۱۵) مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ رحمة الله عليه: إِنَّ مُعَاذًا أَبَا حَلِيمَةَ الْقَارِءَ كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ إِحْدَى وَأَرْبَعِينَ رَكْعَةً (۲)

معاذ به ديو څلويښت رکعتو امامتي کوله. (شل رکعته تراويح په څلورو قفو کې شپارس رکعته نفل، درې رکعته وتر، او دوه رکعته تهجد)

(۱٦) مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ رحمة الله عليه: إِنَّ مُعَاذًا أَبَا حَلِيمَةَ الْقَارِءَ كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ إِحْدَى وَأَرْبَعِينَ رَكْعَةً)

شتيرين شکل به د شلو رکعتو، امامتي کوله. (۴)

(۱۷) أَبُو الْخَصِيبِ رحمة الله عليه قَالَ: "كَانَ يَؤُمُّنَا سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ رحمة الله عليه فِي رَمَضَانَ فَيُصَلِّي خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ عِشْرِينَ رَكْعَةً (۵)

۱-(قيام رمضان للمروزی ص ۱۵۸).

۲-(مصنف ابن ابی شیبه باب کم یصلی فی رمضان من رکعته).

۳-(قيام رمضان للمروزی ص۱۵۸)

٤- سنن کبری للبیهقی ج۲ ص٤۹٦ مصنف ابن ابی شیبه باب کم یصلی الخ)

٥-(سنن کبرللبیهقی ج۲ ص٤۸٦).

سويد بن غفله به دپنځو ترويحاتو شلور كعتو امامتي وركوله.

(۱۸) عَنْ نَافِعِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: "كَانَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ رحمة الله عليه يُصَلِّي بِنَا فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً(۱)

ابن ابی مليكه به د شلو ركعتو امامتي كوله.

(۱۹) عَنِ الْحَارِثِ رحمة الله عليه: «أَنَّهُ كَانَ يَؤُمُّ النَّاسَ فِي رَمَضَانَ بِاللَّيْلِ بِعِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ. (۲)

(۲۰) عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ رحمة الله عليه: «أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ فِي رَمَضَانَ وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ (حواله بالا)

ابو البختري به دپنځو ترويحاتو شلو ركعتو امامتي كوله.

(۲۱) عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ رحمة الله عليه، قَالَ: «كَانَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْأَسْوَدِ رحمة الله عليه يُصَلِّي بِنَا فِي رَمَضَانَ أَرْبَعِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِسَبْعٍ (حواله بالا)

عبد الرحمن بن الاسود د (۴۰) ركعتونو امامتي كوله او اوه ركعته وتر به يې كول. (څلور فرض ۲۰ ركعته تراويح، ۱۶ ركعته په څلورو وقفو كې نفل، او اوه وتر يعنې ۴ ركعته تهجد او درې ركعته وتر) دوترا و تهجد و څخه مجازاً په وترو باندې تعبير كيږي. (۳)

(۲۲) عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدٍ رحمة الله تعالى عليهما، «أَنَّ عَلِيَّ بْنَ رَبِيعَةَ رحمة الله تعالى عليهما كَانَ يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ (حواله بالا)

۱-(مصنف ابن ابي شيبه باب كم يصلى في رمضان من ركعة)

۲-(حواله بالا) حارث به دشلو ركعتو امامتي كوله.

۳-[سنن نسايي ابواب الوتر]

علي بن ربيعه به د پنځو ترويحاتو امامتي كوله.

(۲۳) عَنْ وِقَآءٍ رحمة الله عليه قَالَ: «كَانَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ رحمة الله عليه يَؤُمُّنَا فِي رَمَضَانَ، يُصَلِّي بِنَا عِشْرِينَ لَيْلَةً سِتَّ تَرْوِيحَاتٍ، فَإِذَا كَانَ الْعَشْرُ الْآخِرُ اعْتَكَفَ فِي الْمَسْجِدِ وَصَلَّى بِنَا سَبْعَ تَرْوِيحَاتٍ. (حواله بالا)

سعيد بن جبير به دلاندې مونځ امامتي كوله. (شل ركعته تراويح او څلور ركعته تهجد او په اخرى عشره كې څلور ركعته نور تهجد).

(۲٤) حَبِيبُ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ: كَانَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ رحمة الله عليه يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ سِتَّ تَرْوِيحَاتٍ يُسَلِّمُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ(۱)

(۲۵) يُونُسُ رَحِمَهُ اللَّهُ: «أَدْرَكْتُ مَسْجِدَ الْجَامِعِ قَبْلَ فِتْنَةِ ابْنِ الْأَشْعَثِ رحمة الله عليه يُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَسَعِيدُ بْنُ أَبِي الْحَسَنِ، وَعِمْرَانُ الْعَبْدِيُّ رحمهم الله كَانُوا يُصَلُّونَ خَمْسَ تَرَاوِيحَ، فَإِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ زَادُوا وَاحِدَةً. (ايضًا)

(۲٦) ذَكْوَانُ الْجُرَشِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: «شَهِدْتُ زُرَارَةَ بْنَ أَوْفَى رحمة الله عليه يُصَلِّي بِالْحَيِّ فِي رَمَضَانَ سِتَّ تَرْوِيحَاتٍ، فَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ صَلَّى سَبْعَ تَرْوِيحَاتٍ كُلَّ لَيْلَةٍ (ايضا)

(۲۷) عَنْ شبرمة رحمة الله عليه وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ عَلِيٍّ رضي الله عنه أَنَّهُ كَانَ يَؤُمُّهُمْ فِي رَمَضَانَ فَيُصَلِّي خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ. (۲)

(۲۸) عِمْرَانُ بْنُ حُدَيْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ: «كَانَ أَبُو مِجْلَزٍ رحمة الله عليه يُصَلِّي بِهِمْ أَرْبَعَ تَرْوِيحَاتٍ(۳)

يعنې ابو مجلز به د تراويحو په څلورو وقفو كې څلور ترويحې يعنې ۱۶ ركعته كول.

۱- (قيام رمضان للمروزى ص ۱۵۸).

۲- (زجاجة المصابيح ج۱ ص ۳٦٦).

۳- (قيام رمضان للمروزى ص ۱۵۸)

لامذهبان دې صرف د حرمينو يو امام و ښايي چې هغه د اسلام په تاريخ کې په حرمينو کې صرف يوه ورځ اته رکعته تراويح کړي وي، همدارنګه دې صرف يو صحابي او يا صرف يو تابعي وښايي، چې هغه د شل رکعته تراويحو د سنتوالي څخه انکار کړی وي.

تهجد اته رکعته دي:

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رضي الله عنه، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: كَيْفَ كَانَتْ صَلاَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ؟ قَالَتْ: مَاكَانَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلاَفِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، فَلاَتَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا، فَلاَتَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلاَثًا، فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللّٰهِ! تَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟ قَالَ: «تَنَامُ عَيْنِي وَلاَيَنَامُ قَلْبِي». (۱)

ابوسلمه بن عبدالرحمن رضي الله عنه د حضرت عايشې رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې په رمضان کې درسول اللهﷺ (د تهجد و) مونځ څرنګه وو؟ حضرت عايشې رضی الله عنها ورته وفرمايل چې: رسول اللهﷺ په رمضان او په غير رمضان کې د يوولسو رکعتونو څخه زيات (د تهجد و) مونځ نه دی کړی، څلور رکعته يې وکړل نو د حسن او د طول پوښتنه يې مه کوه (يعنې ډير ښه او اوږده رکعتونه به يې وکړل) بيا به يې څلور رکعته وکړل نو د حسن او د طول پوښتنه يې مه کوه (يعنې ډير ښه او اوږده به يې وکړل) بيا به يې درې رکعته وکړل، حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي چې ما پوښتنه وکړه چې يارسول اللهﷺ ته د وتر څخه مخکې اوده کيږې؟ (بغير د نوی او دس څخه وتر کوې) رسول اللهﷺ

- (بخاری ج۱ ص۱۵٤ کتاب التهجد باب قيام النبی ﷺ بالليل فی رمضان وغيره

فرمايل چې اى عايشې بيشکه چې زما سترګې اودې کيږي او زما زړه نه اوده کيږي، يعني په خوب باندې زما اودس نه ماتيږي، له دې وجې نوي اودس ته ضرورت نه شته.

تراويح او تهجد جدا جدا لمونځونه دي:

(۱) فرق په اعتبار د ماخذ.

د تهجد او د تراويحو د مشروعيت مأخذ جدا جدا دى، ځکه چې د تهجد د مشروعيت ماخذ قرآن دى، الله ﷻ فرمايي چې: وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ: او د تراويحو د مشروعيت مأخذ سنت دى، رسول الله ﷺ فرمايي چې (سنت لکم قيامه) د تراويحو طريقه محمد ﷺ جاري کړې ده، يعني د تهجد و مشروعيت په قرآن ثابت دى، او د تراويحو مشروعيت په قرآن نه دى ثابت، بلکه په حديث ثابت دى نو څرنګه يو مونځ شو؟

(۲) فرق په اعتبار د مکان د مشروعيت: تهجد په مکه مکرمه کې مشروع شوى وو، او تراويح په مدينه منوره کې د نبي کريم د ژوند په آخرو کلونو د نبي ﷺ د ژوند کې مشروعى شوى دي. (۱)

(۳) فرق په اعتبار د زمانې د مشروعيت: تهجد د هجرت څخه مخکې مشروع وو، او تراويح د هجرت څخه وروسته مشروعې شوى، نو څرنګه يو مونځ شو؟

(۴) فرق په اعتبار د کيفيت د مشروعيت: تهجد په اول کې فرض وو او تر يو کال پورې فرض پاتې شوى وو، چې وروسته بيا فرضوالى منسوخ شو او تراويح هيڅکله فرض شوي نه دي سعد بن هشام رضي الله عنه فرمايي چې:

۱- الموسوعه الفقهيه ج ۲۷ صـ ۱۳۹).

قُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، حَدِّثِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: «أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ فَإِنَّ خُلُقَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ» قَالَ: قُلْتُ: حَدِّثِينِي عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ، قَالَتْ: "أَلَسْتَ تَقْرَأُ: يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ؟"، قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَتْ: «فَإِنَّ أَوَّلَ هَذِهِ السُّورَةِ نَزَلَتْ، فَقَامَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَفَخَتْ أَقْدَامُهُمْ، وَحُبِسَ خَاتِمَتُهَا فِي السَّمَاءِ اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا، ثُمَّ نَزَلَ آخِرُهَا، فَصَارَ قِيَامُ اللَّيْلِ تَطَوُّعًا بَعْدَ فَرِيضَةٍ(۱)

سعد .یاام المؤمنین ماته دنبی د خُلق په باره کې بیان وکړه ،ام المؤمنین رضی الله عنها :وفرمایل چې ایا تا قرآن نه دی لوستلی؟درسول الله ﷺ خُلق قرآن وو، سعد ؓ: ماوویل چې :یاام المؤمنین !ماته درسول الله ﷺ دتهجدو په باره کې یوڅه و وایه، ام المؤمنین رضی الله عنها : چې ایا تا دیاایها المزمل سورة نه دی لوستلی؟ سعد ؓ: ماعرض وکړوچې لوستلی می دی.

ام المؤمنین رضی الله عنها وفرمایل ددې سورة ابتدائی حصه نازله شوه (په کومه کې چې دتهجدو فرضیت راغلی دی)نو صحابه وو رضی الله عنهم به دومره تهجد کول چې پښې به یې وپړسیدلی او ددې سورة اخری حصه دولس میاشتې وروسته نازله شوه نو تهجد د فرضوالي څخه نفلوالي ته نقل شول.

فایده: ددې حدیث څخه درې خبرې معلومیږي (۱)دتهجدو مشروعیت دقرآن څخه ثابت دی (او تراویح داسې نه دی (۲)دتهجدو مشروعیت په مکه مکرمه کې شوی دي اودترایحو په مدینه کې (۳)تهجد تریو کال پورې فرض وو چې وروسته بیا نفل شو او تراویح هیڅکله فرض شوي نه دی.

۱- (ابوداود ج۱ ص۱۸۹ ص ۱۹۱باب فی صلوة اللیل)

(۵) فرق په اعتبار د دې قول چې په نبی علیه السلام باندې تراخره پورې تهجد فرض وو بعضي علماء فرمايي چې په نبی ﷺ باندې تراخره پورې تهجد فرض وو، صرف د امت په باره کې يې فرضوالی منسوخ شوی وو، شرح موطا امام مالک ج۱ ص۳۱۱ او د تراويحو په فرضوالي باندې هيڅ قول نه دی کړی.

(۶) فرق په اعتبار د سنت مؤکدوالی وغير مؤکدوالی: دڅلورم دليل لاندې د حضرت عايشې رضی الله عنها حديث تير شو چې تهجد و ته يې تطوع ويلی وو، نو تهجد سنت غير مؤکد دي، او تراويح سنت مؤکده دي د سعودي عرب د تعليم په نصاب کې داخل د فقه حنبلي په مشهور کتاب الروض المربع ص۶۵ کې ئی ليکلي دي چې: والتراويح سنت مؤکدة. ملاعلی القاری رحمه الله فرمايلي دي چې: والحاصل ان الاصح فيها انها سنة مؤکدة (۱)

دڅلورو واړو مذهبونو په نيز د تراويحو سنت مؤکدوالی په لاندې کتابونو کې وګوره: (۲)

(۷) فرق په اعتبار د جماعت او غير جماعت: په تهجد و کې اصل دا دی چې بغير د جماعت څخه ادا کړی شي او په تراويحو کې اصل جماعت دی - د سعودی عرب په تعليمي نصاب کې د همدی داخل کتاب الروض المربع په ص۶۵ کې يې ليکي دي چې والتراويح عشرون رکعة تفعل فی جماعة مع الوتر: او ملاعلی

۱-(شرح النقايه ج۱ ص۳٤۱)

۲- البحرالرايق ج۱ ص۱۱۷ حاشيه فتاوی۹٤ النوازل ص٤۷۵ - حاشيه الطحاوی ص٤۱۱ ردالمختار ج۲ ص٤۹۳ - فتاوی تاتارخاينه ج۱ ص٤۷۵ المهذب ج۱ ص۸٤ حلية العلماء ج۲ ص۱۱۹ - والاقناع للشربيني ج۱ ص۱۱۷ نهاية الزين ج۱ ص۱۱٤ - والفروع ج۱ ص٤۸۸ والمغنی لابن قدامه ج۱ ص ۷۹۷.

القاري رحمه الله ليکي چې :روى الحسن عن ابى جنيفة والسنة فيها الجماعة لكن على وجه الكفاية -شرح نقايه ج١ ص٣٤١] نو په جماعت باندې تراويح اداکول سنة کفايې دی -که يو څو کسان يې په جماعت باندې اداکړي او نورې په کورونو کې اداکړي نو د ټولو ذمه فارغه شوه،او که هيڅوک يې په جماعت باندې ادانکړي نو په ټولو باندې د سنتو د ترک وبال لازميږي او د تراويحو د سنت مؤکد على الكفايه والى په لاندې کتابونو کې وګوره: (١)

(٨) فرق په اعتبار د ترغيب د جماعت: د تراويحو د جماعت لپاره د نبي ﷺ څخه تعريف او ترغيب ثابت دی او د تهجد د جماعت ترغيب نه دی ثابت.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِذَا نَاسٌ فِي رَمَضَانَ يُصَلُّونَ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ, فَقَالَ: «مَا هَؤُلَاءِ؟» قِيلَ: "هَؤُلَاءِ نَاسٌ لَيْسَ مَعَهُمْ قُرْآنٌ, وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُصَلِّي بِهِمْ, فَهُمْ يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ, فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَصَابُوا أَوْ نِعْمَ مَا صَنَعُوا(٢)

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې د رمضان په مياشت کې يو شپه نبی کريم ﷺ راووتلو نو ويليدل چې يو څو کسان د مسجد په يو کونج کې مونځ کوي، نبی ﷺ وفرمايل چې دا څوک دي؟چا ورته وويلي چې دا يو څه کسان دی چې قرآن ورته نه دی ياد، نو ابی بن کعب رضي الله عنه ورته مونځ ورکوي ،نو دوي د ابی بن کعب رضي الله عنه په

١-[شرح النقايه ج١ ص٣٤١ فتاوى عالكبرى ج١ ص١٢٨ فتاوى النوازل ص٩٤ مراق الفلاح ص٤١٢ والبحرالرابق ج١ ص١١٦].
٢- (قيام رمضان للمروزى ص ١٥٥]

تدا، کې مونځ کوی نبي ﷺ و فرمايل چې دوي حق ته ورسيدل او يايې وويل چې

يه بهر وکړل.

(۹) فرق په اعتبار داهتمام دجماعت کثيره: د تهجدو په باره دنبی کريم ﷺ څخه

کثرة د جماعت اهتمام نه دی ثابت – او دتراويحو په باره کې ثابت دی، پدې باره

کې لاندې دوه حديثونه وګوری:

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ يُصَلُّونَ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ بِاللَّيْلِ أَوْزَاعًا... الخ

يعنې خلکو د رمضان په يو شپه کې مختلف جماعتونه جوړ کړی وو، چاته

به چې څومره قرآن ياد وو نو دهغې امامتي به يې نوورته ورکوله، د چابه پنځه

مقتديان وو، او د چابه شپږ مقتديان وو، د چاپه د دې څخه ډيروو، او د چابه کم

وو، يوه شپه نبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولو ته امامتي ورکړه. (۱)

حضرت ابو ذر غفاري رضي الله عنه فرمايلي چې مونږ د نبی ﷺ سره روژې نيولې نو نبي

کريم ﷺ مونږ ته د تراويحو مونځ نه راکولو ترد ې چې او ه ۷ ورځې پاتې شوی نو په ۲۳

شپه د رانګه په ۲۵ بانـدې ئـی مونږ تـه مـونځ راکړو او بيـائی پـه ۲۷ بانـدې دخپـل

کورو الا راجمع کړل او خلک هم راجمع شول او نبی عليه السلام او ګد مونځ راکړو. (۲)

(۱۰) فـرق پـه اعتبار د بـابونو: محدثينو حضـراتو د تهجد و لپاره جـدا

او د تراويحو لپاره جدا باب لګولي دی، نو که دا دواړه يو مونځ وی نو بيا ولی ورته

محدثينو يو باب نه لګولو؟ په لاندې جدول کې د هر کتاب جدا جدا باب کتلې شي:

۱- قيام رمضان للمروزی ص ۱۵۳].

۲- قيام رمضان للمروزی ص ۱۵۳].

شماره	د کتاب نوم	دتهجدو باب	د تراویحو باب
۱	صحیح بخاری	باب فضل قیام اللیل ج۱ ص ۱۵۱	باب فضل من قام رمضان ج۱ ص۲۶۹
۲	صحیح مسلم	باب صلوة اللیل ج ۱ص ص ۲۵۳	باب الترغیب فی قیام رمضان وهوالتراویح ج۱ ص ۲۵۹
۳	سنن ابی داود	باب فی صلوة اللیل ج ۱ص۱۸۸	باب قیام شهررمضان ج۱ ص۱۹۶
٤	سنن ترمذی	باب فضل صلوة اللیل ج ۱ص۹۸	باب ماجاءفی قیام شهررمضان ج ۱ص۱۶۶
۵	سنن نسائی	کتاب قیام اللیل ج ۱ص۲۳۷	ثواب من قام رمضان وصام الخ ج۱ ص۳۰۷
٦	سنن ابن ماجه	باب ماجاءفی قیام اللیل ص۹٤	باب ماجاء فی قیام شهررمضان ص۹٤
۷	موطاامام مالک	باب فی صلوة اللیل ص ۹۹	باب فی قیام رمضان ص۹۷
۸	موطاامام محمد	باب صلوة اللیل ص ۱۱۹	باب فی قیام شهررمضان ص۱٤۱
۹	مشکوة	باب صلوة اللیل ج۱ ص۱۰۵	باب قیام شهررمضان ج ۱ص۱۱٤
۱۰	ریاض الصالحین	باب قیام اللیل ص ۳٦۲	باب استحباب قیام رمضان وهوالتراویح ص ۳٦۷
۱۱	صحیح ابن حبان	فصل فی قیام اللیل ج ۵ص۱۱۲	فصل فی التراویح ج ۵ص۱۰۷
۱۲	مجمع الزواید	باب فی صلوة اللیل ج ۲ص۵۱۹	باب قیام رمضان ج ۳ص٤۰۱
۱۳	سنن کبری بیهقی	باب فی قیام اللیل ج ۲ص٤۹۹	باب فی قیام شهررمضان ج ۲ص٤۹۱
۱٤	جمع الفواید	صلوة اللیل ج۱ ص۲۰۳	قیام رمضان والتراویح ج ۱ص۲۰٦

۱۵	قيام الليل للمروزي	قيام الليل ص ۲ الی ص ۱٤۹	قيام رمضان ص ۱۵۰ تا ص ۱۷۸
۱٦	بلوغ المرام	صلوة التطوع ص ۸۳	قيام رمضان ص ۱۵۲

نو دې ټولو محدثينو په اجماع باندې تراويح او تهجد دوه جدا جدا مونځونه دي.

داختر په لمانځه کې شپږ زائد تکبيرات سنت دي

د اختر په لمانځه کې د قيام په حالت کې درې تکبيرات أصل دي، يو تکبير تحريمه او دوه د رکوع تکبيرونه، چې ديته تکبيرات صلواتيه ويلى کيږي او شپږ زائد تکبيرات دي، په بعضو احاديثو کې ټول تعداد (۹) ذکر شوی دی او په بعضو کې په اولني رکعت کې د پنځو او په دويم کې د څلورو ذکر دی چې مجموعه يې نه شو او په بعضو کې د څلورو څلورو ذکر دي چې په اولني رکعت کې د قراءت څخه مخکې د تکبير تحريمه سره څلور تکبيرات دي او د رکوع تکبير ددې څخه جدا دی هغه يې نه دی ذکر کړی ځکه چې هغه د قرائت څخه وروسته دی او په دويم رکعت کې د قرائت څخه وروسته د رکوع د تکبير سره څلور تکبيرات دي.

خلاصه: د ټولو احاديثو داده چې د اختر په لمانځه کې د قيام په حالت کې مجموعي (۹) تکبيرات دي، (درې تکبيرات صلواتيه او شپږ زائد).

دلائل: (۱) أَنَّ الْقَاسِمَ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ رحمه الله حَدَّثَهُ, قَالَ: حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عِيدٍ, فَكَبَّرَ أَرْبَعًا, وَأَرْبَعًا, ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ حِينَ انْصَرَفَ, قَالَ: «لَا تَنْسَوْا, كَتَكْبِيرِ الْجَنَائِزِ, وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ, وَقَبَضَ إِبْهَامَهُ» (۱)

۱- (طحاوي ص ۳۷۱، کتاب الزيادات باب صلوة العيدين کيف التکبير فيها)

ابو عبد الرحمن قاسم فرمايي چې ماته په صحابه وو کې بعضې صحابه وو فرمايلي دي چې مونږ ته نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اختر لمونځ راکړو، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور څلور تکبيره وکړل، بيا يې مونږ ته مخ راوګرزولو او وې فرمايل چې هيرېې نه کړئ، د اختر تکبيرونه د جنازې په شان (څلور) دي (يو د تکبير تحريمه او درې زوايد)، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه ګوته بنده کړه او په (څلور) ګوتو سره يې اشاره وکړه.

۲-عَنْ مَكْحُولٍ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو عَائِشَةَ، رَحِمَهُ اللهُ جَلِيسٌ لِأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، سَأَلَ أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وَحُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ أَبُو مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: «كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيرَهُ عَلَى الْجَنَائِزِ»، فَقَالَ حُذَيْفَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: صَدَقَ، فَقَالَ أَبُو مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: «كَذَلِكَ كُنْتُ أُكَبِّرُ فِي الْبَصْرَةِ، حَيْثُ كُنْتُ عَلَيْهِمْ»، وَقَالَ أَبُو عَائِشَةَ رَحِمَهُ اللهُ: «وَأَنَا حَاضِرٌ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ». (۱)

دابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همنشين ابو عائشة فرمايي چې (د کوفې والي) سعيد بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دابو موسى اشعرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه پوښتنه وکړه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په اخترونو کې تکبيرونه څرنګه کول؟ نو ابو موسى اشعرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په اخترونو کې د جنازې دلمانځه په شان (څلور څلور) تکبيرونه کول (يو تکبير تحريمه او درې زوايد) حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تصديق وکړو، بيا حضرت ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې کله چې زه په

۱-(ابوداؤد ص ۱۶۳) مصنف ابن ابي شيبه ج ۱ ص ۲۱۳، نمبر ۵۷۴۴) تخريج والا او بغير تخريج والا ص ۷۸، ج ۲)

په راکې حاکم وو م نو همدا سې تکبیرونه به مې کول ابو عایشه رحمه الله فرمایي
چې زه په دغه وخت کې د سعید بن العاص سره ناست وم.

۳- عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ قَالَ: كَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه جَالِسًا عِنْدَهُ حُذَيْفَةُ وَأَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ رضي الله عنهما، فَسَأَلَهُمَا سَعِيدُ بْنُ الْعَاصِ رضي الله عنه عَنِ التَّكْبِيرِ فِي الصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى فَجَعَلَ هَذَا يَقُولُ: سَلْ هَذَا، وَهَذَا يَقُولُ: سَلْ هَذَا، فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه: سَلْ هَذَا - لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه - فَسَأَلَهُ، فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه: «يُكَبِّرُ أَرْبَعًا ثُمَّ يَقْرَأُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُومُ فِي الثَّانِيَةِ فَيَقْرَأُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا بَعْدَ الْقِرَاءَةِ» (۱)

علقمه رحمه الله او اسود رحمه الله فرمايي چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ناست وو په دې مجلس کې حضرت حذيفه رضي الله عنه او ابو موسى اشعري رضي الله عنه هم موجود وو، سعيد بن العاص رضي الله عنه دا ختر د تکبيراتو په باره کې پوښتنه وکړه، نو حضرت حذيفة رضي الله عنه وفرمايل چې د ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه او ابو موسى اشعري رضي الله عنه وفرمايل چې د حذيفه رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه، نو بيا ورته حذيفه رضي الله عنه وفرمايل چې د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه، کله يې چې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمايل چې څلور تکبيرونه (تکبير تحريمه او درې زوائد) وکړه بيا قرائت وکړه بيا تکبير وکړه او رکوع ته لاړه شه بيا د دوهم رکعت ته او دريږه، قراءت وکړه او د قرآئت څخه وروسته څلور تکبيرونه وکړه (درې زوائد او يو د رکوع).

۱- (مصنف عبدالرزاق ج ۳ص ۵٦۸۷، نمبر ۵٦۸٦.

په سفر کې که دسنتوکول ممکن وو نوکول يې پکاردي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعًا وَلَيْسَ بَعْدَهَا شَيْءٌ, وَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ, وَقَالَ: هِيَ وِتْرُ النَّهَارِ, وَلَا تَنْقُصُ فِي سَفَرٍ وَلَا حَضَرٍ, وَصَلَّى الْعِشَاءَ أَرْبَعًا, وَصَلَّى بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ, قَالَ: وَصَلَّى فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ, وَصَلَّى بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ, وَصَلَّى الْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ, وَلَيْسَ بَعْدَهَا شَيْءٌ, وَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ, وَصَلَّى الْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ, وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ(۱)

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي چې ما د رسول الله ﷺ سره (په حضر کې د ماز يګر) څلور رکعته لمونځ وکړو او د دينه وروسته هيڅ نه وو او د ماښام لمونځ يې درې رکعته وکړو او د دينه وروسته يې دوه رکعته (سنت) وکړل او بيا يې وفرمايل چې دا د ورځې وتردي چې په سفر کې او حضر کې نه کميږي ، او د ماخوستن يې څلور رکعته لمونځ وکړو او د هغې څخه وروسته يې دوه رکعته سنت وکړل.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ په سفر کې دوه رکعته لمونځ وکړو او د هغې څخه وروسته يې هم دوه رکعته (سنت) وکړل او د مازيګر يې صرف دوه رکعته (فرض) وکړل او د ماښام يې درې رکعته (فرض) وکړل او د هغې څخه وروسته يې دوه رکعته (سنت) وکړل او د ماخوستن يې دوه رکعته (فرض) وکړل او د هغې څخه وروسته يې دوه رکعته (سنت) وکړل.

قال الامام النووي رحمه الله: وَقَدِ اتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى اسْتِحْبَابِ النَّوَافِلِ الْمُطْلَقَةِ فِي السَّفَرِ وَاخْتَلَفُوا فِي اسْتِحْبَابِ النَّوَافِلِ الرَّاتِبَةِ فكرهها ابن عُمَرَ رضي الله عنهما وَآخَرُونَ وَاسْتَحَبَّهَا الشَّافِعِيُّ وَأَصْحَابُهُ وَالْجُمْهُورُ رحمهم الله تعالى...الخ

۱-(طحاوی ج۱ص ۲۴۳).

امام نووی فرمائي چې په دې د ټولو علماوو اتفاق دی چې مطلق نفل په سجدو کې مستحب دي، البته د سنتو په باره کې اختلاف دی، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ او نورو پرېښي دي او امام شافعي رحمه الله او دده د اصحابو او د جمهور علماوو په نزد دې کول مستحب دي. (۱)

د سهوې سجدې له سلام څخه وروسته دې او ورپسې د تشهد لوستل پکار دي

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه مَرْفُوعًا وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ». (۲)

رسول الله ﷺ فرمايي چې: کله کوم يو نفر ستاسې په مانځه کې شکي شي د صحيح لپاره دې سوچ وکړي او په هغې باندې خپل مونځ پوره کړي، بيا دې سلام وګرځوي، بيا دې دوه سجدې د سهوې لپاره وکړي.

۲- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ، فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ» (۳)

رسول الله ﷺ فرمايي چې څوک شکي شي په مانځه کې نو د سلام څخه دې وروسته دوه سجدې وکړي.

۳- عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لِكُلِّ سَهْوٍ سَجْدَتَانِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ». (۴)

۱-(نووی شرح مسلم ج ۱ص ۲۴۲)

۲- [بخاری ج/۱ ص۵۸]

۳- [مسند أحمد ج/۱ ص۲۰۵ ، نسائی ج/۱ ص۱۴۰ ، ابوداؤد ج/۱ ص۱۴۸]

۴-[ابوداؤد ج/۱ ص۱۴۹].

رسول الله ﷺ فرمايي چې: د هرې سهوې لپاره دوه سجدې دي د سلام څخه وروسته.

مقتدي چې سهوه شي نو سجده سهوه به نه کوي

۱- عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ عَلَى مَنْ خَلْفَ الْإِمَامِ سَهْوٌ، فَإِنْ سَهَا الْإِمَامُ فَعَلَيْهِ وَعَلَى مَنْ خَلْفَهُ السَّهْوُ، وَإِنْ سَهَا مَنْ خَلْفَ الْإِمَامِ فَلَيْسَ عَلَيْهِ سَهْوٌ وَالْإِمَامُ كَافِيهِ» (۱)

رسول الله ﷺ فرمايي چې په مقتدي باندې سجده سهوه نه شته، که امام سهوه شو نو بيا په امام او مقتدی دواړو باندې سجده سهوه ده او که مقتدي سهوه شو نو په ده باندې سجده سهوه نشته، دده لپاره امام کافي دی.

۲- عَنْ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُ اللهُ، أَنَّهُ قَالَ: «إِذَا سَهَوْتَ خَلْفَ الْإِمَامِ، وَحَفِظَ الْإِمَامُ، فَلَيْسَ عَلَيْكَ سَهْوٌ، وَإِنْ سَهَا وَحَفِظْتَ فَعَلَيْكَ السَّهْوُ، وَإِنْ لَمْ يَسْجُدِ الْإِمَامُ فَلَا تَسْجُدْ، وَكَذٰلِكَ إِذَا سَهَا جَمِيعُ مَنْ مَعَ الْإِمَامِ أَوْ سَهَا الْإِمَامُ» (۲)

ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي چې: کله چې ته د امام پسې سهوه شې او امام نه وي سهوه شوی، نو په تا باندې سجده سهوه نشته. او که امام سهوه شو او ته نه وې سهوه شوی نو بيا په تا باندې سجده سهوه ده، که امام سجده ونه کړه نو ته يې هم مه کوه. همدارنگه که ټول مقتديان سهوه شول نو په يو باندې هم سجده نه شته او که امام سهوه شو نو په ټولو باندې سجده سهوه ده.

۱- [دار قطنی ج/۱ ص۳۷۷].

۲-[کتاب برواية الامام ابي يوسف ص۳۷].

د سهار سُنت د فرضو څخه وروسته د لمر د راختلو څخه مخکې مکروه دي

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاتَيْنِ: بَعْدَ الفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ العَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ (۱)

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مازيګر څخه وروسته تر غروبه پورې د لمانځه څخه منع کړی ده او د سهار د فرضو څخه وروسته يې تر لمر پريوتلو پورې د لمانځه څخه منع کړی ده.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رضي الله عنه وَكَانَ أَحَبَّهُمْ إِلَيَّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ العَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ (۲)

يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهر د فرضو څخه وروسته تر لمر ختلو پورې د لمانځه څخه منه کړی ده او د مازيګر څخه وروسته تر لمر پريوتلو پورې يې د لمانځه څخه منع کړی ده.

(۳) عن عَطَاءَ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ رحمه الله، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الخُدْرِيَّ رضي الله عنه، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ العَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ» (۳)

ترجمه يې مخکې تيره شوه.

۱- (بخاري ج۱ص ۸۲/ مسلم ج ۱ص ۲۷۵)

۲- (بخاري ج۱ص ۸۲ مسلم ج۱ ص۲۷۵).

۳- (بخاري ج۱ص ۸۲ مسلم ج ۱ص ۲۷۵)

(٤) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيُصَلِّهِمَا بَعْدَ مَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ (١).

رسول الله ﷺ فرمائي چې د چا څخه چې د سهار سنت پاتې شول نو د لمر ختلو څخه دې يې وروسته وکړي.

(٥) عَنِ ابْنِ سِيرِينَ رحمه الله عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّهُ صَلَّاهُمَا بَعْدَ أَضْحَى. (٢)

عبدالله بن عمر رضي الله عنه به د سهار سنت د څاښت څخه وروسته کول.

(٦) عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ رحمه الله، قَالَ: سَمِعْتُ الْقَاسِمَ رحمه الله، يَقُولُ: «لَوْ لَمْ أُصَلِّهِمَا حَتَّى أُصَلِّيَ الْفَجْرَ، صَلَّيْتُهُمَا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ» (٣)

يحيى بن سعيد رحمه الله فرمائي چې ما د قاسم بن محمد رحمه الله څخه اوريدلي دي چې فرمايلي يې دي چې کله چې د سهار سنت را څخه پاتې شي نو بيا يې د لمر د راختلو څخه وروسته کوم.

(٧) مَالِكٌ رحمه الله، أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما فَاتَتْهُ رَكْعَتَا الْفَجْرِ، فَقَضَاهُمَا بَعْدَ أَنْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ) (٤)

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه د سهار سنت پاتې و، نو د سهار د لمر تر راختلو څخه يې وروسته وکړل.

١- (ترمذی ج١ص ٩٦).
٢-(مصنف ابن ابي شيبه ج ٢ص ١٥٧)
٣-(مصنف ابن ابي شيبه ج ٢ص ٢٥٥)
٤- [موطا امام مالک/ ص١١٢].

دمابنام دلمانځه څخه مخکې نفل کول سنت نه دي او سنت ویل ورته مکروه دي

(۱) عَنْ طَاوُسٍ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا، عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ، فَقَالَ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا، وَرَخَّصَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ» (۱)

دعبد الله ابن عمر رضی الله عنهما څخه دمابنام دلمانځه څخه مخکې ددوو رکعتونو نفلو په باره کې پوښتنه وشوه هغه وفرمایل چې: ما درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هیڅوک ددې دوو رکعتونو نفلو په کولو باندې نه دي لیدلي او پدې مې هم څوک نه دي لیدلي چې دمازدیګر دلمانځه څخه وروسته يې دوه رکعتونو ته اجازت ورکړی وي.

(۲) عَنْ حَمَّادٍ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: سَأَلْتُ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُ اللهُ عَنِ الصَّلَاةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ فَنَهَانِي عَنْهَا، وَقَالَ: «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا لَمْ يُصَلُّوهَا. (۲)

حضرت حماد رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې دابراهیم نخعي رَحِمَهُ اللَّهُ څخه دمابنام دمانځه څخه ددوو رکعتونو په باره کې پوښتنه وکړه، نو هغه زه منع کړم او وېفرمایل چې: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا لمونځ نه دی کړی.

(۳) عَنْ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: «لَمْ يُصَلِّ أَبُو بَكْرٍ، وَلَا عُمَرُ، وَلَا عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ (۱)

۱-(ابو داؤد ج ۱صـ ۱۸۲)

۲-(کتاب الأثار للامام ابی حنیفة بروایت الامام محمدصـ۳۲)

حضرت ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې: ابو بکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
عثمان او رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دمابنام دلمانځه څخه مخکې دوه رکعته نه دي کړي.

قصدا يا بلاقصده دپاتې شوو لمونځونو قضايي ضروري ده

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا، لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ {وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي} (۱)

رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې چا لمونځ هير کړو او يا ترې ويده شو، نو چې ورته ياد شي نو اداء دې کړي ددې بله کفاره بغير ددې څخه نشته، په دې حديث کې حضرت قتادة الفاظ هم ذکر کړو چې: (اقم الصلوة لذکری)

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ، قَالَ: قَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً، أَوْ نَامَ عَنْهَا، فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا (۲)

رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې چا لمونځ هير کړو او يا ترې ويده شو، نو کفاره يې داده چې ورته ياد شي نو اداء دې کړي.

(۳) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ، أَوْ غَفَلَ عَنْهَا، فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا»، فَإِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ: {أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي} (۳)

۱- (مصنف عبدالرزاق ج ۲ص ـ ٤۳٥)
۲-(بخاری ج ۱ص ـ ۸٤، مسلم ج ۱ص ـ ۲٤۱، واللفظ للمسلم)
۳- (مسلم ج ۱ص ـ ۲٤۱)
٤- (مسلم ج ۱ص ـ ۲٤۱)

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې کله يو کس ستاسو د لمونځ څخه ويده شو او يا ترې غافله شوه نو چې ورته ياد شو نو اداء دې کړي، بيشکه الله تعالی فرمايي: اقم الصلوة لذکری.

په احاديثو او په اثارو کې دښځې او دسړي په مونځ کې فرق

۱- دتکبير تحريمه سره دلاسونو په اوچتولو کې فرق

نارينه: نارينه به لاسونه تر غوږونو پورې اوچتوي، (۱) عن مالک بن الحويرث أنه رأى النبي صلى الله عليه وسلم ...وقال... حتى يحاذي بهما فروع أذنيه (۱)

(۲) عن وائل بن حجر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ وحاذي بإبهاميه أُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: يَرْفَعُ إِبْهَامَيْهِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ. (مشکوة، ج ۱ص ۸٦) باب صفة الصلوة).

وائل بن حجر ﷺ فرمائي چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې لاسونه يې داو گوپه برابرې پورته کړل او غټې گوتې يې دغوږونو سره برابرې کړې او په يو روايت کې راځي چې غټې گوتې به رسول الله ﷺ د غوږونو د نرميو سره برابرولې، نو حاصل دا چې دلاسونو برابرول داو گو سره معنی يې داده چې ورغوي داو گو سره برابروه او غټې گوتې دغوږونو د نرميو سره برابروه.

(۳) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «كَبَّرَ حَتَّى حَاذَى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ.

حضرت انس ﷺ فرمائي چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې الله اکبر يې وويلو تر دې چې دلاسونو غټې گوتې يې دغوږونو سره برابرې کړې. (۱)

۱-(صحيح مسلم، ج ۱صـ ۱٦۸، باب استحباب رفع اليدين في تكبيرة الاحرام)

(٤) وَعَن مَالك بن الْحُوَيْرِث رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ. (٢)

زنانه: زنانه به لاسونه تر اوګو او يا سينو پورې او چتوي: د حضرت وايل رضي الله عنه څخه روايت دی چې:

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ: يَا وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ! إِذَا صَلَّيْتَ فَاجْعَلْ يَدَيْكَ حِذَاءَ أُذُنَيْكَ وَالْمَرْأَةُ تَجْعَلُ يَدَيْهَا حِذَاءَ ثَدْيَيْهَا».

يعنې ماته نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې يا وايله چې کله دې لمونځ کولو نو لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړه او ښځه به لاسونه تر سينو پورې پورته کوي. (٣)

فانقيل: د دې حديث په سند کې أم يحيى مجهوله ده امام هيثمي فرمايي چې ولم أعرفها او د مجهول راوي روايت معتبر نه وي؟

قلنا ١-: د امام هيثمي د لم اعرفها په وجه په سند هيڅ اثر نه غورزيږي.

٢- د ام يحی نوم کبشه دی (٤) هلته سند داسې دی:

حدثنا ميمونة بن عبد الجبار بن وايل قال سمعت عمتي كبشة ام يحيى

او د دې څخه ميمونة بنت حجر بن عبد الجبار روايت کوي (٥) لهذا مجهول الحال هم نده.

١- (الدارقطنی ، ص ٣٤٥) بيهقي ج ٢ص ٩٩).
٢-(متفق عليه مشكوٰة/ ج١ص٧٥ باب صفة الصلوٰة)
٣- كنزالعمال حديث نمبر ١٩٦٤٠). المعجم الكبير، رقم ١٧٤٩٧)
٤- (تاريخ دمشق جزء ٦٢، صــ ٣٩٠)
٥- (اكمال الكمال جزء ٢صـ ٤٧٨)

دوهم روایت: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: أَنَا شَيْخٌ لَنَا، قَالَ: سَمِعْتُ عَطَاءً رَحِمَهُ اللَّهُ، سُئِلَ عَنِ الْمَرْأَةِ: كَيْفَ تَرْفَعُ يَدَيْهَا فِي الصَّلَاةِ؟ قَالَ: «حَذْوَ ثَدْيَيْهَا (۱)

دحضرت عطاء رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې ښځه به لاسونه څرنګه اوچتوي؟ هغه ورته وفرمایل چې تر سینو پورې.

دریم روایت: عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ زَيْتُونٍ رحمة الله عليه، قَالَ: رَأَيْتُ أُمَّ الدَّرْدَاءِ رضي الله عنها، تَرْفَعُ كَفَّيْهَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهَا حِينَ تَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ (۲)

حضرت أم الدرداء رضی الله عنه به د تکبیر تحریمه سره لاسونه تر اوګو پورې اوچتول د أم الدرداء نوم خیرة دی او جلیل القدره صحابي اويا تابعي ده.

د لاسونو په تړلو کې فرق

نارینه: د نارینه وو لپاره سنت طریقه داده چې د نوم څخه لاندې لاسونه کیږدي.

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ تحت السُّرَّةِ

وایل بن حجر رضی الله عنه فرمایي چې ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولیدلو چې خپل ښی لاس يې په چپ لاس د نوم څخه لاندې کیښودلو (۲) مونږ د وضع الیدین تحت السرې په رساله کې تقریبا اوه دیرش احادیث لیکلي دي.

زنانه: ښځه به په سینه لاسونه ږدي.

۱-(مصنف ابن ابي شيبه ج ۱صـ ۲۷۰، باب فی المرأة اذا افتتحت الصلوة الی اين ترفع يديها)، دشیخ نوم مسیح بن ثابت دی (مصنف ابن ابي شيبه ج ۲صـ ۵۵٤، باب فی رکعتی الفجر اذا فاته)

۲-(مصنف ابن ابی شیبه ج ۲صـ ٤۲۱، باب فی المرأة اذا افتتحت الصلوة الی این ترفع یدیها)

۳-(مصنف ابن ابی شیبه ،باب وضع الیمین علی الشمال)

۱- (عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ رَحِمَهُمُ اللهُ قَالَ: «تَجْمَعُ الْمَرْأَةُ يَدَيْهَا فِي قِيَامِهَا مَا اسْتَطَاعَتْ(۱)

ښځه به په قيام کې تر څو يې چې طاقت وي لاسونه به راټولوي او لاسونه چې پوره راټول شي نو په سينه کيښودلی شي.

۲- سلطان المحدثين ملا علی القاري رحمه الله فرمايي چې: والمرأة تضع (يديها) على صدرها اتفاقا لان مبنى حالها على الستر (۲)

يعنی ښځه به اتفاقا لاسونه په سينه ږدي ځکه چې د ښځې حال په ستر بنا دی.

۳- علامه عبدالحی الکهنوي رحمه الله فرمايي چې: واما فی حق النساء فاتفقوا على ان السنة لهن وضع اليدين على الصدر لانها ما استرلها (۳)

د ښځو لپاره سنت طريقه داده چې په سينه لاسونه کيږدي ځکه چې پدې کې پرده زياته ده

په رکوع کې فرق

نارينه: عَنْ سَالِمٍ الْبَرَّادِ رحمة الله عليه، قَالَ: أَتَيْنَا عُقْبَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيَّ أَبَا مَسْعُودٍ رضي الله عنه، فَقُلْنَا لَهُ: حَدِّثْنَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَقَامَ بَيْنَ أَيْدِينَا فِي الْمَسْجِدِ، فَكَبَّرَ، فَلَمَّا رَكَعَ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَجَعَلَ أَصَابِعَهُ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ، وَجَافَى بَيْنَ مِرْفَقَيْهِ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ (٤)

۱- (مصنف عبدالرزاق ج ۳ صـ ٤٩، باب تكبير المرأة بيديها وقيام المرأة وركوعها وسجودها)

۲-(فتح باب البنايه ج ۱ صـ صـ ۲٤۳، سنن الصلوة)

۳-(السعايه ج۲، ۱٥٦)

٤-(سنن ابی داود ج ۱ صـ ۱۳۳، باب صلوة من لايقيم صلبه فی الركوع والسجود)

سالم البراد رحمه الله فرمايي چې مونږ عقبه بن عمرو الانصاري ته ورغلو او ورته مو وويل چې مونږ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم دلمونځ په باره کې حديث بيان کړه ، هغه په مسجد نبوي کې زمونږ په منځ کې ودريدلو تکبير تحريمه يې وکړو چې کله يې رکوع وکړه نو لاسونه يې په زنګنونو کېښودل او نېلې ګوتې يې د زنګونو څخه ښکته کړې او څنګلې يې د اړخونو څخه جدا کړې.

زنانه: ښځه به راټوله رکوع کوي چې لاسونه يې د ګيډې سره لګيدلي وي،

حضرت عطاء فرمايي چې:

(تَجْتَمِعُ الْمَرْأَةُ إِذَا رَكَعَتْ تَرْفَعُ يَدَيْهَا إِلَى بَطْنِهَا، وَتَجْتَمِعُ مَا اسْتَطَاعَتْ، فَإِذَا سَجَدَتْ فَلْتَضُمَّ يَدَيْهَا إِلَيْهَا، وَتَضُمَّ بَطْنَهَا وَصَدْرَهَا إِلَى فَخِذَيْهَا، وَتَجْتَمِعُ مَا اسْتَطَاعَتْ" (۱)

ښځه به راټوله رکوع کوي لاسونه به د ګيډې سره لګوي او حتى الوسع به ځان راټولوي، او په سجده کې به هم لاسونه ځان ته راټولوي او ورنونه به د ګيډې سره لګوي

په سجده کې فرق

نارينه: نارينه به ازاده کولاو سجده کوي،

۱- (عَنْ مَيْمُونَةَ رضي الله عنها «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَجَدَ جَافَى يَدَيْهِ، حَتَّى لَوْ أَنَّ بَهْمَةً أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ» (۲)

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله سجده کوله نو خپله ګيډه به يې دلاسونو څخه دومره لرې ساتله چې که سيرلي د لاسونو لاندې د تيريدلو اراده کړې وی، نو تيردلی شو .

۱-(مصنف عبدالرزاق رقم ۵۰۶۹).

۲-(سنن نسائي ج ۱ صـ ۱۶۷، باب التجافى فى السجود)

٢- (عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ رحمة الله عليه، قَالَ: وَصَفَ لَنَا الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رضي الله عنه، فَوَضَعَ يَدَيْهِ وَاعْتَمَدَ
عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَرَفَعَ عَجِيزَتَهُ وَقَالَ: «هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ» (١)

رسول الله صلى الله عليه وسلم به سجده کې لاسونه او زنګنونه ايښي وو ،ورفع عجيزته)

زنانه: (١) عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى امْرَأَتَيْنِ تُصَلِّيَانِ فَقَالَ: "إِذَا سَجَدْتُمَا فَضُمَّا بَعْضَ اللَّحْمِ إِلَى الْأَرْضِ فَإِنَّ الْمَرْأَةَ لَيْسَتْ فِي ذَلِكَ كَالرَّجُلِ. (٢)

رسول الله ﷺ په دووزنانه ووتيريدو چې هغوئ لمونځ کولونو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې کله تاسو سجده کوله نو دبدن بعضې حصې د زمکې سره ولګوئ ځکه چې پدې سلسله کې ښځې د سړيو په شان نه دي.

(٢) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَلَسَتِ الْمَرْأَةُ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَتْ فَخِذَهَا عَلَى فَخِذِهَا الْأُخْرَى، وَإِذَا سَجَدَتْ أَلْصَقَتْ بَطْنَهَا فِي فَخِذَيْهَا كَأَسْتَرِ مَا يَكُونُ لَهَا، وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَنْظُرُ إِلَيْهَا وَيَقُولُ: يَا مَلَائِكَتِي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهَا. (٣)

عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې کله ښځه په لمانځه کې کيناستله نو يوورون دې دبل ورون سره ولګوي او چې کله سجده کوي نو ګيډه دې دورنونو سره ولګوي ،څرنګه چې دستر زياته حالت دی، ځکه چې الله

١-(ابوداود ج ١ صـ١٣٧، باب صفة السجود)

٢-(السنن للبهيقى ، حديث نمبر ٣٣٢٥ باب مايستحب للمرءة من ترک التجافى ج ٢ص ٢٢٣) (اعلاء السنن بحواله مراسيل ابى داود، ج ٣ص ١٩ حديث نمبر ٨٤).

٣-(بهيقى حديث نمبر ٣٣٢٤ والكامل لابن عدي ج ٢ صــ ٢١٤، ج ٢ص ٢٢٣) (كنزالعمال، ج ٧ص ٥٤٩ حديث نمبر ٢٠٢٠٣)

...دې ته ګوري او ملائکوته وائي چې تاسو شاهدانې اوسئ چې ما دې ښځې ته مغفرت کړی دی.

(۳) حضرت ابو سعید خدری ﷛ فرمائي چې نبي کریم ﷺ نارینه وو ته حکم کړی وو (ان یتجافوا في سجودهم) یعنې اندامونه یو د بل څخه لرې وساتئ او زنانه وو ته یې حکم کړی وو چې (ان ینخفضن في سجودهن) چې نښتې سجده وکړئ (۱)

(۴) څلورم خلیفه الراشد حضرت علی ﷛ فرمائي: اذا سجدت المرءة فلتحتفز ولتضم فخذیها. چې کله ښځه سجده کوي نو اندامونه دي یو د بل سره یو ځای کوي او نښتې سجده دې کوي. (۲)

(۵) د حضرت عبد الله بن عباس ﷛ څخه پوښتنه وشوه په باره د لمانځه د ښځې کې نو هغه جواب ورکړو (تجتمع وتحتفز) چې نښتې او راټوله دې شي. (۲)

(۶) عَنْ مُجَاهِدٍ رحمة الله عليه أَنَّهُ كَانَ يَكْرَهُ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ بَطْنَهُ عَلَى فَخِذَيْهِ إِذَا سَجَدَ كَمَا تَضَعُ الْمَرْأَةُ" (۱)

امام مجاهد به په سجده کې مکروه ګڼله چې یو سړی دې ګېډه په ورنونو کیدي لکه څرنګه یې چې ښځه کوي.

۱- (بیهقي ج ۲/۲۲۲).

۲- (ابن ابی شیبه ، ج ۱ص ۳۰۲/ باب فی المرءة کیف تکون فی سجودها؟ حدیث نمبر ۲۷۹۳ بیهقی ،ج ۲ص ۲۲۳) وعبدالرزاق حدیث نمبر ۵۰۷۲)

۳- (مصنف لابن ابی شیبه ،ج ۱ص ۲۷۰)حدیث نمبر ۲۷۹٤)

۱-(مصنف ابن ابی شیبه ،ج ۱ص ۲۷۰)

(۷) په همدې طریقه عمل جاري وو لکه څرنګه چې په کوفه کې امام ابراهیم نخعی رحمه الله دا فتوی ورکړه چې ښځې دی د سرینو په شان کولا و سجده نه کوي بلکې بالکل را ټوله نښتي سجده دې کوي په مدینه منوره کې حضرت مجاهد او په بصره کې امام حسن بصری رحمه الله همدغه فتوی ورکوله. (۱)

په صحابه وو ﷺ، تابعینو، او تبع تابعینو رحمه الله کې هیچا د دې څخه انکار ندی کړی او دایمه یې اربعه وو هم ورباندې اجماع ده.

۱- (مصنف ابن ابی شیبه ، کتاب الصلوة باب کیف تکون المرءة فی سجودها حدیث نمبر ۲۷۹۷ وحدیث نمبر ۲۷۹۵ وحدیث نمبر ۲۷۹۶ عن الحسن وقتادة قالا اذا سجدت المرأة فانها تنضم ما استطاعت ولا تتجافی لکی لا ترفع عجیزتها) مصنف عبدالرزاق حدیث نمبر ۵۰۷۱ باب تکبیر المرءة بیدیها الخ ج۱ ص۲۰۲/۲۰۳).

په قعده کې فرق

نارینه: نارینه وو ته افتراش اولی دی؛

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما: «إِنَّمَا سُنَّةُ الصَّلَاةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنٰى وَتَثْنِيَ الْيُسْرٰى (۱)

دلمانځه سنت طريقه داده چې ښی پښه و دروې او چپه پښه څملوې.

زنانه: عن ابن عمر رضي الله عنه سئل كيف كنّ النساء يصلين علي عهد رسول الله ﷺ قال كن يتربعن ثم امرن ان يحتفزن (۲)

دحضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې ښځو به دنبی ﷺ په زمانه کې څرنګه لمونځ کولو، عبد الله ابن عمر رضي الله عنه جواب ورکړوچې ښځې به په اول کې په پلتري (چارزانو) باندې کیناستې بیا ورته امروشوچې ښي راټولې لمونځ وکړئ.

په مواضع الصلوة کې فرق

نارینه: د نارینه وو لمونځ په مسجد کې افضل دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةٌ مَعَ الْإِمَامِ أَفْضَلُ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً يُصَلِّيهَا وَحْدَهُ. (۳)

په جماعت لمونځ ديوا ځې لمونځ څخه پنځه ويشت درجې زيات فضيلت لري.

زنانه: د زنانه وو لمونځ په کور کې افضل دی.

۱-(بخاري ج ۱ صـ ۱۱٤، باب سنة الجلوس)

۲- (جامع المسانيد ج ۱ ص ٤٠٠).

۳-(صحيح مسلم ج ۱ صـ ۲۳۱)

(۱) حضرت ام حمید چې د عظیم صحابي ابو حمید الساعدي بي بي ده فرمائي چې زمونږ د قبیلې ښځې زما خاوند مسجد ته د تللو څخه منع کړې وي.

ما د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړو چې زما زړه غواړي چې ستاسو سره په جماعت لمونځ وکړم لکن زما خاوند مې ددې څخه منع کوي، نو رسول الله ﷺ ماته وفرمایل چې ستاسو په کوټه کې لمونځ د برنډې څخه بهتر دی او په برنده کې دانګړ څخه بهتر دي او په انګړ کې لمونځ کول (زما سره په مسجد نبوي کې) د جماعت د لمونځ څخه بهتر دی. (۱)

ددې څخه وروسته ام حمید ﷺ حکم وکړو چې زما په کور کې په تیاره کوټه کې ماته د لمانځه ځای جوړ کړئ او دی تر وفات پورې په هغې کې لمونځ کولو. (۲)

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «لَوْ أَدْرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ المسجد

ام المومنین حضرت عایشه رضی الله عنها فرمائي که رسول الله ﷺ دغه ازادي لیدلې وې کومه چې اوس ښځو ظاهره کړې ده نو رسول الله ﷺ به ښځې د مسجد څخه منعه کړې وې. (۳)

(۳) حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ به ښځې د مسجد څخه شړلې او فرمایل به یې چې ستاسو لپاره ستاسو کورونه بهتر دي. (۴)

۱-(طبراني، مجمع الزوايد، ج ۲ص۳٤).

۲-(مجمع الزوايد، ج ۲ص۳٤).

۳-(بخاری، ج ۱/ ص ۱۲۰، مسلم/ ج/۱/ص ۱۸۳/ عبد الرزاق، ج ۳ص ۱٤۹).

٤-(مجمع الزوايد، ج ۲ص ۳۵).

(۴) حضرت عبد الله بن مسعود ﷛ به د جمعي په ورځ نبځې په وړوتيګو ويشتې او د مسجد څخه به يې ايستلې. (١) دا هر څه د صحابه وو په موجودګۍ کې شوي دي. مخکې ذکر شو چې دلا مذهبو په مشهورو کتابونو فتاوی غزنويه، او فتاوی علماء اهلحديث کې هم په يو ځای کې دا فرق منلي شوی دی او د مراسيلو دابوداود دغه حواله يې ورکړې ده چې مونږ په دوهم نمبر کې ليکلی ده او بيا يې ليکلي دي چې په همدې باندې د اهل سنت والجماعت مذاهبو اربعه وو اتفاق او تعامل راروان دی بيا يې د څلورو واړو مذاهبو حوالې رانقل کړي دي بيا يې ليکلي دي چې خلاصه دا چې د ښځو په باره کې (انضمام او انخفاض) د احاديثو او تعامل د جمهورو څخه ثابت دی او د دې څخه انکار د احاديثو د کتابو نو او د اهل علمو د تعامل څخه بې خبري ده. (٢)

نو مذکور احاديث او د امت اجماع په صراحت سره د ابنائي چې په دې مسايلو کې د نر او د ښځې په مينځ کې فرق دی. د ابن حزم الظاهري او د ده د مقلدينو سره هيڅ دليل نشته، نه ورسره د قران ايت شته او نه ورسره د رسول الله ﷺ حديث شته او نه ورسره د کوم خليفه الراشد فتوی شته، البته که دام د زداء ﷛ د اثر څخه استدلال کوي نو د دغې د اثر حال لاندې وګوره.

١- (عمدة القاری، ج ٣ ص ٢٢٨)

٢-(فتاوي غزنويه ص ٢٧/ ٢٨/ فتاوی علماء اهلحديث، ج٣ ص ١٤٨/ ص١٤٩).

چې خطبه شروع شي نو بیا مونځ کول او خبرې کول مکروه دي

۱- عن سَلْمَانَ الفَارِسِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الجُمُعَةِ، وَتَطَهَّرَ بِمَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، ثُمَّ ادَّهَنَ أَوْ مَسَّ مِنْ طِيبٍ، ثُمَّ رَاحَ فَلَمْ يُفَرِّقْ بَيْنَ اثْنَيْنِ، فَصَلَّى مَا كُتِبَ لَهُ، ثُمَّ إِذَا خَرَجَ الإِمَامُ أَنْصَتَ، غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الجُمُعَةِ الأُخْرَى».(۱)

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او ترخپلې وسې او طاقت پورې صفائي وکړي بیا تيل ولګولې او یا خوشبويي ولګوله بیا مانځه ته لاړ شي نو د دوو کسانو په مينځ کې جدايي رانه ولي بیا چې څومره ورته الله جل جلاله ليکلی وي هغومره مونځ وکړي بیا چې کله امام د خطبې لپاره راوو ځي، چپ شي نو وبه بښلی شي دده لپاره هغه ګناهونه چې د دې جمعې او د تيرې جمعې په مينځ کې يې کړي وي.

۲- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنِ اغْتَسَلَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ، فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ، ثُمَّ أَنْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ، ثُمَّ يُصَلِّي مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الأُخْرَى، وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ» (۲)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې: چا چې غسل وکړو، بیا د جمعې لپاره مسجد ته راشي نو چې څومره ورته الله جل جلاله مقرر کړي وي هغومره مونځ وکړي، بیا چپ شي تر دې پورې چې امام د خطبې څخه فارغ شي، بیا د امام سره د جمعې مونځ

۱-[بخاری ج/۱ ص/۱۲۱].

۲-[مسلم ج/۱ ص/۲۸۳].

وکړي، نو وبه ببښلی شي، دده لپاره هغه ګناهونه چې دده جمعې او د تيرې جمعې ترمينځ يې کړی دي او درې ورځې زياتې هم.

۳- عَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ رحمه الله، قَالَ: كَانَ نُبَيْشَةُ الْهُذَلِيُّ رضي الله عنه، يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ أَقْبَلَ إِلَى الْمَسْجِدِ، لَا يُؤْذِي أَحَدًا، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْإِمَامَ خَرَجَ، صَلَّى مَا بَدَا لَهُ، وَإِنْ وَجَدَ الْإِمَامَ قَدْ خَرَجَ، جَلَسَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ، حَتَّى يَقْضِيَ الْإِمَامُ جُمُعَتَهُ وَكَلَامَهُ، إِنْ لَمْ يُغْفَرْ لَهُ فِي جُمُعَتِهِ تِلْكَ ذُنُوبُهُ كُلُّهَا، أَنْ تَكُونَ كَفَّارَةً لِلْجُمُعَةِ الَّتِي تَلِيهَا». (۱)

حضرت عطاء الخراساني رحمه الله فرمايي چې: حضرت نبيشة الهذلی رضي الله عنه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد رانقلولو چې کله يو مسلمان د جمعې په ورځ باندې غسل وکړي، بيا د جومات طرفته په داسې حال کې لاړ شي چې چاته ضرر نه رسوي نو که وی ليدل چې امام نه دی راوتلی نو چې څومره يې خوښه وی هغه مونځ وکړی او که وی ليدل چې امام راوتلی دی، نو کينی، غوږ کيږدي او چپ شي، تردې پورې چې امام د خطبې او د مونځ څخه فارغ شي نو که پدې جمعه کې دده ټول ګناهونه معاف نه شي، نو د مخکني جمعې لپاره به کفاره شي.

۳- ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې کله د جمعې ورځ شي نو ملايکې د مسجد په دروازه کې درېږي او د راتلونکو خلکو نومونه يو دبل پسې ليکي او په اول کې راتلونکی داسې دی لکه اوښ يې چې هديه کړی وي، بيا وروسې داسې دی لکه غوا يې چې هديه کړی وي، بيا وروسې داسې دی لکه پسه يې چې هديه کړی وي، بيا وروسې داسې دی لکه چرګه يې چې هديه کړې وي، بيا

۱- [مسند احمد ج۵/ ص۷۵].

وریسې داسې دی لکه هګی یې چې هدیه کړې وي. فاذا خرج الامام طوو صحفهم ویستمعون الذکر. (۱) کله چې امام راووځی نو بیا خپل کاغذونه کلوله راټول کړي او خطبې ته غوږ کیږدي.

۴- ابوهریرة د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې:

إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: أَنْصِتْ، وَالإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ. (۲)

کله چې دې ملګري په د جمعې په ورځ وویلې چې چپ شه پداسې حال کې چې امام خطبه لوستله نو په تحقیق سره تا لغوه او بیکاره کار وکړو.

۵- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا، وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ: أَنْصِتْ، لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ. (۳)

رسول الله ﷺ فرمایې چې د خطبې په حالت کې د خبرو کوونکی د هغه خره په مثال دی چې کتابونه پرې بار وي او هغه سړی چې ده ته ووایې چې چپ شه نو د هغه هم جمعه ونه شوه.

۱- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ وَالإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَا صَلَاةَ وَلَا كَلَامَ حَتَّى يَفْرُغَ الإِمَامُ» (۴)

رسول الله ﷺ فرمایې چې: کله یو کس ستاسو په داسې حالت کې مسجد ته راغلو چې امام خطبه لوستله نو نه به مونځ کوي او نه به خبرې کوي، تردې پورې چې چې امام فارغ شي.

۱- [بخاری ج۱/ ص۱۳۷].
۲-[بخاری ج۱/ ص۱۲۷].
۳- [مسند احمد ج۱/ ص۲۳۰]
٤-[مجمع الزواید ج۲/ ص۱۸٤].

۸- ابن شهاب زهری رحمه الله فرمايي چې: ماته ثعلبة بن مالک القرظی وفرمايل چې مونږ به د عمر رضي الله عنه په زمانه کې د جمعې په ورځ ترهغې پورې مونځونه کول چې ترڅو پورې به عمر رضي الله عنه نه وو راوتلی، بيا به د اذان په وخت کې هم مونږ خبرې کولې خو:

فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ، وَقَامَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَخْطُبُ، أَنْصَتْنَا، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ مِنَّا أَحَدٌ. قَالَ ابْنُ شِهَابٍ رحمه الله: فَخُرُوجُ الْإِمَامِ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ. وَكَلَامُهُ يَقْطَعُ الْكَلَامَ (۱)

کله به چې اذان کوونکي چپ شول او حضرت عمر رضي الله عنه به خطبه شروع کړه نو بيا به په مونږ کې هيچا هخبرې نه کولې. ابن شهاب زهری رحمه الله فرمايي چې: د امام راوتل د خلکو مونځ ختموي او د امام کلام د خلکو خبرې ختموي.

۹- عَنِ ابْنِ شِهَابٍ رحمه الله قَالَ: حَدَّثَنِي ثَعْلَبَةُ بْنُ أَبِي مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ «قُعُودَ الْإِمَامِ يَقْطَعُ السُّبْحَةَ، وَأَنَّ كَلَامَهُ يَقْطَعُ الْكَلَامَ (۲)

ابن شهاب: زهری رحمه الله فرمايي چې: ماته ثعلبه بن مالک رضي الله عنه حديث بيان کړی دی چې د امام کيناستل په ممبر باندې د خلکو مونځ قطع کوي. او دده کلام د خلکو خبرې ختموي.

۱۰- عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي مَالِكٍ الْقُرَظِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «أَدْرَكْتُ عُمَرَ، وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَكَانَ الْإِمَامُ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، تَرَكْنَا الصَّلَاةَ». (۳)

۱-[مؤطأ امام مالک ص۸۸]

۲-[الحديث مسند الامام الشافعی ج۱/ ص۱۳۹].

۳-[مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۱۱].

حضرت ثعلبة بن مالک القرضی ﷺ فرمايي چې: ما د حضرت عمر ﷺ او د حضرت عثمان ﷺ زمانه ليدلی ده، (په هغه وخت کې د جمعې په ورځ دا معمول وو) چې امام به (د خطبې لپاره راووتلو) نو مونږ به مونځ پرېښودلو.

۱۱- سايب بن يزيد ﷺ فرمايي چې: د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې به مونږ د جمعې په ورځ مونځ کولو. فَإِذَا خَرَجَ عُمَرُ ﷺ وَجَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ قَطَعْنَا الصَّلٰوةَ (۱)

کله به چې عمر ﷺ راووتلو او په ممبر به کيناستلو نو مونږ به مونځ پرېښودلو.

۱۲- حضرت علی ﷺ فرمايي چې: د جمعې مانځه ته درې قسمه خلک راځي، يو هغه سړی دی چې د جمعې مانځه ته په سکون، وقار او خاموشۍ سره راځي، نو دا هغه سړی دی چې ددې دواړو جمعو په مېنځ کې ګناهونه ورته معاف کيږي. راوي فرمايي چې: زما دا ګمان دی چې دا يې هم وويل چې دزايدو ورځو ګناهونه هم ورته معاف کيږي، بل هغه سړی دی چې په جمعه کې شريک شي او لغوه کارونه کوي، نو دده برخه همدغه لغوه او بېکاره کار دی.

(وَرَجُلٌ صَلَّى بَعْدَ خُرُوجِ الْإِمَامِ فَلَيْسَتْ بِسُنَّةٍ، إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ. (۲)

درېيم هغه سړی دی چې د امام (د خطبې لپاره) د راوتلو څخه وروسته مونځ کوي، دده دا مونځ د سنتو سره موافق نه دی، که د الله ﷻ اراده وشي نو ثواب به ورکړي او که اراده يې وشي نو نه به يې ورکوي.

۱- [نصب الراية ج۲/ ص۲۰۴]

۲- [مصنف عبدالرزاق ج۳/ ص۲۱۰]

۱۳- عَنْ الحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّهُ كَانَ يَكْرَهُ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ. حضرت علی رضي الله عنه د خطبې په وخت کې مونځ مکروه ګڼلو.(۱)

۱٤- عَنْ عَطَاءٍ رحمة الله عليه، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ: «أَنَّهُمَا كَانَا يَكْرَهَانِ الصَّلَاةَ وَالْكَلَامَ بَعْدَ خُرُوجِ الْإِمَامِ (۲)

حضرت ابن عباس او حضرت ابن عمر رضي الله عنهم به د خطبې په وخت کې مونځ او خبرې مکروه ګڼلې.

۱۵- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَأَلُوهُ عَنِ الرَّجُلِ يُصَلِّي وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ؟ قَالَ: «أَرَأَيْتَ لَوْ فَعَلَ ذٰلِكَ كُلُّهُمْ كَانَ حَسَنًا؟»

د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه خلکو د خطبې په وخت کې د مانځه په باره کې پوښتنه وکړه؟ هغه ورته وفرمایل چې که د خطبې په وخت کې ټول خلک په مونځ ودریږي نو آیا دا به ښه کار وي؟ (۳)

۱٦- عَنْ نَافِعٍ رحمة الله عليه قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا «يُصَلِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِذَا تَحَيَّنَ خُرُوجُ الْإِمَامِ قَعَدَ قَبْلَ خُرُوجِهِ (۲)

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه به د جمعې په ورځ مونځ کولو پس کله به چې د امام د راوتلو وخت شو نو د امام د راوتلو څخه به مخکې کيناستلو.

۱۷- عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ, قَالَ: «الصَّلَاةُ وَالْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ مَعْصِيَةٌ (۱)

۱-[المدونة الکبری ج۱/ص۱٤۸].

۲-[مصنف بن ابی شیبة ج۲/ ص۱۱۱].

۳- [مصنف عبدالرزاق ج۳/ ص۲٤۵].

٤-[مصنف عبدالرزاق ج۳/ ص۲۱۰]

حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه فرمايي چې پداسې حال کې مونځ کول چې امام په ممبر باندې ناست وي ګناه ده.

۱۸- هشام بن عروه رحمه الله فرمايي چې : حضرت عبدالله بن صفوان رضي الله عنه پداسې وخت کې مسجد ته راغلو چې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه خطبه لوستله... فَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ ثُمَّ قَالَ: «السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ ثُمَّ جَلَسَ وَلَمْ يَرْكَعْ».. (۲)

حجر اسود یې بښکل کړ بیا یې سلام واچولو بیا کیناستلو او سنت یې ونه کړل؟

۱۹- عَنِ ابْنِ سِيرِينَ رحمه الله، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: «إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ، فَلَا يُصَلِّ أَحَدٌ حَتَّى يَفْرُغَ الْإِمَامُ» (۳)

ابن سيرين رحمه الله فرمايي چې: کله امام راووتلو نو هیڅوک دې تر هغې پورې مونځ نه کوي ترڅو پورې چې امام فارغ شي.

۲۰- عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، رَحِمَهُمَا اللَّهُ قَالَ: «إِذَا قَعَدَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَا صَلَاةَ». (۴)

هشام رحمه الله د خپل پلار عروة بن زبير رضي الله عنه څخه روايت کوي چې کله امام په ممبر باندې کیناستلو نو بیا مونځ نشته.

۱-[طحاوی ج۱/ ص۲۵٤]
۲-[طحاوی ج۱/ ص۲۵٤]
۳-[مصنف ابن ابی شیبة ج۲/ ص۱۱۱].
٤-[مصنف بن ابی شیبة ج۲/ ص۱۱۱].

۲۱- عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ: «فِي الرَّجُلِ يَجِيءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، يَجْلِسُ وَلَا يُصَلِّي» (۱)

معمر د زهری رحمه الله څخه د هغه سړي په باره کې روایت کوي چې په داسې حالت کې مسجد ته راشي چې امام خطبه لولي نو کیني به او مونځ به نه کوي.

۲۲- عَنْ لَيْثٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ «أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يُصَلِّيَ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ». (۲)

امام مجاهد رَحِمَهُ اللّٰهُ به د خطبې په وخت کې مونځ ته مکروه ویلي دي.

۲۳- عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ، قَالَ: «خُرُوجُ الْإِمَامِ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ، وَكَلَامُهُ يَقْطَعُ الْكَلَامَ» (۳)

سعید بن مسیب رحمه الله فرمایي چې: د امام د خطبې لپاره راوتل مونځ او د امام کلام د خلکو خبرې ختموي.

نو د جمهورو مسلمانانو په نیز باندې د خطبې په وخت کې د مونځ کول صحیح نه دي ، امام نووي رحمه الله لیکي چې : د امام مالک رحمه الله ، امام لیث بن سعد رحمه الله ، امام ابو حنیفه رحمه الله او ده جمهورو صحابؤو رضي الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله مسلک دا دی چې د خطبې په وخت کې مونځ صحیح نه دی. د حضرت عمر رضي الله عنه ، حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه همدا مسلک دی. (٤)

۱-[مصنف ابن ابی شیبة ج۲/ ص۱۱۱، طحاوی ج۱/ ص۲٥٤].

۲-[طحاوی ج۱/ ص۲٥٥]

۳-[مصنف ابن ابی شیبة ج۲/ ص۱۱۱، مصنف عبدالرزاق ج۳/ ص۲٤٥]

٤- نووي شرح مسلم ج ۲ صـــ ٤۱٥

علامه عراقي فرمائي چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ، ابن عباس رضي الله عنهما ، عروه بن زبير رضي الله عنه، مجاهد رحمه الله ، عطاء بن ابي رباح رحمه الله، سعد بن المسيب رحمه الله ، محمد بن سيرين رحمه الله ، امام زهري رحمه الله ، قتادة رحمه الله ،ابراهيم نخعي رحمه الله او د قاضي شريح رحمه الله همدا مذهب دی.(۱)

امام ترمذي رحمه الله فرمائي چې د کوفې د فقهاوو او د محدثينو همدا مسلک دی. (۲)

رسول الله عليه السلام فرمائي چې: يصلي ما كتب له ثم ينصت اذا تكلم الامام. (۳)

(دامام د راوتلو څخه مخکي) چې څومره مونځ ورته مقرر وي هغه دې وکړي بيا چې امام خطبه شروع کړه نو چپ دې شي ، نو د دې صحيح احاديثو څخه معلومه شوه چې د خطبې په وخت کې د چپ کيدلو څخه بغير بله چاره نشته.

حضرت نبيشة الهذلي رضي الله عنه د رسول الله عليه السلام څخه روايت کوي چې:

فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْإِمَامَ خَرَجَ صَلَّى مَا بَدَا لَهُ، وَإِنْ وَجَدَ الْإِمَامَ قَدْ خَرَجَ جَلَسَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ(۴)

۱- فتح الملهم ج۲ صـ ٤١٥]

۲- ترمذي ج۱ صـ ٦٧

۳- بخاري ج۱ صـ ۱۲۱ مسلم ج۱ صـ ۲۸۳]. طيالسي صـ ٦٥

٤- (الحديث مجمع الزوائد ج ۲ صـ ۱۷۱ و قال رَوَاهُ أَحْمَدُ وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ خَلَا شَيْخِ أَحْمَدَ رحمه الله وَهُوَ ثِقَةٌ.... انتهي

که امام د خطبي لپاره نه وو راوتلي نو چې څومره مونځ کول غواړي و دې ئي کړي.
او چې کله امام د خطبي لپاره راووتلو نو په دغه وخت کې دې هر سړی کيني او چپ
دې شي، علامه هيثمي فرمائي چې: د دې روايت ټول راويان د بخاري او د مسلم
راويان دي د امام احمد د استاذ څخه ما سوا، ليکن هغه هم ثقه دی. د دې صحيح حديث
څخه هم معلومه شوه چې د خطبي په وخت کې د مونځ اجازت نشته.

فان قيل: چې په حديث کې راځي:

«إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا». (١)

په تاسو کې چې څوک پداسې حالت کې راغلو چې امام خطبه لوستله، نو
دوه رکعته لمونځ دې په اختصار سره وکړي.

قلنا: دا حديث د يوې خاصې واقعې سره تعلق لري. بيا بعضي راويانو د
نقل بالمعني په اعتبار د عموم جامه ور اغوستي ده اصل واقعه دا وه چې حضرت
سليک غطفاني رضي الله عنه د ډيري غريبۍ ښکار شوي وو، کله چې رسول عليه
السلام د ده خراب حالت وليدلو نو د چندې اراده ئي ورته وکړه، او حکم ئي ورته
وکړو چې پاڅيږه او دوه رکعته مونځ وکړه، او دا حکم ئي د دې لپاره ورته وکړو
چې خلک د ده خراب حالت وګوري او د زړه د اخلاصه چنده ورسره وکړي د
روايت اصل الفاظ داسې دي چې:

جَاءَ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بِهَيْئَةٍ بَذَّةٍ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَصَلَّيْتَ؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «صَلِّ رَكْعَتَيْنِ، وَحَثَّ النَّاسَ عَلَى الصَّدَقَةِ». (١)

١-[مسلم ج/١ ص٢٨٧].

رسول الله عليه السلام خطبه لوستله چې په دې وخت کې يو سړی چې حالت ئې ډير خراب وو راغلو. نو رسول الله عليه السلام ورته وفرمائيل چې آيا مونځ دې کړی دی؟ هغه ورته وفرمائيل چې نه، نو رسول الله عليه السلام ورته وفرمائيل چې پاسيږه او دوه رکعته مونځ وکړه، او خلک ئې په صدقه باندې تيز کړل. دمسند احمد د روايت الفاظ داسې دي چې رسول الله عليه السلام وفرمائيل چې:

إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فِي هَيْئَةٍ بَذَّةٍ فَأَمَرْتُهُ أَنْ يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ وَأَنَا أَرْجُو أَنْ يَفْطِنَ لَهُ رَجُلٌ فَيَتَصَدَّقَ عَلَيْهِ (٢)

دا سړي مسجد ته په خراب حالت کې راغلو، نو ما ورته امر وکړو چې دوه رکعته لمونځ وکړه او ځه اميد لرم چې څوک د ده په خراب حالت باندې خبر شي نو صدقه به ورباندې وکړي، نو د دې څخه معلومه شوه چې دا يوه مخصوصه واقعه وه، نو بعضې راويانو روايت بالمعنى وکړو، او د عموم جامه ئې ورته ورواغوستله، په يو روايت کې داسې هم راغلي دي چې: وامسک عن الخطبة حتى فرغ من صلوته. (٣)

د دې سړي د مانځه څخه تر فارغيدلو پورې نبي عليه السلام خطبه درولې وه.

په يو روايت کې الفاظ داسې دي چې: ارکع رکعتين ولا تعد لمثل هذا. (٤)

ته دوه رکعته مونځ وکړه خو بيا داسې مه کوه، نو چونکه دا سړي نهايت غريب وو، نو رسول الله عليه السلام ورته امر وکړو چې دوه رکعته لمونځ وکړي، د دې لپاره چې خلکو ته دده خراب حالت ښکاره شي او چنده ورسره وکړي، او کله چې په دوهمه او

١- الحديث نسائي ج ١ صـ ١٥٨)

٢-(فتح الباري ج ٢ صـ ٣٢٦].

٣- دارقطني ج ١ صـ ١٦٩، زيلعي ج ٢ ص٢٠٣]

٤- دار قطني ج ١ صـ ١٦٩

او په هره جمعه باندي راغلو نو بيا ورته رسول الله عليه السلام وفرمائيل چې پاڅيږه او مونځ وکړه. (١)او دا هم د دې لپاره چې خلک د ده خراب حالت وګوري او څنده ورسره وکړي کله چې دا په دوهمه جمعه باندي راغلو. رسول الله عليه السلام خطبه لوستله نو وي فرمائيل چې: ان يصدقوا عليه وان يصلي ركعتين. (٢)خلک دي په ده باندي صدقه وکړي او ده ته ئي د دوه رکعته مونځ حکم وکړو

٣) په اعتراض کي په ذکر شوي حديث کي الفاظ داسي دي چې:

«إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا»

يخطب صيغه د مضارع ده نو خطبه په استقبال کي ده نو معني دا شوه چې کوم سړي چې راغلو په داسي حالت کي چې امام د خطبې لوستل غوښتل، او د خطبې اراده ئي کړي وه، نو د خطبې څخه مخکي دې دوه رکعته مختصر مونځ وکړي. امام نسائي په سنن الكبري کي د دې حديث لپاره داسي باب قائم کړي دي چې: باب الصلوة قبل الخطبة نو د امام نسائي د تحقيق مطابق دا واقعه د خطبې څخه مخکي مخې ته راغلې وه، همدا معني علماؤ په نظر کي نيولي ده او د يخطب ترجمه ئي په يريد الخطبة سره کړي ده وګوره (٣)

د جمعې په ورځ لس رکعته سنت مؤکد دي، څلور د فرضو څخه مخکي او شپږ د فرضو څخه وروسته دي

١- فتح الباري ج ١ صـــ ٤٩٩ـ

٢- جزء القراءت صـــ ٣٧

٣- فتح الملهم ج ٢ صـــ ٢١٧ فيض الباري ج ٢ صـــ ٣٤٤.

۱- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا، عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْعَلُ التَّسْلِيمَ فِي آخِرِهِنَّ رَكْعَةً. (۱)

حضرت علی رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعې د مانځه څخه مخکې او وروسته څلور څلور رکعته کول، سلام به يې په اخيرني څلورم رکعت باندې ګرځولو.

۲- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَرْكَعُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ. (۲)

عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم دجمعې د فرضو څخه مخکې څلور رکعته کول او وروسته به يې هم څلور رکعته کول ددې څلورو رکعتونو په مينځ کې به يې (په دوو رکعتونو) سلام نه ګرځولو.

۳- ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې:

كَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَرْكَعُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا، لَا يَفْصِلُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ (۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعې د فرضونو څخه مخکې څلور رکعته سنت کول او د دوي په مينځ کې به يې جدايي نه راوستله.

٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (مَرْفُوعًا) مَنْ كَانَ مُصَلِّيًا (يَوْمَ الْجُمُعَةِ) فَلْيُصَلِّ قَبْلَهَا أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا. (٤)

۱- [معجم طبرانی اوسط بحواله نصب الراية ج۲/ ص۲۰٦، باب صلوة الجمعة آحاديث سنة الجمعة].
۲-[مجمع الزوايد ج۲/ ص۱۹۵، باب فی سنة الجمعة].
۳-[ابن ماجة ص۷۹]. باب ماجاء فی الصلوة قبل الجمعة]
٤-[كنز العمال ج۷/ ص۷٤۹].

رسول الله ﷺ فرمايي چې: څوک د جمعې مونځ کوي نو د فرضو څخه مخکې دې څلور رکعته وکړي او وروسته دې هم څلور رکعته وکړي.

۴- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا.(۱)

رسول الله ﷺ فرمايي چې: کله يو ستاسو د جمعې مونځ وکړو نو ددې څخه وروسته دې څلور رکعته (سنت) وکړي.

۵- عَنْ قَتَادَةَ رحمه الله، أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، وَبَعْدَهَا أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ(۲)

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به د جمعې دفرضو څخه مخکې اووروسته څلور څلور رکعته (سنت) کول او په يو روايت کې شپږ رکعته راغلي دي. (۳)

٦- عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ(۴)

سالم رحمه الله د خپل پار عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ به د جمعې د مانځه څخه وروسته دوه رکعته (سنت) کول. د اتم نمبر، نهم، لسم، يوولسم، دولسم، ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم نمبر احاديثو څخه معلوميږي چې نبي عليه السلام دا دوه رکعته د هغه څلورو رکعتونو سره کول کوم چې د نبي عليه السلام معمول وو.

۱-[مسلم ج۱/ ص۲۸۸].

۲-[مصنف عبدالرزاق ج۳/ ص۲٤۷، ترمذی باب الصلوة قبل الجمعة وبعدها].

۳-[مجمع الزوايد ج۱/ ص۱۹۵].

٤-[بخاری ج۱/ ص۱۲۸، مسلم ج۱/ ص۲۸۸].

۷- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ (۱)

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې: رسول الله ﷺ به د جمعې د مانځه څخه وروسته دوه رکعته په کور کې کول.

۸- عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ رحمة الله عليه قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَأْمُرُنَا أَنْ نُصَلِّيَ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا، حَتّٰى جَآءَنَا عَلِيٌّ رضي الله عنه فَأَمَرَنَا أَنْ نُصَلِّيَ بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَرْبَعًا. (۲)

حضرت ابوعبدالرحمن السلمی رحمة الله عليه فرمايي چې: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مونږ ته حکم کولو چې د جمعې د فرضو څخه مخکې څلور رکعته کوئ او وروسته هم څلور رکعته کوئ تردې چې حضرت علی رضي الله عنه راغلو نو هغه مونږ ته حکم وکړو چې د فرضو څخه وروسته اول دوه او بيا څلور رکعته کوئ.

۹- عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رحمة الله عليه، قَالَ: «كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُعَلِّمُنَا أَنْ نُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ بَعْدَ الْجُمُعَةِ» حَتّٰى سَمِعْنَا قَوْلَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: «صَلُّوا سِتًّا»، قَالَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رحمة الله عليه: «فَنَحْنُ نُصَلِّي سِتًّا»، قَالَ عَطَاءٌ رحمة الله عليه: «أَبُو عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رحمة الله عليه يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَرْبَعًا». (۳)

حضرت ابو عبدالرحمن السلمی رحمة الله عليه فرمايي چې: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به مونږ ته رابنودل چې د جمعې د مانځه څخه وروسته څلور رکعته رابنودل

۱-[ابوداؤد ج/۱ ص۱۶۱، نسائی ج/۱ ص۲۱۰ باب صلوة الامام بعد الجمعة].

۲-[مصنف عبدالرزاق ج/۳ ص۲۴۷].

۳- [معجم طبرانی ج/۹ ۳۱۰، مصنف ابن ابی شیبة ج/۲ ص۱۳۲، مجمع الزوايد باب فی سنة الجمعة].

تر دې چې مونږ د حضرت علی رضي الله عنه خبره واوريدله چې شپږ رکعته کوئ،
ابو عبدالرحمن فرمايي چې: بيا مونږ شپږ رکعته کول حضرت عطاء رحمه الله
فرمايي چې: حضرت ابو عبدالرحمن به د جمعې د فرضو څخه وروسته اول دوه
رکعته او بيا څلور رکعته کول.

۱۰- عن أبي عبدالرحمن رحمه الله عن علي رضي الله عنه أنه قال: "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا"(۱)

حضرت ابو عبدالرحمن السلمی رحمه الله د حضرت علی رضي الله عنه څخه روايت
کوي چې حضرت علی رضي الله عنه فرمايل چې: څوک چې د جمعې د مانځه څخه
وروسته مونځ کوي نو شپږ رکعته دې وکړي.

۱۱- قال الامام الترمذی رحمه الله: وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا. وَرُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ: أَمَرَ أَنْ يُصَلَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَرْبَعًا. [ترمذی ج۱/ ص۱۱۷]. امام ترمذی رحمه الله فرمايي چې: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی
چې د جمعې د مانځه څخه مخکې او وروسته دې څلور څلور رکعته (سنت) وکړی شي
او د حضرت علی بن ابی طالب رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه رضي الله عنه به د جمعې د فرضو
څخه وروسته اول د دوو دوه او بيا د څلورو رکعتو سنتو امر کولو.

۱۲- عن جبلة بن سحيم رحمه الله عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما «أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ سِتَّ رَكَعَاتٍ». (۲)

۱-[طحاوی ج۱/ ص۲۳۳].

۲- [مصنف ابن ابی شيبة ج۲/ ص۱۳۲].

حضرت ابو بکر رحمه الله بن ابی موسی رضي الله عنه د خپل پلار حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روایت کوي چې ده به د جمعې د مانځه څخه وروسته شپږ رکعته (سنت) کول.

۱۴- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ رحمه الله، عَنْ مَسْرُوقٍ رحمه الله، قَالَ: «كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ سِتًّا، رَكْعَتَيْنِ، وَأَرْبَعًا» (۱)

حضرت محمد بن المنتشر رحمه الله د حضرت مسروق رحمه الله څخه روایت کوي چې ده به د جمعې د مانځه څخه وروسته شپږ رکعته سنت کول، اول دوه او بیا څلور رکعته.

فان قيل: دا شپږ رکعته به په کوم ترتیب سره اداء کیږي ؟

قلنا: امام ابو یوسف رحمه الله او امام طحاوی رحمه الله فرمایي چې: د فرضو څخه وروسته اول څلور رکعته سنت کول او بیا د وه رکعته سنت کول بهتر دي.

امام طحاوی رحمه الله فرمایي چې: فَثَبَتَ بِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ التَّطَوُّعَ الَّذِي لَا يَنْبَغِي تَرْكُهُ بَعْدَ الْجُمُعَةِ سِتٌّ ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُبْدَأَ بِالْأَرْبَعِ ثُمَّ يُثَنَّى بِالرَّكْعَتَيْنِ لِأَنَّهُ هُوَ أَبْعَدُ مِنْ أَنْ يَكُونَ قَدْ صَلَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ مِثْلَهَا عَلَى مَا قَدْ نُهِيَ عَنْهُ .

بیا امام طحاوی رحمه الله په خپل سند باندې نقل کوي چې: «أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ بَعْدَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ مِثْلَهَا» قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ رحمه الله: فَلِذَلِكَ اسْتَحَبَّ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَنْ يُقَدِّمَ الْأَرْبَعَ قَبْلَ الرَّكْعَتَيْنِ لِأَنَّهُنَّ لَسْنَ مِثْلَ الرَّكْعَتَيْنِ فَكُرِهَ أَنْ يُقَدَّمَ الرَّكْعَتَانِ لِأَنَّهُمَا مِثْلُ الْجُمُعَةِ. (۲)

۱- . [مصنف بن ابی شیبة ج۲/ ص۱۳۲]

۲-[شرح معاني الآثار ج۱/ص۱٦٦، باب التطوع بعد الجمعة كيف هو؟].

او حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه فرمايي چې: اول دوه رکعته او بيا څلور رکعته کول بهتر دي او ددې تائيد د حضرت علي رضي الله عنه او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د مخکنيو اثارو څخه کيږي.

د جنازې د لمانځه حکم، دجنازې لمونځ فرض کفائي دی

الله جل جلاله دجنازې دلمونځ حکم کړی دی فرمائي :(وَصَلِّ عَلَيْهِمْ) الاية. ددوي دجنازې لمونځ اداکړه.

ددې څخه يې فرض والی ثابتيږي، لکن کله کله به داسې کيدله چې جنازه به حاضره شوه او په مړي به قرض وو او ويا به بله څه وجه وه نو رسول الله ﷺ به صحابه ووته وفرمايل چې تاسو يې جنازه وکړئ او خپله به په کې نه شريکيدلو ، ددې څخه معلوميږي چې دجنازې لمونځ فرض عين نه دی کنه رسول الله ﷺ به هيڅکله نه وه پريښی له دی وجهې اهل سنت والجماعت دجنازې لمونځ ته فرض کفايي وايي.

دجنازې د لمانځه طريقه

١ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ: «إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ. (١)

دحضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې کله مو په مړي باندې لمونځ کولو نو په اخلاص ورته دعا وکړئ. صاحب دمرقات ليکلي دي چې په دې حديث کې ددعا څخه هغه دعا مراد ده چې دجنازې دلمانځه په داخل کې ددريم او دڅلورم تکبير په مينځ کې لوستلی شي. (٢)

١- (رواه ابوداود ، ج ٢ ص ١٠٠)وصححه ابن حبان /. بلوغ المرام ص ١٠٧ /مشكوة ص ١٤٦ طبع نورمحمددهلي)
٢-(مرقات ج٤/ ص ٥٩) (فتاوى سعديه عين الهدايه)

۲- حضرت فضاله بن عبید رضی الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې:

إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلْيَبْدَأْ بِتَمْجِيدِ رَبِّهِ جَلَّ وَعَزَّ، وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ، ثُمَّ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ يَدْعُو بَعْدُ بِمَا شَاءَ. (۱)

کله چې لمونځ وکړلو یوستاسو، نو اول دې د الله جل جلاله صفت او ثنایان کړي، بیا دې په رسول الله ﷺ درود ووائي بیا دې وغواړي د الله جل جلاله څخه چې د څه شي اراده یې وي.

۳- حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي چې ما لمونځ کولو، رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه هم موجود وو (کله چې زه د تشهد لپاره کیناستلم)

بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ، ثُمَّ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي.

ما اول د الله جل جلاله ثنایان کړه، بیا مې په رسول الله ﷺ باندې درود شریف وویلو بیا مې د خپل ځان لپاره دعا وکړه نو رسول الله ﷺ و فرمایل غواړه ستا دعا قبلیږي، غواړه ستا دعا قبلیږي (ترمذی). د دې احادیثو څخه معلومیږي چې د دعا د قبولیت لپاره سنت طریقه دا ده چې اول ثناء وي بیا درود وي او بیا دعا وي.

د جنازې لمونځ هم چونکه دعا ده نو د دې ترتیب هم همدا سې پکار دی، تر څو یې چې الله جل جلاله قبوله کړي.

۱-(ابوداودشریف. ج ۱ ص ۱۷۸ ترمذی نسائي، بیهقی، حاکم احمد ابوداود مترجم ج ۱ص۵۵۲).

۴- حضرت ابو سعید مقبری رَحِمَهُ اللّٰهُ د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې تاسو د جنازې لمونځ په کومه طريقه باندې کوئ؟ نو هغه ورته وفرمايل چې زه په جنازې پسې شاته ځم بیا چې کله جنازه کيښودل شي:

كَبَّرْتُ، وَحَمِدْتُ اللّٰهَ. وَصَلَّيْتُ عَلَى نَبِيِّهِ». ثُمَّ أَقُولُ: «اللَّهُمَّ. (١) .

زه اول الله اکبر وایم بیا د الله تعالی ثناء وایم، بیا په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود شریف وایم، بیا د مړي لپاره دعا غواړم.

۵- عَنِ الشَّعْبِيِّ رحمة الله عليه، قَالَ: «فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى يُبْدَأُ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ، وَالثَّانِيَةُ صَلَاةٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالثَّالِثَةُ دُعَاءٌ لِلْمَيِّتِ، وَالرَّابِعَةُ لِلتَّسْلِيمِ. (٢)

امام شعبي رحمه الله فرمائي چې په جنازه کې د اول تکبیر څخه وروسته ثناء ده، د دوهم تکبیر څخه وروسته درود دی د دریم تکبیر څخه وروسته د مړي لپاره دعا ده او د څلورم تکبیر څخه وروسته سلام دی.

۶- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ إِيَاسٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، وَعَنْ أَبِي الْحُصَيْنِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ، قَالَا: «لَيْسَ فِي الْجِنَازَةِ قِرَاءَةٌ (٣)

ابراهيم نخعي او شعبي رحمهما الله فرمايي چې په جناز کې قراءة نشته.

۷- عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ أَنَّهُ كَانَ «لَا يَقْرَأُ عَلَى الْمَيِّتِ (٤)

محمد ابن سيرين رَحِمَهُ اللّٰهُ به په جنازه کې قراءت نه کولو.

١- (موطاامام مالک، ص٧٩)

٢- [ابن ابی شیبه، ج ٣ص ٢٩٥ وعبدالرزاق ج ٣ص ٤٩١].

٣- (مصنف ابن ابی شیبه، ج ٣صـ ٢٩٩)

٤- (مصنف ابن ابی شیبه، ج ٣صـ ٢٩٨، مصنف عبدالرزاق، ج ٣صـ ٤٩١)

۸ـ عَنْ حَجَّاجٍ رحمه الله عليه، قَالَ: سَأَلْتُ عَطَاءً رحمه الله عليه عَنِ الْقِرَاءَةِ عَلَى الْجِنَازَةِ فَقَالَ: «مَا سَمِعْنَا بِهَذَا. (۱)

عطاء ابن ابی رباح رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ما په جنازه کې قراءت نه دی اوریدلی.

۹ - عَنْ نَافِعٍ رحمة الله تعالى عليه أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما كَانَ لَا يَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجِنَازَةِ (۲)

حضرت نافع رحمه الله فرمايي چې حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به د جنازې په لمانځه کې قران (فاتحه) نه لوستلو.

۱۰- حضرت سالم رحمه الله چې د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ځوی دی او د فقهاء وسبعه وو څخه دی او فتوی يې چليدله، فرمايي (لا قــراءة علي الجنــازة) (۳) د جنازې په لمونځ کې قراءت (فاتحه) نشته او د حضرت سالم رحمه الله څخه وروسته په مدينه منوره کې صرف او صرف د امام مالک رحمه الله فتوى چلېدله هغه فرمايي (قراءة الفاتحة ليس معمولا بهـافي بلدنـا في صـلواة الجنـازة) د جنازې په لمونځ کې د فاتحې په لوستلو باندې زمونږ په ښار کې عمل نشته. (۴)

۱۱- د بخاري شريف شارح ابن بطال فرمايي چې کوم صحابه وو رضي الله عنهم د جنازې په لمونځ کې د فاتحې د لوستلو څخه انکار کولو، په هغوی کې حضرت عمر رضي الله عنه حضرت علی رضي الله عنه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او حضرت ابو هريرة رضي الله عنه په خاص طور باندې د ذکر قابل دی. (۵)

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وصحبه اجمعين

العبد الاحقر

رحيم الله الحقاني الافغاني

۱-(مصنف ابن ابی شيبه، ج۳ صـ ۲۹۹)


۲-(موطا امام مالک ص ۲۱۰)


۳-(مصنف ابن ابي شيبه ج ۳ صـ ۲۹۹)

٤-(مجموعة الرسايل ج۱ ص ۲۳۷ بحواله عمدة القاري شرح بخاري)

۵- (مجموعة الرسايل لمولانا صفدر اکاڑوي ج ۱ ص ۲۳۷).

فهرست











الناشر

اَهلِ السُّنَّةِ وَالجُمَاعَةِ العَالَمِی

ندیم ٹریڈ سنٹر محله جنگي قصه خواني بازار پشاور

مسئول: مولوی هدایت الله بدر

0348-4319541

Designing: Al Rayyan Printers 091-2590909